
د نوح بېړی




کشتی نوح
دعوۃ الایمان
تقویۃ الایمان
۵-اکتوبر سنہ ۱۹۰۲ء

په سبزاشتهار کې دغه الهام خپور شوی دی

دغه د خدای وحي ده چې په قرآني آیتونو کې پر ما نازله شوه

ژباړه: زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ په حکم سره بېړۍ جوړه کړه کوم خلک چې ستا بیعت کوي هغه د خدای بیعت کوي دا د خدای لاس دی چې د هغوی پر لاسونو باندې دی

د آسماني ستنې رساله چې د طاعون په هکله د خپل جماعت لپاره تیاره کړای شوه

د دې نوم دی د

نوح بېړۍ

له دې طاعون څخه د نړۍ زړه دوه ټوټې شوی دی؛ دا یوازې طاعون نه دی بلکې یو ستر طوفان دی. راشه، زمونږ د بېړۍ لور ته بیړه وکړه، ځکه دا بېړۍ د هغه علیم رب لخوا ده.

او دوهم نوم یې دی

دعوت الایمان

او دریم نوم یې

تقویة الایمان

ژباړه: که چېرې تاسې ایمان هم راوړئ او شکرګزار هم جوړ شئ د ژغورنې لپاره خدای خپله زریعه وټاکله نو بیا خدای ته څه اړتیا ده چې تاسې ته عذاب درکړي؟

د دې نوح په بېړۍ کې سپاره شئ د خدای په نوم د هغې تلل او درېدل دي نن د خدای څخه پرته د هغه د تقدیر څخه هېڅوک نه شي ژغورلی که هغه رحم وکړي نو وبه یې کړي.

۵ د اکتوبر ۱۹۰۲ء

د قادیان په مقام د حکیم فضل دین صاحب بهیروي په اهتمام سره د ضیاء الاسلام په مطبعه کې چاپ او د خپل جماعت او د حق د طالبانو د لارښوونې او تعلیم لپاره خپره شوه

شمېر ۵۰۰۰ ټوک

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

سریزه

الله تعالی د حضرت مسیح موعود علیه السلام مرزا غلام احمد قادیاني، د احمدیه عالیه سلسلې د بنسټ ایښودونکي، د ربښتینولی د ثبوت لپاره چې کوم بې شمیره نښې څرګندې کړې، په هغو کې یوه نښه په هند کې د طاعون (وبا) د تباهۍ په وخت کې د هغه د ریښتیني اطاعت او پیروی کوونکو د جماعت د غړو له دې تباهۍ او مړینې څخه د خوندي ساتلو نښه هم ده.حضور فرمایي: " له نن څخه یوه موده وړاندې، هغه خدای چې د ځمکې او آسمان خدای دی، د چا له علم او تصرف څخه چې هیڅ شی بهر نه دي، په ما یې وحي نازله کړې ده چې زه به هر هغه کس د طاعون له مړینې وژغورم چې د دې کور په څلورو دیوالونو کې وي، په دې شرط چې هغه له خپلو ټولو مخالفانه ارادو لاس واخلي او په پوره اخلاص، اطاعت او عاجزۍ سره د بیعت په سلسله کې داخل شي او د خدای د احکامو او د هغه د مامور په وړاندې په هیڅ ډول سرکښه، مغرور، غافل او په ځان غره نه وي او عملي حالت یې د تعلیم مطابق وي. او هغه ما ته په خطاب کې دا هم فرمایلي چې په عمومي توګه به په قادیان کې سخت ویجاړونکی طاعون نه راځي چې خلک پکې د سپیو په څېر مړه شي او له غمه او سرګردانۍ له امله د لېونو په شان شي، او په عمومي توګه به د دې جماعت ټول خلک، که هر څومره وي، د مخالفینو په پرتله له طاعون څخه خوندي وي. مګر هغه خلک له دوی څخه چې په خپلو ژمنو پوره نه وي ولاړ او یا د هغوی په اړه بله کومه پټه وجه وي چې د خدای په علم کې وي، په هغوی طاعون راتلای شي، مګر په پای کې به خلک په حیرانتیا اعتراف وکړي چې نسبتاً او د پرتلې په ډول د خدای ملاتړ له دې قوم سره دی او هغه له ځانګړي رحمت څخه دا خلک داسې ژغورلي چې ساری نه لري."
(کشتي نوح، روحاني خزائن ۱۹ ټوک، ۲ پاڼه)

حضور علیه السلام له تباهۍ او هلاکت څخه د ژغورلو لپاره د نوح د کښتۍ په توګه خپل ښوونه هم په دې کتاب کې بیان فرمایلې ده. ځکه چې نړۍ یو ځل بیا د هلاکت په غاړه ولاړه ده او د نوح د دې کښتۍ د هغه وخت په څېر، په اوسني وخت کې هم ډېره زیاته اړتیا ده، له همدې امله سیدنا حضرت مرزا مسرور احمد صاحب خلیفة المسیح الخامس ایده الله تعالی بنصره العزیز جماعت ته د دې کتاب د بار بار لوستلو او پر هغه د عمل کولو ټینګار کړی دی. په همدې موخه دا کتاب خپرېږي د روحاني خزائن د ۱۹ ټوک په پیل کې د "کشتي نوح" د پیژندنې په توګه کوم یادښت چې د حضرت مولانا جلال الدین شمس رضی الله عنه له خوا ورکړل شوی و، هغه هم د لوستونکو د فایدې لپاره لاندې وړاندې کېږي. الله تعالی دې مورږ تل په خپل حفظ او امان کې وساتي او د تقوا په نازکو لارو د تګ توفیق راکړي. آمین.

خاکسار

منیر الدین شمس

ایډیشنل وکیل التصنیف

جنوري ۲۰۱۷ء

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

پېژندنه (تعارف)

(د حضرت مولانا جلال الدین صاحب شمس لخوا)

دا د روحاني خزائن نولسم ټوک دی چې د حضرت مسیح موعود علیه الصلوٰة والسلام د لاندې کتابونو او رسالو درلودونکی دی کشتي نوح، تحفة الندوه، اعجازِ احمدی، د مولوی ابو سعید محمد حسین صاحب بټالوي او مولوي عبدالله صاحب چکړالوي ترمنځ په مناظره باندې د مسیح موعود حَکَم رباني تبصره، مواهب الرحمن، نسیمِ دعوت او سناتن دهرم.

کشتي نوح د ۱۹۰۲م کال د اکتوبر په ۵ نېټه خپره شوه. د دې دویم نوم دعوة الایمان او درېیم نوم تقویة الایمان دی، او له دې سره اړوند په سرپاڼې دا هم لیکل شوي دي: " د آسماني ستنې رساله چې د طاعون په هکله د خپل جماعت لپاره چمتو شوه." او لاندې دوه شعرونه هم لیکل شوي دي:

جهان را دل ازین طاعون دو نیم است

نه این طاعون که طوفانِ عظیم است

بیا بشتاب سوی کشتیِ ما

که این کشتی ازان ربِّ علیم است

(ژباړه: له دې طاعون څخه د نړۍ زړه دوه ټوټې شوی دی؛ دا یوازې طاعون نه دی بلکې یو ستر طوفان دی. راشه، زموږ د بېړۍ لور ته بیړه وکړه، ځکه دا بېړۍ د هغه علیم رب لخوا ده.)

د لیکلو لامل:

د ۱۸۹۸ م کال د فروري په ٦ نېټه حضرت مسیح موعود علیه السلام فرمایي: "ما په خوب کې ولیدل چې د خدای تعالی فرښتې د پنجاب په بېلابېلو سیمو کې تور رنګه بوټې لګوي، او هغه خورا بدرنګه، تور رنګه او وېروونکي ټیټ قد لرونکې ونې دي. ما له ځینو لګوونکو څخه وپوښتل چې دا څرنګه ونې دي؟ نو هغوی ځواب راکړ چې دا د طاعون ونې دي چې په لنډ وخت کې به په هېواد کې خپور شي. په ما دا خبره مشتبهه پاتې شوه چې هغه وویل دا ناروغي به په راتلونکي ژمي کې ډېره خپره شي یا له هغه څخه وروسته ژمي کې، مګر هغه ډېره وېروونکې بېلګه وه چې ما ولیده." او ویې فرمایل: " له دې وړاندې ماته د طاعون په اړه الهام هم وشو، او هغه دا دی:

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ . إِنَّهُ آوَى الْقَرْيَةَ

(تذکره، ۲٦۱ مخ، څلورم چاپ)

د دې وړاندوینې مطابق په پنجاب کې طاعون خپور شو، او د ۱۹۰۲م کال د اکتوبر په میاشت کې چې کله طاعون خورا په زور کې و، حکومت په پنجاب کې د طاعون د واکسین پلان په پراخه کچه پیل کړ او د تقریر او تحریر له لارې یې دا تبلیغ وکړ چې د هر کس لپاره واکسین لګول اړین دي. مګر حضرت

مسیح موعود علیہ الصلوٰۃ والسلام د واکسین لګولو څخه انکار وکړ او د ۱۹۰۲م کال د اکتوبر په ۵ نېټه یې د "کشتیِ نوح" کتاب خپور کړ، چې په هغه کې حضور علیه السلام د حکومت لخوا د واکسین د انتظام ستاینه وکړه او ویې فرمایل:

"دا هغه کار دی چې په مننديی سره د هغه هرکلی کول د پوهو اتباعو فرض دی."

او د خپل ځان او خپل جماعت په اړه یې وفرمایل: " که زموږ لپاره یو آسماني مخنیوی نه وای، نو موږ به تر ټولو ویرانديِ واکسین لګولی وای. او اسماني مخنیوی دا دی چې خدای غوښتي دي چې په دې زمانه کې انسانانو ته د اسماني رحمت نښه وښیي. نو هغه زه مخاطب کړم او ویې فرمایل: چې ته او هر هغه څوک چې ستا د کور د څلورو دېوالونو دننه وي، او هغه څوک چې په پوره پیروی، اطاعت او ریښتیني تقوا سره په تا کې فنا شي، هغه ټول به له طاعون څخه وژغورل شي؛ او په دې وروستیو ورځو کې به دا د خدای یوه نښه وي ترڅو د قومونو ترمنځ توپیر وښیي. مګر هغه څوک چې په بشپړ ډول پیروي نه کوي، هغه له تا څخه نه دی، د هغه لپاره مه خفه کیږه، دا الهي حکم دی له همدې امله موږ ته د خپل ځان لپاره او د هغو ټولو لپاره چې زموږ د کور په څلورو دېوالونو کې اوسیږي د واکسین هېڅ اړتیا نشته..... تر پایه.

(وګورئ کشتي نوح، روحاني خزائن، ۱۹ ټوک، ۲ او ٤ مخونه)

او ویې فرمایل: " که دا پوښتنه وشي چې هغه تعلیم څه دی چې بشپړ مراعات یې سږی د طاعون له حملې څخه ژغورلی شي، نو زه په لنډ ډول په څو کرښو کې لاندې لیکم." (کشتي نوح، روحاني خزائن، ۱۹ ټوک، ۱۰ مخ)

له دې ویرانديِ حضرت اقدس علیہ الصلوٰۃ والسلام هغه تعلیم لیکلی دی، او هغه دومره پاک او غوره تعلیم دی چې که زموږ د جماعت ټول غړي په هغه باندې که څنګه یې چې حق دی عمل وکړي، نو د هغوی ببلګه په نړۍ کې یو ستر روحاني انقلاب رامنځته کولی شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

د ژباړونکي سريزه (پيش لفظ)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وړاندويني مطابق د کوم مسيح او مهدي چې امت مسلمه انتظار کولو هغه راغی، خو افسوس چې ملايانو د هغه د منلو په ځای انکار وکړ، او د درواغو او غلطو تورونو په زريعې يې خلک د هغه د منلو څخه منع کړل ځکه چې د هر نبي مخالفت ضرور کيږي. مخالفين تل له درواغو کار اخلي. پښتون قام په ځانګړې توګه افغان ملت د ريښتيا وو څخه ليرې ساتل شوی او د جماعت احمديه په اړه ډير غلط عقايد او خبرې ورته ويل شوي، د دې کتاب د په لوستلو سره به حقايقو څخه خبرشي. هيله کيږي چې ان شاء الله د ريښتينولې په قبلولو کې به د دغه کتاب پښتو ژباړه ګټوره ثابته شي.

د دغه کتاب ژباړه که څه هم ۲۰۱٤ ميلادي کال کې خاکسار په افغانستان کې د خدمت پرمهال کړې وه خو د حالاتو له امله وځنډېده اوس الله تعالى توفيق راکړ چې خدمت ته وړاندې شي الله تعالى د خلکو لپاره د هدايت وسيله وګرځوي آمين . د کمپيوټر چوپړتياوو کې مکرم غيور احمد صاحب ، سيد سجيل احمد صاحب ، سيد ولى الله صاحب د دعا وړ دي ، همدا رنګه د بيا کتنې په برخه کې د حضور انور د منظورې مطابق مکرم سيد تمثيل احمد، سيد عمران احمد، سيد سجيل احمد،سمير احمد، شکران شمس او علي احمد صاحب د جامعه انټرنيشنل غانا د شپږم کال افغان محصلين په ځانګړې توګه د دعا مستحق دي.

الله تعالى دې دا خدمت مقبول وفرمايي او د الله د بندګانو په ځانګړې توګه زمونږ د خلکو د هدايت زريعه وګرځوي آمين او زمونږ لپاره او زما د مور او پلار او هغو افغان صحابه وو لپاره د چا په برکت چې مونږ ته د الله تعالى دغه لوی نعمت را په برخه شو د دايمي اجر زريعه وګرځوې آمين.

والسلام

خاکسار سيدنعمت الله طائر د احمديه مسلمه جماعت مبلغ غانا ۲۰۲٦

يَدُاللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا، إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ

ژباړه: زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ په حکم سره بېړۍ جوړه کړه کوم خلک چې ستا بیعت کوي هغه د خدای بیعت کوي دا د خدای لاس دی چې د هغوی پر لاسونو باندې دی

کشتي نوح

(دنوح بېړۍ)

كشتي نوح رساله

تقوية الايمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ

نَحْمَدُهُ وَ نُصَلِّي عَلٰى رَسُولِهِ الْكَرِيْمْ

د طاعون ستنه (واکسين)

قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَاۚ هُوَمَوْلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ. (سورة التوبة آيت:٥١)

ژباړه: مونږ ته هېڅکله کوم مصيبت نشي رسيدلی پرته له هغه مصيبته، کوم چې خدای زمونږ لپاره ليکلی دی، هماغه زمونږ کار جوړونکی او مولا دی او مومنانو ته پکاردي چې يواځې پرهغه باور ولري.

د شکر ځای دی، چې د انګرېزعاليه دولت پر خپل رعيت رحم وکړ او د دوهم ځل لپاره يې د طاعون څخه د خوندیتوب واکسين تجويز کړ او د خدای د بندګانو د ښېګڼې لپاره يې د سلګونو زرو روپو بوج پرخپل سر واخيست. په حقيقت کې دا هغه کار دی، چې د کوم په شکرګذاری سره هرکلی کول دپوهو وګړو دنده ده او سخت نادان او دخپل ځان دښمن دی هغه څوک چې د واکسين په اړه بدګماني وکړي، ځکه چې په ځلونو تجربه شوې ده چې دغه احتياط کوونکی دولت په کومه خطرناکه درملنه تر هغه عمل او کار نه کول غواړي، بلکه تر ډېرو تجربو وروسته چې په ريښتيا سره تدبير ګټور ثابتيږي هماغه وړاندې کوي. نو دغه خبره د وړتيا او انسانيت څخه لېرې ده چې د کومې ريښتينې خيرخواهۍ لپاره په لکونو روپۍ حکومت لګوي او لګولي يې دي د هغه دا ستاينه وشي چې د دولت په دې سرخورۍ اود پيسو په لګښت کې خپله کومه ځانګړې موخه ده. هغه وګړي بد بخته دي چې په بد ګمانۍ کې تر دې حده ورسي. د شک خبره نه ده چې تر دې وخته پورې چې کوم تدبيرونه د اسبابو په دنيا کې دغه حکومت ته په لاس ورغلي، هغه له لوی څخه لوی اعلی څخه اعلی همدا تدبير دی چې واکسين وشي.

د دي څخه په هيڅ ډول انکار نشي کيدای چې دغه تدبير ګټور موندل شوی او د اسبابو په نظرکې نيولو پابندي کول د ټول رعيت دنده ده چې پردې باندې عمل کولو سره هغه غم چې د حکومت سره د دوی د ځانونو لپاره دی د هغه د اوږو څخه دا بار واخلي. ليکن مونږ په ډېر ادب سره د دی محسن دولت په خدمت کې عرض کوو، چې که مونږ ته يو آسمانی خندې نه وای، نو د وګړو څخه به تر ټولو وړاندې مونږ واکسين کړی وای او آسماني خندې دا دی، چې خدای غوښتي دي چې په دې زمانه کې د انسانانو لپاره د يو آسماني رحمت نشان وښيي. نو هغه زه مخاطب کړم او ويې فرمايل چې ته او کوم څوک چې ستا د کور په څلورو ديوالونو کې د ننه وي هغه چې بشپړه پيروی ، اطاعت او په ريښتيني تقوا سره په تا کې محو شي هغه به ټول د طاعون څخه وژغورل شي. او په دغو آخري ورځو کې به د خدای دغه نشان وي ترڅو هغه په قومونو کې توپير وښيي. ليکن هغه چې په بشپړه توګه پيروي نه کوي هغه ستا څخه نه دي. د هغوی لپاره مه خفه کيږه. دغه الهي حکم دی، د کوم له امله چې مونږ ته د خپل ځان او هغه ټولو کوم چې زمونږ د کور په څلورو ديوالونو کې اوسيږي د واکسين کومه اړتيا نشته، ځکه لکه څرنګه چې همدا اوس ما بيان کړی، چې د نن څخه يوه موده وړاندې هغه خدای چې د ځمکې او د آسمان خدای دی د کوم د علم او تصرف څخه چې هيڅ شی د باندې نه دي. هغه پر ما وحي نازله کړه چې زه به هر هغه څوک د طاعون له مرګه ساتم، کوم چې د دې کور په څلورو ديوالونو کې وي. په دې شرط سره چې هغه د خپلو ټولو مخالفانه ارادو څخه لاس اخيستلو، په بشپړ اخلاص، اطاعت او عاجزۍ سره د بيعت په لړۍ کې داخل شي. او د خدای د احکامو او د هغه د مامور په وړاندې هيڅ ډول متکبر، سرکښ، غافل، خپل سری او خود پسنده نه وي اوعملي حالت يې د ښوونې مطابق وي. او هغه زه مخاطب کړم او داسې يې وفرمايل چې عموماً به په قاديان کې سخت تباهي کوونکی طاعون نه راځي د کوم څخه چې خلک د سپو په شان مړه او د غم او سرګردانۍ له امله ليونی شي او عموماً د دې جماعت ټول خلک هغه که هر څومره وي د مخالفينو په پرتله د طاعون څخه خوندي پاتي شي. مګر داسې خلک د هغوی څخه چې پر خپلې ژمنې په پوره ډول ولاړ نه دي يا د هغوی په اړه کومه پټه وجه وي چې د الله په علم کې وي، پر هغوی طاعون راتلای شي. ليکن آخر به خلک د تعجب په نظر سره اقرار وکړي چې نسبتاً او د پرتلې په ډول د خدای ملاتړ د دې خلکو سره دی. او هغه په خپل ځانګړي رحمت سره دغه خلک داسې وساتل د کوم چې ښکګه نشته. پر دې خبرې به ځينې ناپوهه حيران شي او ځينې به وخاندي او ځينې به ما ليونی وګڼي او ځينې به په حيرانتيا شي چې آيا داسې خدای هم شته چې پرته د اسبابو په پام کې نيولو هم رحمت نازلولی شي؟ د دې ځواب همدا دی، چې هو پرته له شکه داسې قادر خدای موجود دی او که هغه داسی نه وی نو د هغه سره تعلق لرونکي به ژوندي مړه شوي وای. هغه عجيب قادر دی او د هغه پاک قدرتونه عجيب دي يو خوا نادان مخالفين پر خپلو دوستانو د سپو په شان مسلط کوي اوبل خوا فرشتو ته حکم ورکوي چې د هغوی خدمت وکړئ.

همدارنګه، کله چې په دنيا باندې د هغه قهرغالب وي او د هغه قهر پر ظالمانو باندې جوش وهي نو د هغه سترګه، دهغه د ځانګړو خلکو ساتنه کوي. که داسې نه وای، نو د ريښتينو کارخانه به له مينځه تللې وای او هيڅا به هغوی نه شول پيژندلی. د هغه قدرتونه بې شمېره دي، مګر د يقين په اندازه پر خلکو ښکاره کيږي. چا ته چې يقين، محبت او د هغه لور ته انقطاع عطا کړل شوې ده او د نفساني عادتونو څخه ويستل شوي، د همغو لپاره خارق عادت قدرتونه ښکاره کيږي. خدای چې څه غواړي کوي يې، ليکن د معجزانه قدرتونو د ښودلو دهمغو لپاره اراده کوي کوم چې خپل عادتونه د هغه لپاره له منځه وړي. په دې زمانه کې داسې خلک ډېر کم دي، کوم چې هغه پېژني او د هغه په عجيبه قدرتونو ايمان

لري. بلکه داسې خلک ډېر دي، کومو چې هېڅکله په هغه قادر خدای ایمان نشته د کوم آواز چې هر څه اوري، د کوم په وړاندې چې هېڅ خبره ناشونې نه ده. دلته باید یاد وساتل شي چې په طاعون یا نورو ناروغیو کې درملنه کول کومه ګناه نه ده، بلکه په یو حدیث کې راغلي چې داسې هېڅ ناروغي نشته د کومې لپاره چې خدای درمل نه وي پیدا کړي. لیکن زه دغه خبره ګناه ګڼم، چې د خدای دغه نشان د واکسین په ذریعې مشتبه کړم، کوم نشان چې هغه زمونږ لپاره په ځمکه کې په ښکاره توګه ښکاره کول غواړي او زه دهغه ربښتینی نشان او ربښتینې وعدې د بې عزتۍ کولو سره د واکسین لورته رجوع کول نه غواړم. او که زه داسې وکړم نو دغه ګناه به زما د سزا وړ وي، چې ما د خدای پر هغه وعده ایمان رانه وړ، کومه چې ما سره وشوه. او که داسې وي، نو بیا زه خو باید د هغه طبیب مننوی شم کوم چې دغه واکسین را وایست نه د خدای مننوی، چا چې ماته وعده راکړه، چې هر یو چې د دې څلورو دیوالونو د ننه دی زه به هغه وژغورم. زه د بصیرت له لارې وایم چې د هغه قادر خدای وعدې ربښتیني دي او زه راتلونکې ورځې داسې وینم، لکه چې راغلي وي او زه په دې هم پوهیږم، چې زمونږ دعالیه حکومت اصلي موخه دا ده، چې په یو ډول خلک د طاعون څخه خلاصون بیا مومي. او که په راتلونکي کې حکومت ته کوم وخت د طاعون څخه د ژغورنې لپاره د واکسین څخه غوره تدبیر لاس ته ورشي، نو هغه به دا په خوښۍ ومني. په دې صورت کې ښکاره ده چې دغه لار، په کومه چې خدای زه روان کړی یم د دې عالیه حکومت د موخو خلاف نه ده او د نن څخه شل ۲۰ کاله وړاندې د دې عظیمې بلا طاعون په اړه زما کتاب براهین احمدیه کې دا خبر د وړاندوینې په توګه موجود دی او د دې سلسلې لپاره د ځانګړو برکتونو وعده هم موجوده ده. وګورئ براهین احمدیه پانه ۵۱۸ او ۵۱۹ بیا پرته له دې څخه دا په ډېر زور سره د خدای له لوري پېشګویي ده، چې خدای به زما د کور د احاطې د ننه مخلصو خلکو ته، کوم چې د خدای په وړاندې او د هغه د مأمور په وړاندې تکبر نه کوي د طاعون د بلا څخه نجات ورکړي. نسبتاً او د پرتلې په توګه به په دې سلسلې باندې د هغه ځانګړی فضل اوسي، که څه هم د کوم چا د ایماني قوت کمزورتیا او یا د عمل د نیمګړتیا او یا د ټاکلي اجل او یا کومې بلې وجې له امله، کومه چې د خدای په علم کې وي د شاذ او نادر په توګه په دې جماعت کې هم کومه واقعه وشي، نو شاذ او نادر د معدوم حکم لري. تل د پرتلې په وخت کې ډېرښت لیدل کیږي لکه څرنګه چې حکومت خپله هم د تجربې په کولو سره معلومه کړي ده چې د طاعون واکسین کوونکي د نورو په پرتله ډېر لږ مري. نو لکه څرنګه چې د شاذ او نادرمرګ د واکسین ارزښت نشي کمولای همدارنګه په دې نشان کې که د پرتلې په ډول په ډېره کمه درجه د طاعون حادثې وشي یا په قادیان کې د شاذ او نادر په توګه د دې جماعت څخه کوم یو شخص د دې ناروغۍ څخه مړ شي، نو د دې نشان مرتبه به نه کمیږي. هغه الفاظ چې د خدای د کلام څخه ظاهریږي د هغوی د پا بندۍ څخه دغه وړاندوینه لیکل شوې ده. د هوښیار کار نه دی، چې له وړاندې په آسماني خبرو خندا وکړي دا د خدای کلام دی نه د کوم نجومي خبرې. دا د رنډا د سترګې څخه دي نه د تیارو د اټکل څخه. دا دهغه کلام دی، چا چې طاعون نازل کړ، او څوک چې هغه لېرې کولی شي. زمونږ حکومت به پرته له شکه هغه وخت د دې پېشګویی قدر وکړي، کله چې وګوري، چې دا څه حیرانوونکی کار وشو، چې د واکسین کوونکو په نسبت دا خلک په خوندیتوب او روغتیا کې پاتې شول، او زه ربښتیا، ربښتیا وایم که چېرې د دې پېشګویی مطابق چې په اصل کې د شلو(۲۰)، دوه ویشتو (۲۲) کالونو را په دې خوا مشهورتیا مومي ښکاره نه شوه نو زه د خدای له لوري نه یم. زما د الله له لوري کیدو به دا نشان وي، چې زما د کور د څلورو دیوالونو د ننه اوسیدونکي مخلص خلک به د دې ناروغۍ د مرګ څخه خوندي پاتې کیږي، او

زما ټوله سلسله نسبتاً او د پرتلي په ډول به د طاعون د حملي څخه خوندي پاتې شي. او هغه روغتيا چې په هغوی کې وي د هغې بېلګه به په هېڅ ډله کې شتون ونلري، او قادیان کې د طاعون ډاروونکی آفت چې تباه کړي به رانشي پرته له شاذ او نادر څخه کاش که چیرته دغه خلک د زړونو نېغ وای! او د خدای څخه ډاریدلی، نو بالکل به ژغورل شوي وای. ځکه چې د مذهب د اختلاف له امله په دنیا کې پر چا عذاب نه نازلیږي د هغه مؤاخذه به په قیامت کې وي. په دنیا کې یواځې د شر، تکبر او د ګناه د زیاتوالي له امله عذاب راځي، او دا هم باید په یاد وساتل شي چې په قرآن شریف کې بلکه د تورات په ځینو صحیفو*[1] کې هم دا خبر موجود دی، چې د مسیح موعود په وخت کې به طاعون راځي، بلکه د حضرت عیسٰی علیه السلام هم په انجیل کې دا خبر ورکړی او ممکن نه دی چې د نبیانو وړاندوینې سرته ونه رسیږي او همدارنګه دا هم یاد ساتل پکار دي چې مونږ ته د دې الهي وعدې په وړاندې د دې لپاره د انساني تدبیرونو څخه پرهیز کول لازم دی، چې تر څو الٰهي نشان کوم دښمن بل لورته منسوب نکړي. مګر که د دې سره که چېرې خدای تعالٰی د خپل کلام په ذریعې خپله کوم تدبیر را وښیي یا کوم درمل راته ووایي، نو داسې تدبیر یا درمل په دې نشان کې څه خنډ اچوونکی نه وي، ځکه چې هغه، د هغه خدای له اړخه ده د کوم له اړخه چې هغه نشان دی. چا ته دا وهم ونه درېږي چې، که چیرته د شاذ او نادر په توګه زمونږ د جماعت څخه د طاعون په ذریعه کوم څوک وفات شي، نو د نشان په ارزښت او مرتبه کې به کوم کمښت راشي. ځکه چې په پخوا زمانو کې موسٰی علیه السلام او یشوع او په آخر کې زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم ته حکم شوی و چې کومو خلکو چې توره پورته کړه او د سلګونو انسانانو وینې یې تویې کړې، هغه دې هم په توره ووژل شي او دا د نبیانو له لوري یو نشان و د کوم وروسته چې عظیمه فتحه وشوه. په داسې حال کې چې د مجرمینو په مقابل کې د حق پیروان هم د هغوی په تورو باندې وژل کېدل، مګر ډېر لږ او په دومره نقصان سره په نشان کې توپیر نه راتلو. نو که همدا شان د شاذ او نادر په توګه زمونږ د جماعت څخه هم ځینو ته د ذکر شوو اسبابو له کبله طاعون وشي، نو داسې طاعون به په الهي نشان کې خلل اچوونکی نه وي. آیا دا یو عظیم الشان نشان نه دی؟ چې زه بیا بیا وایم چې خدای تعالٰی به دغه وړاندوینه په داسې توګه ښکاره کړي، چې هر یو د حق غوښتونکي ته به کوم شک پاتې نه شي او هغه به پوه شي چې د معجزې په توګه خدای تعالٰی د دې جماعت سره سلوک کړی، بلکې د الهي نشان په ډول به پایله دا وي، چې د طاعون په ذریعې به دغه جماعت زیاتیږي او غیر معمولي پرمختګ به کوي او د دې دغه پرمختګ به په تعجب سره ولیدل شي او مخالفین چې په هره موقعې یې ماتې خوړلې، لکه څرنګه چې د نزول المسیح په کتاب کې ما لیکلي دي که چېرې د دې وړاندوینې مطابق خدای تعالٰی د دې جماعت او نورو جماعتونو په مینځ کې څه توپیر ونه ښودلو، نو د هغو به حق وي چې زما تکذیب وکړي. تر اوسه پورې چې دوی کوم تکذیب کړئ په هغې کې خو یواځې دوی یو لعنت اخیستی دی د بېلګې په توګه په ځلونو ځلونو یې شور جوړ کړ چې آتهم په پنځلس میاشتو کې د ننه مړ نه شو، حال دا چې وړاندوینې په ښکاره الفاظو کې دا ویلي وو چې که هغه د حق لورته رجوع وکړي نو په پنځلسو میاشتو کې به نه مړ کیږي. نو هغه عین د مباحثې په جلسه کې د اویا (۷۰) پتمنو خلکو په وړاندې د حضور صلی الله علیه وسلم ته د دجال ویلو

---

[1] * (د مسیح موعود په وخت کې د طاعون راتلل په دی کتابونو کې موجود دي: ذکریا ۱٤/۱۲ ، انجیل متی ۲٤/۸ ، مکاشفات ۲۲/۸)

حاشیه

څخه رجوع وکړه او نه يواځي دا، بلکه هغه تر پنځلس ميا شتو پوري خپلې چوپتيا او وېرې سره خپله رجوع ثابته کړه. او د وړاندويني بنسټ همدا و چې هغه حضور صلی الله عليه و سلم ته دجال ويلي وو له همدې امله هغه د رجوع څخه يواځي همدومره ګټه پورته کړه چې پنځلس ميا شتو څخه وروسته مړ شو، مګر مړشو، دا د دې لپاره وشول چې په وړاندويني کې دا بيان و چې د دواړو خواوو څخه چې کوم شخص د خپلې عقيدې له مخې دروغجن دی هغه به وړاندې مري، نو هغه زما څخه وړاندې مړ شو. همدارنګه هغه د غيب خبرې چې خدای ماته کړي دي او بيا هغه په خپل وخت پوره شوي دي هغه د لسو زرو څخه کمې نه دي، مګرد نزول المسيح په کتاب کې، چې کومې چاپيريې د بېلګې په توګه يواځي يو نيم سل د هغوی څخه د ثبوت او د ګواهانو سره ليکل شوي دي. او کومه داسې وړاندوينه زما نشته چې پوره شوې نه وي، يا د هغې د دوو برخو څخه يوه برخه پوره شوي نه وي. که چېرې څوک په لټون کولو کولو، مړهم شي نو کومه داسې وړاندوينه چې زما د خولې وتلې وي هغه ته لاسته ورنشي، د کومې په اړه چې هغه وويلی شي چې خالي لاړه، ليکن په بې شرمۍ او بې خبرۍ سره چې څه غواړي ودې وايي. او زه په دعوا سره وايم چې په زرګونو زما داسې بنکاره، بنکاره وړاندويني دي چې په بنکاره ډول سره پوره شوي د کومو چې په سلونو زره خلک ګواه دي د هغوی بېلګه که په تيرو نبيانو کې ولټول شي نو يواځي د حضور صلی الله عليه وسلم څخه په کوم بل ځای کې نه ترلاسه کېږي که زما مخالفينو په همدې لار پرېکړه کړې وای نو له کله راهيسې به د دوی سترګې پرانيستل شوې وای،او زه دوی ته يو ډېرزيات انعام ورکولو ته تيار وم که هغوی په دنيا کې همدومره مثال د همدی وړاندوينو، وړاندې کولی شوای. يواځي د شرارت له امله يا د ناپوهۍ نه دا ويل چې وړاندوينه پوره نه شوه مونږ به پرته له دې څه ووايو چې داسې خبرې د بد ګومانۍ او خباثت لورته منسوب کړو که چېرې په کومه ټولګه کې د همدې تحقيق لپاره يې خبرې کړې وای، نو هغوی به د خپلو خبرو څخه رجوع کولو ته اړشوي وای او بې حيا به ورته ويل کيدل. د زرګونو وړاندوينو هو به هو سرته رسېدل او د هغو په پوره کيدو زرګونو ګواهان ژوندي شتون دا کومه وړه خبره نه ده، ګواکې د خدای عزوجل بنودل دي. آيا په کومه زمانه کې پرته د نبوی صلی الله عليه وسلم زماني څخه چا ليدلي دي چې زرګونو وړاندويني بيان شوي دي او بيا هغه ټولې د رنا ورځې په شان پوره شوي هم دي او په زرګونو خلکو د هغو د پوره کيدو ګواهي ورکړه.

زه په يقين سره پوهيږم چې په دې زمانه کې، څرنګه چې خدای تعالٰی نړۍ کيدو سره ظاهريږي او په سلګونو د غيب امور په خپل بنده باندې بنکاره کوي، د دې زماني په تېرو زمانو کې ډېره لږه بېلګه ترلاسه کيږي. خلک به ډېر ژر وګوري چې په دې زمانه کې به د الله تعالٰی مخ بنکاره شي ګواکې هغه به د آسمان څخه رابنکته شي هغه تر ډېره وخته خپل ځان پټ وساته او سرغړونه وکړل شوه او هغه غلی پاتې شو، ليکن اوس به هغه پټ نکړي او دنيا به د هغه د قدرت هغه بېلګې وويني چې کله د هغوی پلار نيکه هم نه وي ليدلي. دا به د دې لپاره کيږي چې ځمکه بې لارې شوه او د آسمانونو او ځمکې پر پيداکوونکي د خلکو ايمان پاتې نه شو په شوندو د هغه ذکر دی، خو زړونه د هغه څخه ګرځېدلي دي. له همدې امله خدای وويل چې اوس به زه نوې ځمکه او نوی آسمان جوړ کړم. د دې مطلب همدا دی چې ځمکه مړه شوه يعنې د ځمکنې خلکو زړونه سخت شول ګواکې مړه شول، ځکه چې د خدای مخ د هغوی څخه پټ شو او تېر آسماني نشانونه د کيسو په څېر شول، نو خدای اراده وکړه چې هغه نوې ځمکه او نوی آسمان جوړ کړي. هغه نوی آسمان څه دی؟ او نوې ځمکه څه ده؟ نوې ځمکه هغه پاک زړونه دي کوم چې خدای په خپل لاس سره تياروي، کوم چې د خدای څخه ظاهر او خدای به د دوی

څخه ښکاره شي. او نوی آسمان هغه نښانونه دي، چې د هغه د بنده له لاسه د هماغه په اذن سره ښکاره کيږي، مګر افسوس چې دنيا د خدای دې نوې تجلۍ سره دښمني وکړه. د هغوی په لاس کې د کيسو پرته هېڅ هم نشته او د هغوی خدای د هغوی خپل خيالات دي زړونه يې کاږه دي او همتونه يې سترې دي او په سترګو يې پردې دي، نورو قومونو خو خپله، ربښتونی خدای د لاسه ورکړی، د هغوی به څه يادونه وي، چا چې د انسانانو اولادونه خدای وګرځول. د مسلمانانو حال وګورئ چې هغوی څومره د هغه څخه لېرې شوي دي. د ربښتينولۍ پاخه دښمنان دي د نېغې لارې د ځاني دښمن په شان مخالف دي د بېلګې په ډول **ندوة العلماء** چې د اسلام لپاره کومې دعوې کړې او يا د **انجمن حمايت اسلام لاهور،** چې د اسلام په نوم د مسلمانانو مالونه اخلي آيا **دغه خلک د اسلام خير غوښتونکي دي؟ آيا دغه خلک د صراط مستقيم ملاتړ کوي؟** آيا دوی ته ياد دي چې اسلام څرنګه د کومو کړاوونو لاندې وځپل شو او د بيا تازه کولو لپاره د خدای عادت څه دی؟ زه ريښتيا، ريښتيا وايم که زه نه وای راغلی نو د هغوی د اسلامي ملاتړ دعوې تر څه اندازې د منلو وړ ګرځيدای شوې، ليکن اوس دغه خلک د خدای د تور لاندې دي چې د ملاتړ دعوای کولو سره کله چې د آسمان څخه ستوری وخوت، نو د ټولو څخه وړاندې يې منکر شول. اوس به هغوی، هغه خدای ته څه ځواب ورکوي، چا چې په ټاکلي مهال زه راولېږلم، مګر هغوی خو هېڅ پروا نه لري. لمر غرمې ته نږدې شوی ولې د هغوی په اند اوس هم شپه ده، د خدای چينه روانه شوه مګر هغوی اوس هم په دښته کې ژاړي، د هغه د آسماني علومو يو درياب روان دی، ليکن دغه خلک هېڅ خبر نه دي. د هغه نښانونه ظاهريږي ليکن دغه خلک بالکل غافل دي او نه يواځې غافل بلکه د خدای د سلسلې سره دښمني لري، نو همدا حمايت اسلام، ترويج اسلام او تعليم اسلام دی؟ چې د دوی له لاسه کيږي. مګر آيا دغه خلک به د خپل مخ اړولو نه د خدای ريښتينې اراده تم کړي؟ په کومې چې د پيل څخه ټولو نبيانو ګواهي ورکړې، نه بلکه د خدای دغه وړاندوينه ډېر ژر ريښتيا کېدونکي ده چې كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ط (المجادله: ٢٢) خدای لکه څرنګه چې د نن څخه لس کاله وړاندې د خپل بنده د تصديق لپاره په آسمان کې په روژې (مياشت) کې سپوږمۍ او لمر په تندرونيول، او د ورځې رنا کوونکي او د شپې رنا کوونکي يې زما لپاره ګواه ګرځولو سره دوه نشانونه ظاهر وفرمايل، همدارنګه هغه د نبيانو د وړاندوينو موافق په ځمکه يې هم دوه نشانونه ظاهر کړل، يو هغه نشان د کوم نوم چې تاسې په قرآن کريم کې لولئ وَإِذَا ٱلْعِشَارُ عُطِّلَتْ ص (التکوير:٥) او په حديث کې يې لولئ وليترکن القلاص فلا يسعى عليها، د کومې د پوره کيدلو لپاره چې د حجاز په خاوره يعنې مدينې او مکې په لاره اورګاډی هم په چمتو کيدو دی.

دوهم نشان د طاعون لکه څرنګه چې خدای تعالٰی وفرمايل: وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا (بنی اسرائيل ٥٩) (هېڅ يو داسې کلی نشته مګر دا چې مونږ به يې د قيامت له ورځې مخکې له منځه يوسو، يا به يې په ډېر سخت عذاب اخته کړو). نو خدای په هېواد کې اورګاډی هم جاري کړ او طاعون يې هم وليږلو تر څو ځمکه هم ګواه وي او آسمان هم. نو د خدای سره جګړه مه کوئ د خدای سره جنګ کول ناپوهي ده. د دې څخه وړاندې کله چې خدای آدم خليفه ګرځول وغوښتل، نو فرشتو منع کړ، مګر خدای د هغوی په خبره منع شو؟ اوس خدای د دوهم آدم د پيدا کولو په وخت وفرمايل: أَرَدْتُ اَنْ اسْتَخْلِفَ فَخَلَقْتُ ادَمَ يعنې ما اراده وکړه چې خليفه جوړ کړم نو ما دغه آدم پيدا کړ، نو اوس ووايئ چې آيا تاسو د خدای اراده درولی شئ؟ نو تاسې ولې د شکمنو خبرو خس و خاشاک وړاندې کوئ او د يقين لاره نه نيسئ، په امتحان کې مه غورځئ يقيناً په ياد وساتئ چې د خدای د ارادې دروونکی هېڅوک نشته دغه ډول جګړې د تقوا لار نه ده هو که شک وي نو دغه لار کيدای شي، لکه

څرنګه چې ما د خدای څخه الهام ترلاسه کړ د یوې ډلې انسانانو لپاره چې زما په خبره عمل کوونکي دي د طاعون د عذاب څخه د ساتلو زیرې ترلاسه کړی دی او هغه مې خپور کړی همدارنګه که دخپل قوم ښېګڼه ستاسو په زړونو کې شته نو تاسوهم د خپلو هم مذهبو لپاره د خدای تعالٰی څخه د نجات زیرې ترلاسه کړئ، چې هغوی به د طاعون څخه خوندي پاتې کیږي او دغه زیرې زما په شان د چاپ شوي اعلانونو په ذریعې خپور کړئ ترڅو خلک پوه شي چې خدای له تاسو سره دی بلکه دغه موقع د عیسایانو لپاره هم ډېره ښه ده هغوی تل وایی چې نجات د مسیح څخه دی نو اوس د هغوی هم فرض دی چې دوی د مصیبت په ورځو کې عیسایانو ته د طاعون څخه ژغورنه ورکړي. په دې فرقو کې د چا چې زیاتې (دعا) واوریدل شوې هماغه منل شوی دی. اوس، نو خدای تعالٰی هر یو ته موقع ورکړي چې خامخا پر ځمکه دې مباحثې نه کوي خپل قبولیت د لا زیات وښایي ترڅو د طاعون څخه هم وساتل شي او د هغوی صداقت هم ښکاره شي. په ځانګړي توګه پادري صاحبان کوم، چې په دنیا او آخرت کې یې هم، مسیح ابن مریم ژغورونکی ګرځولی هغوی که د زړه له کومې ابن مریم د دنیا او آخرت مالک ګڼي، نو اوس د عیسایانو حق دی چې د دوی د کفارې څخه د نجات بېلګه وګوري په دې ډول عالیه حکومت ته هم ډېره آسانتیا کیدای شي چې د برطانوي هند مختلفې فرقې چې د خپل، خپل مذهب په صداقت باور لري د خپلې ډلې د خلاصون لپاره او د طاعون څخه د ژغورنې لپاره د دې انتظام وکړي چې د خپل هغه خدای څخه دې پر کوم چې دوی ایمان لري یا د خپل کوم بل معبود څخه کوم چې دوی د خدای په ځای ګڼلی دی د دې مصیبت ځپلو شفاعت وکړي. او د هغه څخه د کومې پخې وعدې په اخېستلو سره د اعلانونو په ذریعې دې خپور کړي لکه څرنګه چې مونږ دغه اعلان خپور کړی. په دې کې خو سر ترسره د مخلوق ښېګڼه او دخپل مذهب د صداقت ثبوت دی همدارنګه د حکومت مرسته ده. حکومت پرته له دې څه غواړي چې د هغه وګړي د طاعون د بلا څخه وژغورل شي، که هغه هر ډول وژغورل شي. په پایله کې دې یاد وي چې مونږ په دې اعلان کې خپل جماعت کوم چې د پنجاب په مختلفو برخو او هندوستان کې خپور دی د واکسین د لګولو څخه نه منع کوو، د کومو خلکو په اړه چې د حکومت قطعي حکم وي هغه د واکسین هرومرو وکړي او د حکومت د حکم اطاعت کول پکار دي. او کوم څوک چې خپلې رضامندۍ ته پرېښودل شوي دي که هغوی په دې تعلیم باندې پوره قائم نه دي کوم چې دوی ته ورکړل شوی دی، نو هغوی ته هم دغه واکسین کول مناسب دي تر څو هغوی تیندک ونه خوري تر څو هغوی د خپل خراب حالت له امله د خدای د وعدې په اړه خلکو ته دوکه ورنکړي او که دا سوال وي چې هغه تعلیم څه دی په کوم چې پوره عمل کول د طاعون د حملې څخه ساتلی شي نو زه په لنډه توګه څو کرښې لاندې لیکم.

تعلیم (ښوونه)

ښکاره د وي چې یواځې په ژبه د بیعت اقرار کول هېڅ شی نه دی، تر څو چې د زړه د ارادې څخه پر هغه بشپړ، بشپړ عمل نه وي، نو کوم څوک چې زما پر تعلیم بشپړعمل کوي هغه زما په دې کور کې داخلیږي د کوم په اړه چې د خدای تعالٰی په کلام کې دغه وعده ده **انی احافظ کل من فی الدار**، یعنې هر یو چې ستا د کور په څلورو دیوالونو کې د ننه دی زه به هغه وساتم، په دې ځای کې دا نه دي ګڼل پکار، چې هماغه خلک زما د کور د ننه دي، کوم چې زما د خاورې او خښتو په کور کې اوسیږي، بلکه هغه خلک هم کوم چې زما بشپړه پیروي کوي زما په روحاني کور کې داخل دي. د پیروۍ کولو

لپاره دا خبرې دي، چې هغوی يقين وکړي، چې د هغوی يو قادر، قيوم او خالق الکل خدای دی، کوم چې په خپلو صفاتو کې ازلي، ابدي او نه بدليدونکی دی. نه هغه د چا زوی، نه څوک د هغه زوی دی هغه د تکليف ګاللو، په صليب باندې د ختلو او مړ کېدو څخه پاک دی. هغه داسې دی، چې سره د لېرې والي نږدې دی او سره د نږدې والي هغه لېرې دی او سره د يووالي د هغه تجليات جلا، جلا دي. د انسان له لوري، چې کله يوه نوی بدلون ښکاره شي، نو د هغه لپاره هغه يو نوی خدای ګرځي او د يوې نوې تجلۍ سره د هغه سره معامله کوي او انسان د خپلې تبديلی په اندازه په خدای کې هم بدلون وينې، مګر دا نه چې په خدای کې کوم بدلون راځي بلکه هغه د ازل څخه نه بدليدونکی او بشپړ کمال لري. ليکن د انساني بدلونونو په وخت کې کله چې د نېکۍ لورته انساني بدلونونه وي، نو خدای هم د يوې تجلۍ سره پر هغه ظاهريږي او د هر پرمختللي حالت په وخت، کوم چې له انسان څخه څرګنديږي د خدای تعالٰی قادرانه تجلي هم د پرمختګ سره ظاهريږي. هغه خارق عادت قدرت په هغه ځای کې ښکاره کوي، چيرته چې خارق عادت بدلون ظاهريږي. د خوارقو او معجزو همدا ربښه دی.

دا خدای دی، چې زمونږ د سلسلې شرط دی. پر هغه ايمان راوړئ او پرخپل نفس، آرامتياوو او په ټولو اړيکو باندې هغه مقدم کړئ او په عملي توګه په زړورتيا سره د هغه په لاره کې صدق او وفا وښيئ. نړۍ پر خپلو اسبابو او عزيزانو هغه مقدم نه ګڼي، مګر تاسو هغه مقدم کړئ ترڅو تاسو په آسمان کې د هغه جماعت وليکل شئ. د رحمت نښان ښودل د پخوا څخه د خدای عادت دی. مګر تاسو په هغه حالت کې د دې عادت څخه برخه اخېستی شئ، چې په تاسو او هغه کې هېڅ بېلتون پاتې نه شي او ستاسو خوښه د هغه خوښه او ستاسو هيلې د هغه هيلې شي. او ستاسو سر هر يو وخت او په هر يو حالت د موخې ترلاسه کولو او نه ترلاسه کولو کې د هغه په دربار کې ټيټ وي. ترڅو چې څه غواړي، نو ودې کړي. که تاسو داسې وکړل، نو په تاسو کې به هغه خدای ښکاره شي، کوم چې د يوې مودې څخه خپل مخ پټ کړی و. آيا په تاسو کې څوک شته چې پر دې عمل وکړي او د هغه د رضا غوښتونکی شي؟ او د هغه په قضا او قدر خفه نشي؟ نو تاسې د مصيبت په ليدلو سره نور هم ګام وړاندې کيږدئ، چې دا ستاسو د پرمختګ ذريعه ده. او د هغه د توحيد په ځمکه کې د خپرولو لپاره د خپل ټول توان سره زيار وباسئ او د هغه په بنده ګانو رحم وکړئ او پر هغوی په ژبه يا لاس باندې يا کوم بل تدبير سره ظلم مه کوئ او د مخلوق د ښېګڼې لپاره کوښښ کوئ او پر چا تکبر مه کوئ. که هغه د خپل لاس لاندې هم وي، او چا ته ښکنځل مه کوئ که هغه ښکنځل هم کوي. غريب، حليم، نيک نيت او د مخلوق خواخوږي وګرځئ، ترڅو د منلو وړ وګرځئ. ډېر دي، چې نرمي ښکاره کوي، خو د ننه څخه ليوان دي. ډېر دي، چې د پاسه څخه پاک دي مګر د ننه څخه ماران دي. نو تاسو د هغه په حضور کې نشی قبليدلای ترڅو ظاهر او باطن يو نشي. د لوی والي سره پر وړو رحم وکړئ نه د هغوی سپکاوی او د عالم کيدو سره سره ناپوهانو ته نصيحت وکړئ نه په ځان ښودلو سره د هغوی تذليل. او د شتمنۍ با وجود دغريبانو خدمت وکړئ نه په غرور سره پرهغوی تکبر. د هلاکت له لارو وډار شئ. د خدای څخه په وېره کې اوسئ، تقوا غوره کړئ، د مخلوق عبادت مه کوئ، د خپل مولٰی لور ته منقطع شئ، د دنيا څخه زړه توري اوسئ، د هماغه شئ او د هغه لپاره ژوند تېر کړئ. د هغه لپاره د هرې ناپاکۍ او ګناه څخه کرکه وکړئ، ځکه چې هغه پاک دی پکار دي چې هر سهار ستاسو لپاره ګواهي ورکړي چې تاسو په تقوا سره شپه تېره کړه او هر مابنام ستاسو لپاره ګواهي ورکړي، چې تاسو په ډار، ډار ورځ تېره کړه. د دنيا د لعنتونو څخه مه ويريږئ چې هغه د لوګي په شان په کتو،کتو ورکېږي او هغه د ورځې څخه شپه نشي جوړولی، بلکه تاسو د خدای د لعنت څخه وډار شئ، کوم چې د آسمان څخه

نازليږي او پر چا چې پريوځي، نو د هغه په دواړو جهانونو کې بيخ او باسي. تاسو په ريا کارۍ سره خپل ځانونه نشی ژغورلای ځکه چې هغه خدای، چې ستاسو خدای دی د هغه د انسان د تل پورې نظر دی. آيا تاسو هغه ته دوکه ورکولای شی، نو تاسې نيغ شئ، صفا شئ، پاک شئ او سم شئ. که چېرې تاسو کې يوه زره هم تياره پاتې وي هغه به ستاسو ټوله رڼا لېرې کړي او که ستاسو په کوم اړخ کې تکبر دی يا ريا ده يا غرور دی يا سستي ده نو تاسو داسې شی نه ياست چې د منلو وړ وی. داسې نه وي، چې تاسې ځو خبرو سره خپل ځان ته دوکه ورکړئ، چې څه چې مونږ کول ومو کړل ځکه چې خدای غواړي ستاسو په وجود باندې بشپړ، بشپړ انقلاب راشي او هغه ستاسو څخه يو مرګ غواړي، د کوم څخه وروسته به چې هغه تاسو ژوندي کړي. تاسو په خپل مينځ کې ژر سوله وکړئ او د خپلو ورونو ګناهونه وبخښئ، ځکه چې هغه انسان شرير دی، چې د خپل ورور سره په سولې نه دی خوښ. هغه به پرې کړی شي، ځکه چې هغه تفرقه اچوي تاسو خپل نفسانيت له هر اړخه پريږدئ او خپل مينځي خفګان پريږدئ او د ربښتينوالی با وجود د درواغجن په شان عاجزي غوره کړئ، ترڅو تاسو وبخښل شئ د نفسانيت غټوالی پريږدئ ځکه د کومې دروازې لپاره چې تاسو رابلل شوي ياست د هغې څخه يو غټ انسان نشي داخليدای. ځومره بدمرغه هغه شخص دی چې دغه خبرې نه مني کومې، چې د خدای له خولې راوتلي او ما بيان کړې. که تاسو غواړی چې په آسمان کې له تاسو څخه خدای راضي شي، نو تاسې د يو بل سره داسې يو شئ لکه څرنګه چې د يوې ګډې څخه دوه ورونه. ستاسو څخه زيات بزرګ هماغه دی، چې زيات د خپل ورور ګناهونه بخښي او بد بخت دی هغه چې ضد کوي او نه بخښي، نو د هغه په ما کې برخه نشته. د خدای د لعنت څخه په ډار کې اوسئ چې هغه قدوس او غيور دی. بد کار د خدای قرب نشي ترلاسه کولای. متکبر د هغه قرب نشي حاصلولای. ظالم د هغه قرب نشي ترلاسه کولای. خاين د هغه قرب نشي ترلاسه کولای. او هر يو چې د هغه د نوم لپاره غيرت مند نه دی د هغه قرب نشي ترلاسه کولای. هغه چې پر دنيا باندې د سپو يا مېږيانو او يا کرګسو په شان پرېوځي او د دنيا څخه آرام موندونکي دي هغه د ده نږدېوالی نشي ترلاسه کولای. هره يوه ناپاکه سترګه د هغه څخه لېرې ده هر يو ناپاک زړه د هغه څخه بې خبر دی. هغه چې د ده لپاره په اور کې دی هغه ته به د اور څخه نجات ورکړل شي، هغه چې د ده لپاره ژاړي و به خندول شي، هغه څوک چې د هغه لپاره دنيا سره (اړيکه) پرې کوي هغه ته به، هغه (خدای) ترلاسه شي. تاسو د زړه د صداقت څخه، په پوره صدق سره، د بوختيا د ګام سره د خدای ملګري شئ ترڅو هغه هم ستاسو ملګری شي. تاسو پر(خپلو) د امر لاندې خلکو، خپلو ښځو باندې او خپلو غريبو ورونو باندې رحم وکړئ، ترڅو په آسمان کې پر تاسو رحم وشي. تاسو په ريښتيا سره د هغه شئ ترڅو هغه هم ستاسو شي. دنيا د زرګونو بلاګانو ځای دی، د کومو څخه چې يو طاعون هم دی، نو تاسو خدای ته په صدق سره لاس ورکړئ ترڅو هغه، دا بلاګاني تاسو څخه لېرې وساتي. هېڅ آفت پر ځمکه نه پيدا کيږي، ترڅو چې د آسمان څخه حکم نه وي او هېڅ آفت لېرې کيږي نه، ترڅو چې د آسمان څخه رحم نازل نه شي، نو ستاسو هوښيارتوب په همدې کې دی چې تاسو ريښه کلکه ونيسئ نه ښاخ. تاسو ته د درمل او تدبير مخنيوی نشته، ليکن پر هغوی باندې باور کولو مخنيوی دی او آخر به هماغه کيږي څه چې د خدای اراده وي. که څوک توان ولري نو د توکل مقام د هر يو مقام څخه لوړ دی او ستاسو لپاره يو اړين تعليم دا دی چې قرآن شريف د هېرشوي په شان مه پريږدئ، چې ستاسو په همدې کې ژوند دی. کوم خلک چې قرآن ته عزت ورکړي هغه به آسمان کې عزت تر لاسه کړي. کوم خلک، چې په هر يو حديث او هر يو قول باندې قرآن مقدم کړي هغه به په آسمان کې مقدم کړل شي. د انساني نسل لپاره د ځمکې پر مخ اوس هېڅ کتاب نشته

مګر قرآن. او د ټولو بني آدمو لپاره اوس هېڅ رسول او شفیع نشته، مګر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، نو تاسو کوښښ وکړئ چې هغه د عظمت او جلال د نبي سره ریښتوني مینه ولرئ او د هغه پرته بل چاته پرهغه هېڅ ډول لوی والی مه ورکوئ، ترڅو په آسمان کې تاسې نجات موندونکي ولیکل شئ او په یاد وساتئ، چې نجات هغه شی نه دی چې د مړینې وروسته به ظاهریږي بلکه حقیقي نجات هغه دی چې په همدې دنیا کې خپله رښا ښکاره کوي. نجات موندونکی څوک دی؟ هغه چې یقین ولري چې خدای ریښتیا دی، او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه او د ټول مخلوق ترمینځ منځګړی شفیع دی. د آسمان لاندې نه د ده کوم هم مرتبه رسول شته او نه د قرآن هم مرتبه کوم کتاب شته. اود هیڅا لپاره خدای ونه غوښتل، چې هغه د تل ژوندی وي، مګر دغه غوره شوی نبي د تل لپاره ژوندی دی او د هغه د تل ژوندي پاتې کیدلو لپاره خدای دا بنسټ ایښودلی دی، چې د هغه تشریعي او روحاني فیض یې تر قیامته جاري وساتلو او آخر د هغه د روحاني فیض رسولو څخه دغه مسیح موعود دنیا ته راولیږلو د کوم راتلل، چې د اسلامي ودانۍ د بشپړیدو لپاره اړین و، ځکه اړینه وه چې دا دنیا له مینځه لاړه نشي، تر څو چې د محمدي سلسلې لپاره یو مسیح په روحاني بڼه کې نه وی ورکړل شوی لکه څرنګه چې موسوي سلسلې ته ورکړل شوی و. همدې لورته دغه آیت اشاره کوي: ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ .

موسٰی هغه څه ترلاسه کړل، کوم چې پخوانیو پېړیو له لاسه ورکړي وو او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه څه ترلاسه کړل، کوم چې د موسٰی سلسلې له لاسه ورکړي وو اوس محمدي سلسله د موسوي سلسلې ځای ناستې ده. مګر په شان کې په زرګونودرجې زیاته. د موسٰی مثیل د موسٰی څخه ډېر زیات او مثیل د ابن مریم د ابن مریم څخه ډېرزیات. او هغه مسیح نه یواځې د مودې په لحاظ د حضور صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په څوارلسمه پیړۍ کې ظاهر شو*[۲]

لکه څرنګه چې مسیح ابن مریم د موسٰی څخه وروسته څوارلسمه پیړۍ کې ظاهر شوی و، بلکه هغه په داسې وخت کې راغی، کله چې د مسلمانانو هماغه حال و لکه څرنګه چې د مسیح ابن مریم د ظهور په وخت کې د یهودیانو حال و. نو هماغه زه یم، خدای چې څه غواړي کوي یې. نادان دی هغه چې د هغه (خدای) سره جنګ کوي او ناپوه دی هغه څوک چې د هغه په مقابل کې دغه اعتراض وکړي چې داسې نه، داسې پکار وو. او هغه زه د ځلانده نښانونو سره رالیږلی یم، چې د لسو زرو څخه هم زیات دي. د هغوی څخه یو طاعون نشان هم دی، نو کوم څوک چې ما سره ریښتینی بیعت کوي او د زړه د ریښتینولی څخه زما پیرو جوړیږي او زما په اطاعت کې محوه کیدو سره خپلې ټولې ارادې پریږدي هماغه دی، چې د دې آفتونو په ورځو کې به زما روح د هغه شفاعت وکړي. نو ای ټولو هغو خلکو! څوک چې خپل ځانونه زما جماعت ګڼئ په آسمان کې به تاسو هغه وخت زما جماعت وګڼل شئ کله چې په ریښتیا سره د تقوا په لارو ګام واخلئ، نو خپل پنځه وخته لمونځونه په داسې وبړې او حضور سره ادا کړئ، چې ګواکې تاسو خدای تعالٰی وینئ او خپلې روژې دخدای لپاره په صدق سره پوره کړئ. هر یو، چې د زکات وړ دی هغه د زکات ورکړي او پر هر چا، چې حج فرض شوی او کوم خنډ نشته هغه د حج وکړي. نېکي په ډېره ښه توګه ادا کړئ او بدي په بېزاریدلو سره پریږدئ او یقیناً په یاد

[۲]*(یهودیان د خپل تاریخ له مخې په اتفاق سره همدا مني چې د موسٰی څخه په څوارلسمې[۱۴۰۰] پیړۍ په سر کې عیسٰی ظاهر شوی و . وګورئ د یهودیانو تاریخ - منه

حاشیه

وساتئ، چې هېڅ عمل خدای ته نشي رسیدلای چې د تقوا څخه خالي وي. د هرې نېکۍ ریښه تقوا ده په کوم عمل کې، چې دغه ریښه ضایع نه وي هغه عمل به هم ضایع نه وي. اړینه ده چې د رنځ او مصیبت په ډولونو هم ستاسو آزموینه وشي، لکه څرنګه چې د وړاندېنیو مؤمنانو آزموینې وشوې، نو خبردار اوسئ! داسې نه وي چې تېروتنه وکړئ. ځمکه تاسو ته هېڅ زیان نه شي رسولی، که چېرې ستاسو د آسمان سره پخه اړیکه ده. کله چې هم تاسو خپل زیان کوئ نو په خپلو لاسونو به یې کوئ نه د دښمن په لاس. که چېرې ستاسو ځمکنی عزت ټول له مینځه لاړ شي نو خدای به تاسو ته په آسمان کې یو تلپاتې عزت درکړي، نو تاسو هغه مه پرېږدئ او اړین دی چې تاسوته تکلیف درکړل شي او د خپلو ډېرو هیلو څخه بې برخې کړی شئ، نو د داسې حالتونو څخه تاسې مه غمجن کیږئ، ځکه چې ستاسو خدای تاسو آزمایي، چې تاسې په دې لاره کې ثابت قدم یاست او که نه یاست. که تاسو غواړئ، چې په آسمان کې هم فرشتې ستاسو ستاینه وکړي وهنې وخورئ او خوشحال اوسئ او ښکنځل واورئ، شکر وکړئ او ناکامي وګورئ او پیوند مه ماتوئ تاسو د خدای آخري جماعت یاست، نو هغه نېک عمل وکړئ چې پخپل بشپړتیا کې په آخري درجې باندې وي. هر یو په تاسو کې چې سست شي هغه به د یو خیرن شي په شان د جماعت څخه د باندې وغورځول شي او په نا هیلۍ سره به مړ شي او خدای ته به هېڅ زیان ونشي رسولای. وګورئ زه په ډېرې خوښۍ خبر درکوم، چې ستاسو خدای په حقیقت کې موجود دی که څه هم ټول د هغه مخلوق دی، لیکن هغه، هغه څوک غوره کوي، چې دی غوره کوي د هغه څنګ ته ورځي، څوک چې هغه ته ورځي. څوک چې هغه ته عزت ورکوي هغه هم هغه شخص ته عزت ورکوي.

تاسو خپل زړونه نېغولو سره او د خپلو ژبو او سترګو او غوږونو په پاکولو سره د هغه لورته راشئ، چې هغه به تاسو قبول کړي. د عقیدې له لحاظه چې خدای تاسو څخه څه غواړي هغه دا دي، چې خدای یو او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه نبي دی او هغه خاتم الانبیاء دی او د ټولو څخه لوی او لوړ دی اوس د هغه څخه وروسته هېڅ نبي نشته، مګر هماغه چا ته چې په بروزي توګه د محمدیت څادر وروا‌غوستل شو، ځکه چې خادم د خپل مخدوم څخه جدا نه وي، نه ښاخ د خپل بېخ څخه جدا وي، نو څوک چې په بشپړه توګه په مخدوم کې په فنا کیدو سره د خدای څخه د نبي لقب تر لاسه کوي هغه د ختم نبوت خلل اچوونکی نه دی. لکه څرنګه چې تاسې په هنداره کې خپل شکل وګورئ نو تاسې دوه نشی کېدای، بلکه یو یاست، که څه هم په ظاهره دوه په نظر راځئ یواځې د ظل (سیوري) او اصل توپیر دی. نو همداسې خدای په مسیح موعود کې هم وغوښتل. همدا راز دی، چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمایي: مسیح موعود به زما په قبر کې ښخ شي. یعنې هغه زه یم او په دې کې دوه رنګي رانغله او تاسو په یقین سره پوه شئ چې عیسٰی ابن مریم وفات شوی دی او په کشمیر سرینګر په خانیار [٣]* سیمه کې د هغه قبر دی. خدای تعالٰی په خپل عزتمند کتاب کې د هغه د مړ کېدو خبر ورکړی او که چېرې د دې آیت کومه بله معنا ده، نو د عیسٰی ابن مریم د مرګ قرآن کې چیرته خبر دی؟. د مړینې په اړه چې کوم آیتونه دي که هغه نورې معناوې لري لکه څرنګه چې زمونږ مخالفین یې ګڼي، نو ګواکې قرآن د هغه د مړینې چیرته ذکر نه دی کړی. آیا هغه به کله مري هم کنه؟ خدای زمونږ د نبي د مړینې خبر راکړ، مګر په ټول قرآن کې د عیسٰی د مړینې خبر ورنکړ په دې کې څه راز دی؟ او که ووایئ

[٣]* نوټ: عیسایي څېړونکو دغه رایه څرګنده کړې ده وګورئ سوپر نېچرل ریلیجن کتاب پاڼه ٥٢٤ او که چېرې غواړئ، نو زمونږ کتاب تحفه ګولړویه پاڼه ١٣٩ وګورئ ـ منه

حاشیه

چې د عیسٰی د مړینې په دې آیت کې خبر دی چې فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ [٤] (المائده: ۱۱۸) *[٤] آیت ښکاره دلالت کوي چې هغه د عیسایانو د بې لاریتوب څخه وړاندې مړ شوی دی. مطلب که چېرې د آیت فلما توفیتني دا معنا ده، چې د جسم سره ژوندی عیسٰی آسمان ته پورته کړ نو ولې د داسې کس خدای په ټول قرآن کې د مړینې یادونه ونکړه؟ د چا د ژوند خیال چې په لکونو هلاک کړل، ګواکې خدای هغه تل د دې لپاره ژوندی وساتلو، چې خلک مشرک او بې دینه شي ګویا دا د خلکو غلطي نه، بلکه خدای دا هر څه پخپله وکړل تر څو خلک ګمراه کړي. ښه په یاد وساتئ چې پرته د مسیح د مرګ څخه په صلیبي عقیدې مرګ نه شي راتلای، نو د دې څخه څه فایده چې د قرآن د تعلیم په خلاف هغه ژوندی وګڼل شي. هغه پرېږدئ چې مړ شي، تر څو دا دین ژوندی شي. خدای په خپل قول سره د مسیح مرګ ظاهر کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه هغه په مړو کې ولید اوس یې هم تاسي نه منئ؟ دا څرنګه ایمان دی آیا د انسانانو روایتونه د خدای پر کلام مقدم ګڼئ؟ آیا همدا دین دی؟ *[٥] او زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم نه یواځې ګواهي ورکړه چې ما په مړو روحونو کې عیسٰی ولید، بلکه پخپلې مړینې سره یې دا هم ظاهره کړه، چې د دې څخه وړاندې هېڅوک ژوندی پاتې نشول. نو زمونږ مخالف، لکه څرنګه چې قرآن پرېږدي، همدارنګه سنت هم پرېږدي. ځکه چې مړ کیدل زمونږ د نبي سنت دي که عیسٰی ژوندی وي نو په مړینې کې زمونږ د رسول بې عزتي وه، نو تاسو نه اهل سنت یاست او نه اهل قرآن، ترڅو چې د عیسٰی د مړینې قائل نه شئ. او زه د حضرت عیسٰی علیه السلام د شان منکر نه یم، که څه هم ماته خدای خبر راکړ، چې محمدي مسیح د موسوي مسیح څخه افضل دی، لیکن بیا هم زه د مسیح ابن مریم ډېر عزت کوم؛ ځکه چې زه د روحانیت له مخې په اسلام کې خاتم الخلفآء یم، لکه څرنګه چې مسیح ابن مریم د اسرائیلی سلسلې لپاره خاتم الخلفآء و. د موسٰی په سلسله کې ابن مریم مسیح موعود و او په محمدي سلسله کې زه میسح موعود یم، نو زه د هغه عزت کوم د چا چې هم نام یم او مفسد او مفتري دی هغه شخص، چې ماته وایي زه د مسیح ابن مریم عزت نه کوم بلکه مسیح خو مسیح زه د هغه د ځلورو وروڼو هم عزت کوم *[٦] ځکه چې پنځه واړه د یوې مور زامن دي. نه یواځې دومره، بلکه زه خو د حضرت مسیح دواړه حقیقي خویندې هم سپېڅلي ګڼم. ځکه چې دا ټول بزرګان د مریم بتول د ګېډې څخه دي او دمریمې هغه شان دی چا چې تر یوې مودې

---

[٤] *همدې آیت څخه معلومیږي چې حضرت عیسٰی علیه السلام به بیا نړۍ ته نه راځي، ځکه چې که هغه دنیا ته راتلونکی و په دې حالت کې، نو دغه ځواب د حضرت عیسٰی یوازې دروغ ګرځي چې زه د عیسایانو د ګمراهۍ څخه هېڅ خبر نه یم. کوم څوک چې بیا نړۍ ته راغی او څلوېښت کاله واوسېد او په کرړونو عیسایان یې ولېدل کومو چې هغه خدای ګڼلو او صلیب یې مات کړ او ټول عیسایان یې مسلمان کړل هغه څنګه په قیامت کې د الله په جناب کې دا عذر کولی شي چې زه د عیسایانو د بېلارښتوب څخه خبر نه یم. منه

[٥] *نوټ: (قرآن شریف په یو آیت کې ښکاره د کشمیر طرف ته اشاره کړې ده، چې مسیح او د هغه مور د صلیب د واقعې څخه وروسته د کشمیر په لور لاړل، لکه څرنګه چې فرمایي: وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ (المؤمنون: ۵۱) یعنې مونږ عیسٰی او د هغه مور ته پر یوې داسې غونډۍ ځای ورکړ، چې د آرام ځای و، او پاکې اوبه یعنې د چینو اوبه هلته وې، نو په دې کې خدای تعالٰی د کشمیر نقشه ویستلې ده او د اوای لغت د عربو په قاموس کې د کوم کړاؤ او تکلیف څخه د پناه ورکولو لپاره راځي او د صلیب څخه وړاندې په عیسٰی او د هغه په مور کومه د مصیبت زمانه نه ده تیره شوې چې د هغې څخه پناه ورکړل شوې وای، نو متعینه شوه چې خدای تعالٰی عیسٰی او د هغه مور د صلیب د واقعې څخه وروسته هغې غونډۍ ته رسولي وو. منه

[٦] * د یسوع مسیح څلور وروڼه او دوه خویندې وې. دا ټول د یسوع حقیقي وروڼه او خویندې وو. یعنی ټول د یوسف او مریم اولادونه وو. د څلورو وروڼو نومونه یې دادي: یهودا ، یعقوب ، شمعون ، یوزس او د دوو خویندو نومونه یې دا وو: آسیا ، لیدیا. وګورئ کتاب اپاسټولک ریکارډس مصنفه پادري جان ریلسن ګایلز مطبوعه لندن ۱۸۸۶ء پاڼه ۵۹ او ۱۶۶ ـ منه

حاشیه

پوري خپل ځان د نکاح څخه منع کړ. بیا د قوم بزرګانو په ډیر ټینګارسره د حمل په وجه یې نکاح وکړل شوه او د بتول کېدو عهد یې ولې ناحق مات کړل شو او د ازواجو د تعدد ولې بنسټ کېښودل شو یعني با وجود د یوسف نجار لومړۍ ښځې بیا مریم ولې راضي شوه چې د یوسف نجار په نکاح کې راشي، مګر زه وایم چې دا ټولې مجبورۍ وې چې وړاندې راغلې په دې صورت کې هغه خلک د رحم قابل وو نه د اعتراض. د دې ټولو خبرو وروسته بیا زه وایم، چې دا فکر مه کوئ چې مونږ په ظاهري توګه بیعت کړی دی. ظاهر هېڅ شی نه دی خدای ستاسو زړونه ګوري او د هماغې موافق به تاسو سره معامله وکړي. وګورئ زه د دې په ویلو سره د تبلیغ د فرض څخه خپلې اوږې سپکوم چې ګناه یو زهر دی هغه مه خورئ. د خدای نافرماني یو مردار مرګ دی د هغه څخه ځان وساتئ، دعا وکړئ ترڅو تاسو ته توان ترلاسه شي. کوم شخص، چې د دعا په وخت کې خدای په هره خبره قادر نه ګڼي پرته د وعدې د استثناوو څخه هغه زما د جماعت څخه نه دی. څوک چې درواغ او دوکه نه پریږدي هغه زما د جماعت څخه نه دی. څوک چې د دنیا په حرص کې نښتی دی او د آخرت لور ته سترګو پورته کولو سره هم نه ویني زما د جماعت څخه نه دی. کوم څوک چې په حقیقت کې دین پر دنیا مقدم نه ګڼي هغه زما د جماعت څخه نه دی، هغه څوک چې په بشپړه توګه د هرې یوې بدۍ څخه او هرې بدعملۍ څخه یعني شرابو، قمار بازۍ، بدنظرۍ، د خیانت او رشوت څخه او د هرډو ناجائز تصرف څخه توبه نه کوي هغه زما د جماعت څخه نه دی. کوم څوک چې د پنځه وخته لمانځه پابندي نه کوي هغه زما د جماعت څخه نه دی، کوم څوک چې په دعا کې بوخت نه وي او په عاجزۍ سره خدای نه یادوي هغه زما د جماعت څخه نه دی. کوم شخص چې بد ملګري نه پریږدي چې پرهغه بده اغیزه اچوي هغه زما د جماعت څخه نه دی، کوم شخص چې د مور او پلار عزت نه کوي او په معروفه امورو کې چې د قرآن خلاف نه وي د هغوی خبره نه مني او د هغوی د چوپړ د ژمنې څخه لاپروا دی زما د جماعت څخه نه دی، کوم څوک چې د خپلې ښځې او د هغې د خپلوانو سره د نرمۍ او احسان سره ټولنیز ژوند نه کوي هغه زما د جماعت څخه نه دی، کوم شخص چې خپل ګاونډی د وړوکي، وړوکي خیر څخه هم محروم ساتي هغه زما د جماعت څخه نه دی، کوم شخص چې نه غواړي د خپل قصور وار ګناه معاف کړي او کینه پالونکی سړی دی هغه زما جماعت څخه نه دی، هر یو سړی چې د ښځې یا ښځه له خاوند سره په خیانت سره چلند کوي هغه زما د جماعت څخه نه دی، کوم شخص هغه ژمنه، کومه چې د بیعت په وخت کې کړې وه له هر اړخه ماتوي هغه زما د جماعت څخه نه دی، کوم شخص چې ما په ریښتیا مسیح موعود او مهدي معهود نه ګڼي هغه زما د جماعت څخه نه دی او کوم شخص چې په معروفو امورو کې زما اطاعت ته تیار نه دی هغه زما د جماعت څخه نه دی او کوم شخص چې د مخالفینو په ډله کې کښیني او د هو سره یې هو وایي هغه زما د جماعت څخه نه دی.

هر یو زاني، فاسق، شرابي، قاتل، غل، جوارګر، خائن، رشوت خورونکی، غاصب، ظالم، دروغجن، جعل ګر او د هغو ملګری او پر خپلو ورونو او خویندو باندې تورلګوونکی، چې د خپلو بدو کړنو څخه توبه نکوي او خراب مجلسونه نه پریږدي هغه زما د جماعت څخه نه دی. دا ټول زهرونه دي تاسو د دې زهرو په خوړلو سره په هېڅ ډول نشی ژغورل کیدلای. تیاره او رڼا په یو ځای کې یو ځای کېدلی نشي. هر یو چې پیچلی را پیچلی طبیعت لري او د خدای سره پاک نه دی هغه، هغه برکت هېڅ کله نشي ترلاسه کولی کوم، چې پاک زړو ته ترلاسه کیږي. څومره بختور هغه خلک دي چې خپل زړونه پاکوي او خپل زړونه د هر قسم ککړوالي څخه پاکوي او د خپل خدای سره د وفادارۍ عهد تړي ځکه چې هغه به هېڅکله ضایع نکړل شي ممکنه نه ده چې خدای هغوی رسوا کړي، ځکه چې هغوی د

خداى دي او خداى د دوى، هغوى به د هرې بلا په وخت کې وساتل شي. احمق دى هغه دښمن چې د هغوى قصد وکړي ځکه چې هغوى د خداى په غېږه کې دي او خداى د هغوى په ملاتړ کې. چا پر خداى ايمان راوړ؟ يواځې هغو، چې داسې دي، همدارنګه هغه شخص هم احمق دى، کوم چې د يو بې باک ګناهګار او بد باطن او شريرالنفس په فکر کې دى ځکه چې هغه به خپله هلاک شي، د کله ځخه چې خداى آسمان او ځمکه پيدا کړي، کله هم داسې اتفاق نه دى شوى چې هغه نېکان تباه، هلاک او نېست و نابود کړي وي، بلکه هغه د هغوى لپاره لوى، لوى کارونه ښکاره کوي او اوس به يې هم ښکاره کړي. هغه خداى زيات وفادار خداى دى او د وفادارانو لپاره د هغه عجيب کارونه ښکاره کېږي. دنيا غواړي چې هغوى وخوري او هر يو دښمن پر هغوى غاښونه چيچي، مګر هغه چې د هغوى دوست دى د هر يو هلاکت په ځاى کې دوى ساتي او په هر ميدان کې هغوى ته فتحه وربښي، ځه نېکبخته هغه ځوک دى، چې هغه د خداى لمن پرې نږدي. مونږ پر هغه ايمان راوړ، مونږ هغه وپيژاند د ټولې دنيا هماغه خداى دى، کوم چې پر ما وحي نازله کړه، چا چې زما لپاره زبردست نشانونه وښودل، کوم چې زه د زماني لپاره د مسيح موعود په ګرځولو سره را ولېږلم. د هغه ځخه پرته هېڅ خداى نشته نه په آسمان کې نه په ځمکه کې، کوم ځوک چې پر هغه ايمان نه راوړي هغه د نيکمرغۍ ځخه محروم او ناکامۍ کې اخته دى. مونږ د خپل خداى، د لمر په شان روښانه وحي ترلاسه کړه مونږ هغه وليد چې د دنيا هماغه خداى دى د هغه ځخه پرته هېڅوک نشته ځه قادر او قيوم خداى دى، کوم چې مونږ ترلاسه کړ. ځه د زبردستو قدرتونو ځښتن دى، کوم چې مونږ وليد. ريښتيا خو دادي چې د هغه پر وړاندې هېڅ خبره ناشوني نه ده، مګر هماغه چې د ده د کتاب او د وعدې په خلاف ده، نو کله چې تاسو دعا کوئ د هغو جاهلو طبيعت پرستانو په شان يې مه کوئ، چې د خپل خيال ځخه يې يو د قدرت قانون جوړ کړى، پر کوم چې د خداى د کتاب مهر نشته ځکه چې هغوى مردود دي، د هغوى دعا ګانې به هېڅکله قبولې نشي، هغوى ړانده دي نه بينا، هغوى مړه دي نه ژوندي، د خداى پر وړاندې خپل جوړ کړى قانون وړاندې کوي او د هغه د بې ساري قدرتونو حد ټاکي او هغه کمزورى ګڼي، نو د هغوي سره به همداسې معامله کېږي، لکه ځرنګه چې د دوى حالت دى. ليکن کله چې ته دعا ته ودرېږي نو پرتا لازم دي چې دا يقين ولرې چې ستا خداى په هر ځه قادر دى هلته به ستا دعا قبلېږي. او ته به د خداى د قدرت عجايب وګورې، کوم چې مونږ ليدلي دي او زمونږ ګواهي د ليدلو ځخه ده نه د کېسې په توګه. د هغه شخص دعا به ولې قبلېږي او خپله به ځرنګه د لويو ستونزو په وخت کې چې د ده په اند د قدرت د قانون مخالف دي د دعا کولو حوصله وشي، کوم چې خداى په هر ځه باندې قادر نه ګڼي. مګر اى بختوره انسانه! ته داسې مه کوه ستا خداى هغه دى، چې بې شمېره ستوري يې پرته له ستنو ځوړند کړل او چا چې ځمکه او آسمان يواځې د نېست ځخه پيدا کړل آيا ته پر هغه بد ګوماني لرې چې هغه به ستا په کار کې عاجز راشي؟ *[٧] بلکه ستا بد ګوماني به تا محروم وساتي. زمونږ په خداى کې بې شمېره عجائبات دي، مګر هماغه يې ګوري ځوک چې د صدق او وفا سره د هغه شوي دي. هغه په غيرو

[٧] * (خداى په کوم کار کې عاجز نه راځي هو د خداى کتاب ددعا په اړه دغه قانون وړاندې کړى، چې هغه په ډېر رحم د نيک انسان سره د دوستانو په شان سلوک کوي يعنې کله خو هغه خپله خوښه پرېږدي د هغه دعا قبلوي، لکه ځرنګه يې چې خپله وفرمايل: ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ (المومن: ٦١) او کله، کله خپله رضا وربانده منل غواړي، لکه ځرنګه يې چې وفرمايل: وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ وَٱلْجُوعِ (البقره: ١٥٦) داسې يې د دې لپاره وکړل، چې ترڅو کله د انسان د دعا موافق د هغه سره د معاملې کولو، هغه ته په يقين او معرفت کې پرمختګ ورکړي او کله د خپلې رضا موافق کولو سره د خپلې رضاء خلعت هغه ته وروبخښي او د هغه مرتبه لوړه کړي او د هغه سره مينه وکړي، د هدايت په لارو کې هغه ته پرمختګ ورکړي ـ منه

حاشيه

باندې کوم چې د ده په قدرتونو یقین نلري او د هغه صادق او وفادار نه دي هغه عجائبات نه ظاهروي، څه بدمرغه هغه انسان دی، چا ته چې تر اوسه دا نه ده معلومه چې د هغه یو خدای دی چې هغه په هریو څه قادر دی. زمونږ جنت زمونږ خدای دی، زمونږ اعلی خوندونه زمونږ په خدای کې دي، ځکه چې مونږ هغه ولید او هره یوه ښکلا مو په هغه کې بیا مونده. دغه شتمني د اخښتلو وړ ده که څه هم د ځان په ورکولو ترلاسه شي او دغه لعل د اخښتلو وړ دی، که څه هم د ټول وجود په بایللو ترلاسه شي. ای محرومانو! د دې چینې لورته منډه کړئ چې هغه ستاسو تنده ماته کړي. دا د ژوند چینه ده چې تاسو به وژغوري. زه څه وکړم او په څه ډول دغه زېرې په زړونو کې کښینوم. په کوم دف سره زه په بازارونو کې اعلان وکړم چې ستاسو دغه خدای دی؛ ترڅو یې خلک واوري او په کوم درمل سره زه درملنه وکړم ترڅو د اورېدلو لپاره د خلکو غوږونه خلاص شي. که تاسو د خدای شئ نو یقیناً پوه شئ، چې خدای هم ستاسو دی، تاسو به ویده وی او خدای به ستاسو لپاره ویښ وي، تاسو به د دښمن څخه غافل وی او خدای به هغه ویني او د هغه پلانونه به شنډ کړي تاسو تراوسه نه پوهیږئ چې ستاسو په خدای کې څه، څه قدرتونه شته او که تاسو پوهېدلی نو پر تاسې به هېڅ کومه داسې ورځ نه راتله، چې تاسې به د دنیا لپاره سخت غمجن کیدی، یو شخص چې یوه خزانه د خپل ځان سره لري آیا هغه د یوې پیسې د ضایع کیدو څخه ژاړي او چیغې وهي او هلاک کیږي؟ بیا که تاسو له هغې خزانې خبر وی چې خدای ستاسو د هر حاجت په وخت کې ستاسو په کار راتلونکی دی، نو تاسو به د دنیا لپاره دومره بېخوده کله وای. خدای یوه ډېره ښکلې خزانه ده د هغه قدر وکړئ چې هغه ستاسو په هر ګام کې مدد ګار دی، تاسو پرته د هغه هېڅ هم نه یاست او نه ستاسو اسباب او تدبیرونه څه شی دي. د غیر قومونو تقلید مه کوئ، چې هغه په بشپړه توګه پر اسبابو ورپرېوتلي، او لکه څرنګه چې مار خاوره خوري هغوی هم د سفلي اسبابو خاوره وخوړله او لکه څنګه چې کرګس او سپي مردار خوري، هغوی هم په مردارو غاښونه ووهل. هغوی د خدای څخه ډېر لېرې ولوېدل د انسانانوعبادت یې وکړ او خنزیر یې وخوړ، شراب یې د اوبو په څېر وکارول او د حد څخه زیات پر اسبابو د پرېوتلو او دخدای څخه د قوت نه غوښتلو له امله هغوی مړه شول او آسماني روح د هغوی څخه داسې ووت، لکه څرنګه چې د یوې ځالې څخه کوتره الوځي. په هغوی کې د ننه د دنیا پرستۍ جذام دی کوم چې د هغوی داخلي غړي ټول پرې کړي نو تاسو د هغه جذام څخه وډار شئ. زه تاسو د اعتدال تر حده د اسبابو په نظر کې نیولو څخه نه منع کوم بلکه د دې څخه مو منع کوم چې تاسو د نورو قومونو په شان یواځې د اسبابو بنده ګان شئ او هغه خدای هېر کړئ کوم چې وسایل، هم هغه برابروي که ستاسو سترګې وي نو تاسو به ووینئ چې هم خدای، خدای دی او نور ټول هېڅ. تاسو نه لاس اوږدولای شئ او نه یې ټولولی شئ، مګر د هغه په اذن سره. یو مړی به پر دې خندا وکړي، مګر کاش! که هغه مړشوی وای نو د دې خندا څخه هغه ته ښه وه.

خبردار!!! تاسو د نورو قومونو په لېدلو سره د هغوی سیالي مه کوئ، چې هغوی د دنیا په پلانونو کې ډېر پرمختګ کړی، چې راځئ مونږ د هغوی په قدم لاړ شو.

واورئ او پوه شئ چې هغوی د هغه خدای څخه سخت بېګانه او غافل دي، کوم چې تاسې خپل لور ته رابولي، د هغوی خدای څه شی دی؟ یوازې یو عاجز انسان د همدې له امله دوی په غفلت کې پرېښودل شول. زه تاسو د دنیا کسب او حرفې نه نه منع کوم، مګر تاسو د هغو خلکو پیرو مه کیږئ، کومو چې دنیا هر څه ګڼلې. پکار ده چې ستاسو په هر کار کې که د دین وي او که د دنیا د خدای څخه د توان او

توفيق د غوښتلو لړۍ روانه وي. ليکن نه يواځي په وچو شونډو باندې بلکه پکار ده چې ستاسو په ريښتيا سره دا عقيده وي، چې هر يو برکت د سمان څخه نازليږي تاسو به رښتيني هغه وخت شئ، کله چې تاسو داسې شی چې د هر کار په وخت کې د هر مشکل په وخت کې وړاندې له دې څخه چې تاسې کوم تدبير وکړئ خپله دروازه وتړئ او د خدای په درشل پريوزئ، چې زمونږ دغه مشکل دی په خپل فضل سره ستونزه حل وفرمايه هله به روح القدس ستاسو مرسته وکړي. او د غيب څخه به کومه لار ستاسو لپاره خلاصه شي پخپل ځانونو رحم وکړئ او کومو خلکو چې په بشپړ توګه د خدای سره اړيکه پرېکړي او بشپړ پر اسبابو ور پرېوتي دي تردې چې د توان د غوښتلو لپاره هغوی د خولې څخه ما شاالله هم نه وباسي، د هغوي پيرو مه کيږئ. خدای د ستاسو سترګې خلاصې کړي تر څو تاسو ته معلوم شي، چې ستاسو خدای ستاسو د ټولو تدبيرونو شهتير دی، که شهتير وغورځي نو آيا کړکۍ پر خپل چت باندې ولاړې پاتې کيدای شي؟ نه بلکه په يو ځل به وغورځي او احتمال دی چې د هغه څخه به ډېر مرګونه هم وشي. همدارنګه ستاسو تدبيرونه پرته د خدای له مرستې قائم نه شي پاتې کيدلای که تاسو د هغه څخه مرسته و نه غواړئ او د هغه څخه د توان غوښتل خپل اصول و نه ګرځوی نو تاسو ته به هېڅ کومه بريا تر لاسه نشي. آخر به په ډېرې ناهيلۍ سره مړه شئ. دا فکر مه کوئ، چې بيا دا نور قومونه ولې بريالي کيږي، په داسې حال کې چې هغوی هغه خدای پيژني هم نه کوم چې ستاسو کامل او قادر خدای دی. د دې ځواب همدا دی چې هغوی د خدای د پرېښودلو له کبله د دنيا په امتحان کې اچول شوي دي، د خدای امتحان کله په دې شکل کې وي چې کوم شخص چې هغه پرېږدي او د دنيا په مستيو او خوندونو سره زړه لګوي او د دنيا د دولتونو هيلمند وي نو د دنيا دروازې په هغه پرانيستل کيږي او د دين له مخې هغه يوازې مفلس او لوڅ وي او آخر هم د دنيا په فکرونو کې مري او په ابدي جهنم کې اچول کيږي. او کله په دې توګه هم امتحان وي، چې د دنيا څخه هم نامراد ساتل کيږي. مګر په آخر کې ذکر شوی امتحان دومره خطرناک نه دی، ولې ځکه چې د لمړي امتحان والا زيات مغرور وي، په هر حال دغه دواړه ډلې مغضوب عليهم دي. د رښتينې خوښۍ سرچينه خدای دی، نو کله چې د دې حيّ او قيوم خدای څخه دغه خلک بې خبردي بلکه لاپروا دي او د هغه څخه مخ اړوي، نو رښتيني خوشحالي هغوی ته کله نصيب کېدای شي. مبارکي د وي هغه انسان ته چې دغه راز باندې پوه شي او هلاک شو هغه شخص کوم چې په دې راز پوه نشو. همدارنګه تاسو ته پکار دي چې د دې دنيا د فلسفيانو پيروي مه کوئ او هغوی ته د عزت په سترګه مه ګورئ چې دا ټولې نادانۍ دي. رينتيني فلسفه هغه ده چې خدای تاسو ته پخپل کلام کې درښودلې ده هلاک شول هغه خلک کوم چې د دې دنيوي فلسفې عاشقان دي او کامياب دي هغه خلک کوم چې د رښتينی علم او فلسفه د خدای په کتاب کې پيدا کړل د ناپوهۍ لارې ولې غوره کوئ؟ آيا تاسو به خدای ته هغه خبرې ورزده کوئ چې هغه ته معلومې نه دي؟ آيا تاسو د ړاندو پسې منډې وهئ چې هغوی به تاسو ته لار وښيي؟ ای ناپوهانو! هغه چې پخپله ړوند دی هغه به تاسو ته څه لاره وښيي بلکه رښتيني فلسفه د روح القدس څخه ترلاسه کيږي، د کومې چې تاسو ته وعده درکړل شوې ده. تاسو به دروح په ذريعې هغو پاکو علوموته وروسول شئ کومو، ته چې د غيرو لاس رسی نشته. که په صدق سره يې وغواړی آخر به يې تر لاسه کړی هله به پوی شئ، چې همدا علم دی چې زړه ته تازه ګي او ژوند بخښي او د يقين تر ميناره رسوي، هغه چې په خپله مردار خوړونکي دي هغه به د کومه ځايه تاسو ته پاک خواړه راوړي، هغه چې په خپله ړوند وي هغه به څنګه تاسو ته وښايي. هر يو پاک حکمت د آسمان څخه راځي نو تاسو د ځمکې خلکو څخه څه غواړئ، د چا چې روحونه د آسمان په لور ځي هماغه د حکمت وارثان دي، چا ته چې خپله تسلي نشته

هغه کله تاسو ته تسلي درکولی شي، مګر لومړئ د زړه پاکوالی اړین دی، لمړی صدق او صفا اړینه ده بیا وروسته له دې به دا ټول ترلاسه کیږي دا فکر مه کوئ، چې د خدای وحي وړاندې نه، بلکه وروسته پاتې شوېده *[۸] او روح القدس اوس نشي نازلیدلی بلکه وړاندې زمانو کې نازل شوی. او زه تاسو ته ږېښتیا، ږېښتیا وایم چې هره دروازه بندیږي، مګر د روح القدس د نازلیدلو دروازه هېڅکله نه بندیږي. تاسو د خپلو زړونو دروازې خلاصې کړئ ترڅو هغه په هغو کې دننه شي. تاسو په خپله خپل ځانونه د هغه لمر څخه لېرې غورځوئ، کله چې د هغه د وړانګې د داخلیدلو کړکۍ بندوئ.

ای ناپوهه! پاڅه او هغه کړکۍ خلاصه کړه هله به لمر پخپله ستا دننه ننوځي، کله چې خدای د دنیا د فیضونو لارې په دې زمانه کې پر تاسو نه دي بندې کړي بلکه نور یې هم زیاتې کړي، نو آیا ستا ګومان دی چې د آسمان د فیوضو لارې د کومو چې اوس وخت تاسو ته ډېره اړتیا وه هغه پر تاسو بندې کړي هېڅکله نه، بلکه په ډېر روښانتیا سره دروازه پرانېستل شوېده. اوس نو کله چې خدای د خپلې ښوونې موافق کومه یې چې په سوره فاتحه کې ښودلې د تیرو ټولو نعمتونو دروازه پر تاسو پرانیستې ده، نو تاسو ولې د هغو د اخېستلو څخه انکار کوئ؟ د هغې چینې تږي جوړ شئ، چې اوبه به پخپله راشي د هغو شیدو لپاره تاسو د ماشوم په شان ژړا شروع کړئ، نو شیدې به پخپله د سینې څخه راښکته شي. د رحم وړ وګرځئ تر څو پر تاسو رحم وشي، بیقراري وښایئ ترڅو تسلي ترلاسه کړئ بیا بیا چیغې ووهئ، تر څو یو لاس تاسي ونیسي. څومره سخته هغه لاره ده، چې د خدای لاره ده، مګر د هغو لپاره آسانه کیږي چې د مړینې په نیت ژوري کندې ته ځان اچوي، هغوی په خپلو زړونو کې پرېکړه کوي چې مونږ ته اور منظور دی. مونږ به د خپل محبوب لپاره په هغه کې سوځو بیا هغه په اور کې ځانونه اچوي، نو بیا څه ګوري چې هغه جنت وي، همدا دی کوم چې خدای فرمایلي: وَإِنْ مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا... الخ (مریم : ۷۲) یعنې اې بدو او نیکو ستاسې څخه هېڅوک نشته، چې هغه د جهنم په اور تیر نه شي، مګر هغه چې د خدای لپاره په هغه اور کې پرېوځي هغوی به وژغورل شي، لیکن هغه چې د خپل نفس اماره لپاره په اور باندې ځي هغه اور به هغه وخوري، نو مبارک هغه چې د خدای لپاره خپل نفس سره جګړه کوي او بد مرغه هغه چې د خپل نفس لپاره د خدای سره جګړه کوي او د هغه سره موافقت نکوي. کوم شخص چې د خپل نفس لپاره د خدای حکم غورځوي هغه به په آسمان کې هېڅ داخل نشي، نو تاسي کوښښ وکړئ چې یوه نقطه او یوه شعشه د قرآن شریف پر تاسو ګواهي درنکړي تر څو تاسو د هماغه لپاره ونیول شئ، ځکه چې یوه زره د بدیٰ هم د سزا وړ ده وخت کم دی او د عمر کار نا پایله چټک ګام پورته کړئ، چې مابنام نږدې دی، هر څه چې وړاندې کوی هغه بیا، بیا وګورئ داسې نه وي چې څه پاتې شي او د زیان موجب شي او یا ټول ګنده یا خراب شیان وي، چې په شاهي دربار کې د وړاندې کولو وړ نه وي. ما اوریدلي چې ستاسو څخه ځینې حدیث په بشپړ توګه نه مني که هغوی داسې کوي نو سخته تېروتنه کوي ما دغه تعلیم نه دی ورکړی چې داسې وکړئ بلکه زما مذهب خو دا دی چې دري شیان دي کوم چې خدای ستاسو د هدایت لپاره تاسو ته درکړي دي د ټولو څخه لمړی قرآن دی * [۹] په کوم کې، چې د خدای د توحید، جلال او د عظمت یادونه ده او په کوم

[۸] *(په قرآن شریف باندې شریعت ختم شو مګر وحي نه ده ختمه شوې ځکه چې هغه د ږېښتني دین ځان دی په کوم دین کې چې د الهي وحی سلسله جاري نه ده هغه دین مړ دی او خدای د هغه سره نه دی ـ منه

[۹] * دوهمه ذریعه د هدایت سنت دي یعني هغه پاکه نمونه چې حضور صلی الله علیه وسلم په خپل فعل او عمل سره وښودله د بېلګې په توګه لمونځ یې ادا کولو سره وښود، چې داسې لمونځ پکار دی او د روژې په نیولو سره یې وښودله، چې داسې روژه پکار ده د دې نوم سنت دی یعني نبوي تګلاره ده، چې د خدای قول یې د فعل په شکل ښودلو

حاشیه

کې، چې د هغو اختلافاتو پربکړه شوېده، کوم چې په یهودو او نصاراوو کې وو. لکه څرنګه دغه اختلاف او تیروتنه، چې عیسٰی بن مریم د صلیب په ذریعه قتل کړل شو او هغه لعنتي شو اود نورو نبیانو په شان د هغه رفع ونشوه. همدارنګه په قرآن کې منع شوې ده، چې تاسو پرته له خدای د کوم بل شي عبادت وکړئ نه د انسان، نه د حیوان، نه د لمر نه د سپوږمۍ، نه د کوم ستوري، نه د اسبابو او نه د خپل نفس. نو تاسې هوښیار اوسئ او د خدای د تعلیم او د قرآن د لار ښوونې په خلاف یو ګام هم مه پرته کوئ. زه ریښتیا، ریښتیا وایم، کوم څوک چې د قرآن د اوه سوه (۷۰۰) حکمونو څخه وړوکی حکم هم پریږدي هغه د نجات دروازه په خپل لاس پر ځان ټړي. د حقیقي او بشپړې ژغورنې لارې قرآن پرانېستلي او نور ټول د هغه سیوري وو، نو تاسو قرآن په ژور فکر سره ولولئ او د هغه سره ډېره مینه وکړئ داسې مینه، چې تاسو د هېڅا سره نه وي کړي، ځکه لکه څرنګه چې زه خدای مخاطب کړم او ویې فرمایل: چې « الخیر کله فی القرآن » چې هر ډول ښېګڼې په قرآن کې دي همدا خبره ریښتیا ده. افسوس دی پر هغو خلکو، چې کوم بل څه پر هغه مقدم ګڼي. ستاسو د ټولې بریا او ژغورنې سرچینه قرآن کې ده. ستاسو هېڅ داسې دیني اړتیا نشته چې په قرآن کې نه وي. ستاسو د ایمان تصدیق کوونکی یا تکذیب کوونکی د قیامت په ورځ قرآن دی. پرته د قرآن څخه د آسمان لاندې بل هېڅ کتاب نشته، چې تاسو ته پرته د قران له ذریعې هدایت درکړی شي. خدای پر تاسو ډېر احسان کړی چې د قرآن په شان کتاب یې تاسو ته عنایت کړ. زه تاسو ته رېښتیا، رېښتیا وایم چې هغه کتاب، چې پر تاسو ولوستل شو، که چېرې په عیسایانو باندې لوستل شوی وای، نو هغه به هلاک شوي نه وای او دغه نعمت او هدایت چې تاسو ته درکړل شوی که د تورات پر ځای یهودیانو ته ورکړل شوی وای، نو ځینې فرقې به د هغوی د قیامت څخه نه منکرېدلای، نو د دې نعمت قدر وکړئ کوم چې تاسوته درکړل شوی، دا یو ډېر ښکلی نعمت دی، دا ډېره لویه شتمني ده، که قرآن نه وای راغلی، نو ټوله دنیا د یوې مرداري غوښې د ټوټې په شان وه. قرآن هغه کتاب دی د کوم پر وړاندې چې ټول هدایتونه هېڅ دي. د انجیل راوړونکی هغه روح القدس و چې د کوترې په شکل کې څرګند شو، چې یو ضعیف او کمزورى حیوان دی، کوم چې پیشو هم نیولی شي، د همدې له امله عیسایان ورځ په ورځ د کمزورۍ په کنده کې پرېوتل او روحانیت په هغوی کې پاتې نشو؛ ځکه چې د هغوی د ایمان ټول مدار په کوتره باندې و، مګر د قرآن روح القدس په هغه عظیم الشان شکل کې څرګند شوی و، کوم چې د ځمکې څخه تر آسمان پورې د خپل وجود څخه ټوله ځمکه او آسمان ډک کړي وو. نو چېرته هغه کوتره او چېرته دغه عظیمه تجلي د کومې چې په قرآن شریف کې هم ذکر دی. قرآن په یوې اونۍ کې انسان پاکولای شي که چېرې ښه ییزه او معنوي مخ اړونه نه وي، قرآن تاسو د نبیانو په شان کولی شي که تاسو خپله د هغه څخه ونه تښتئ. پرته له قرآن څخه کوم کتاب پخپل پېل کې خپلو لوستونکو ته دغه دعا ښودلې او دغه امید یې ورکړی چې اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (الفاتحه :۶،۷) یعني مونږ ته د خپلو هغو نعمتونو لار وښایه، کومه چې وړاندنیو ته وښودل شوه، کوم چې نبي، رسول، صدیق، شهید او صالح وو. نو خپل همتونه لوړ کړئ او د قرآن بلنه مه رد کوئ چې هغه تاسو ته هغه نعمتونه درکول غواړي کوم چې پخوانیو ته ورکړل شوي وو. آیا هغه تاسو ته د بني اسرائیلو ملک او د بني اسرائیلو بیت مقدس عطا نکړ، کوم چې تر اوسه ستاسو په ولکه کې دی؟ نو ای د سستې عقیدې خاوندانو او کمزور همتو

پاتې حاشیه ۹: سنت د همدې نوم دی. دریمه ذریعه د هدایت حدیث دي، چې د حضور صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د هغه صلی الله علیه وسلم اقوال جمع کړل شول او د حدیث رتبه د قرآن او سنتو څخه کمتره ده، ځکه چې اکثر حدیثونه ګماني دي لیکن که چېرې ورسره سنت وي نو هغه به دا یقیني کړي. منه

حاشیه

آیا ستاسو دا خیال دی چې ستاسو خدای خو په جسماني ډول د بني اسرائیلو د ټولو املاکو تاسې ځای ناستي وګرځولئ مګر په روحاني ډول یې تاسو ځای ناستي ونه شوی ګرځولئ؟ بلکه خدای تعالٰی د دوی په نسبت تاسو ته زیاته د فیض رسولو اراده ده، خدای تاسو د هغوی روحاني او جسماني مال او متاع وارث وګرځولی، مګر ستاسو وارث به هیڅ بل نه وي، ترڅو چې قیامت راشي. خدای به هیڅکله تاسې د وحي، الهام، مکالماتو او الهي مخاطباتو د نعمت څخه محروم نکړي. هغه به په تاسو باندې هغه ټول نعمتونه بشپړ کړي، کوم چې وړاندنیو ته ورکړل شوي وو. لیکن کوم څوک چې د بې ادبۍ له لارې پر خدای درواغ وتړي او ووایي چې د خدای وحي پر ما نازله شوه په داسې حال کې چې نه وي نازله شوي او یا ووایي چې ماته د الهي مکالماتو او مخاطباتو شرف په برخه شوی، حال دا چې نه دی نصیب شوی نو زه خدای او د هغه فرشتې ګواه ګرځوم او وایم، چې هغه به هلاک کړای شي ځکه چې هغه پر خپل خالق باندې درواغ وتړل او فریب یې وکړ او سخته بې باکي او تکبر یې څرګند کړ، نو تاسې په دې مقام کې ودار شئ، لعنت دې په هغو خلکو چې د دروغو خوبونه راجوړوي او د درواغو مکالماتو او مخاطباتو دعوای کوي، ګواکې هغوی په زړه کې خیال کوي چې خدای نشته. مګر د خدای سزا به هغه ډېر سخت ونیسي او د هغوی بده ورځ د هغوی څخه لېرې کیدای نشي. نو تاسې د صدق، ربښتیا، تقوا او خپلې الهي مینې کې پرمختګ وکړئ او همدا خپل کار وګڼئ، ترڅو چې ژوند دی. بیا چې د تاسو څخه د چا په اړه خدای وغواړي په خپله مکالمه او مخاطبه به یې هم مشرف کړي. تاسو باید داسې هیله هم ونکړئ ترڅو د نفساني هیلې په وجه شیطاني لړۍ شروع نشي، د کومې څخه چې ډېر خلک هلاک کیږي. نو تاسو په خدمت او عبادت کې بوخت اوسئ ستاسو ټول کوښښ باید په همدې کې بوخت وي چې تاسو د خدای د ټولو احکامو پابند شئ او په یقین کې پرمختګ وغواړئ د ژغورنې لپاره، نه د الهام ښودنې لپاره. قرآن شریف ستاسو لپاره ډېر پاک احکام لیکلي دي، د کومو څخه چې یو دا دی چې تاسو د شرک څخه په بشپړه توګه پرهیز وکړئ، چې مشرک د خلاصون د سرچینې څخه بې برخې دی. تاسو درواغ مه وایاست چې درواغ هم د شرک یوه برخه ده. قرآن تاسو ته د انجیل په شان دا نه وایي، چې یواځې د بدنظرۍ او شهوت په خیال نامحرمو ښځو ته مه ګورئ او پرته د دې لپدل حلال دي. بلکه هغه وایي چې هیڅکله مه ګوره نه په بد نظر او نه په ښه نظر سره، چې دا ټول ستا لپاره د تېروتنې ځای دی. بلکه پکار ده چې د نامحرمو د مخامخ کیدلو په وخت ستا سترګې ښکته پاتې شي. تاته د هغې د صورت هیڅ خبر نه وي، مګر همدومره لکه څرنګه چې په ضعیف نظر سره انسان د باران د نازلیدلو په وخت ویني. قرآن تاته د انجیل په شان دا نه وایي، چې دومره شراب مه څښه، چې مست شې بلکه هغه وایي چې هیڅکله یې مه څښه کنه، نو تا ته به د خدای لار ترلاسه نشي او خدای به له تا سره همکلام نه شي او نه به د ناپاکیو څخه پاک کړي او هغه وایي چې دا د شیطان نوښت دی ته تري ځان وساته. قرآن تاسو ته د انجیل په شان یواځې دا نه وایي چې بې له سببه پر خپل ورور مه غصه کیږه، بلکه هغه وایي چې نه یواځې خپله غصه وزغمه بلکه تَوَاصَوْاْ بِٱلْمَرْحَمَةِ (البلد :١٨) باندې عمل هم وکړه او نورو ته هم ووایه چې داسې وکړي. او نه یواځې خپله رحم وکړه بلکه د رحم لپاره خپلو ټولو وروڼوته وصیت هم وکړه. او قرآن تاته دا نه وایي د انجیل په شان چې پرته له زنا د خپلې ښځې په هرې نا پاکۍ صبر وکړه او طلاق مه ورکوه بلکه هغه وایي چې ٱلطَّيِّبَـٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ (النور:٢٧) د قرآن دا غوښتنه ده چې ناپاک د پاک سره نشي اوسیدلای. پس که ستا ښځه زنا خو نه کوي مګر د شهوت په نظر پردو خلکو ته ویني او د هغوی سره غېږ په غېږه کیږي او د زنا مقدمات د هغې څخه څرګندیږي که څه هم لا تراوسه بشپړه نه ده شوې او غیر ته خپل لوڅوالی ښکاره کوي او مشرکه،

مفسده او په کوم پاک خدای چې ته ایمان لرې له هغه څخه بېزاره ده، نو که هغه اصلاح نشوه ته هغې ته طلاق ورکولی شې. ځکه چې هغه په خپلو اعمالو کې له تا څخه جدا شوه. اوس ستا د جسم ټوټه نه ده پاتې شوې، نو ستا لپاره اوس روا نه ده چې په دووسې د هغې سره ژوند تېر کړې، ځکه چې اوس هغه ستا د جسم ټوټه نه ده، یوه ګنده او متعفن غړی دی چې د پرې کولو وړ دی، داسې نه وي چې نور غړي هم ککړ کړي او ته مړ شې. او قرآن تا ته د انجیل په شان دا نه وایي چې هېڅکله قسم مه کوه، بلکه د بېځایه قسمونو څخه تا منع کوي، ځکه په ځینو صورتونو کې قسم د پرېکړې لپاره یوه ذریعه ده او خدای د ثبوت کومه ذریعه ضایع کول نه غواړي. ځکه چې د دې څخه د هغه حکمت له منځه ځي. دا طبیعی امر دی چې کله یو انسان په کړکېچن امر کې ګواهی ورنکړي، نو بیا د پرېکړې لپاره د خدایي ګواهۍ اړتیا ده او قسم د خدای ګواه ګرځول دي. او قرآن تاته د انجیل په شان دا نه وایي، چې په هر یو ځای کې د ظالم مقابله مه کوه، بلکه هغه وایي وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۖ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ (الشورٰی :۴۱) یعنې د بدۍ بدله هماغه اندازه بدي ده، چې شوې ده لیکن کوم څوک چې عفوه وکړي او ګناه وبخښي او د هغې عفوې څخه اصلاح پیدا کیږي نه کومه خرابي، نو خدای د هغه څخه راضي دی او هغه ته به د هغه بدل ورکړي. نو د قرآن له مخې نه هر یو ځای کې غچ اخېستل ستایل شوي دي او نه هر یو ځای عفوه د ستایلو وړ ده، بلکه ځای پېژندنه پکار ده او پکار دي چې د غچ او عفوې خوی د محل او مصلحت په پابندۍ سره وي نه په بې قیده ډول. همدا د قرآن موخه ده او قرآن د انجیل په شان دا نه وایي چې د خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ، بلکه هغه وایي چې په نفساني ډول ستا هېڅوک دښمن نه وي او ستا خواخوږي د هر یو لپاره عامه وي، مګر کوم چې ستا د خدای دښمن ستا د رسول او د کتاب الله دښمن دی هماغه به ستا دښمن وي، نو ته داسې کسان هم د خپلو دعاوو او دعوت څخه محروم مه ساته او پکار دي چې ته د دوی اعمالو سره دښمني ولرې نه د هغوی د ذات سره او کوښښ وکړئ چې هغه صحیح شي او د دې په اړه فرمایي: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ (النحل:۹۱) یعنې خدای له تا څخه څه غواړي بس همدا چې د ټول انساني نسل سره په عدل سره سلوک وکړې بیا د دې څخه زیات دا دی چې د هغوی سره هم نېکي وکړه، کومو چې تاسره کومه نیکي نه ده کړې بیا د دې څخه هم لوی دا دی چې ته د خدای مخلوق سره داسې خواخوږۍ سره سلوک وکړې چې ګویا ته د هغوی حقیقي خپل وې، بلکه څرنګه چې مینې د خپلو بچیانو سره کوي. ځکه چې په احسان کې یوه د ځان ښودنې ماده هم مخفي وي او احسان کوونکی کله خپل احسان هم باروي، لیکن هغه څوک چې د مور په شان د طبیعی جوش سره نیکي کوي هغه هېڅکله ځان ښودنه نشي کولای. نو آخره درجه د نېکیو طبیعي جوش دی چې د مور په شان وي او دغه آیت نه یوائې د مخلوق په هکله دی، بلکه د خدای تعالٰی په اړه هم دی. د خدای سره عدل دا دی چې د هغه د نعمتونو یادولو سره د هغه اطاعت کول او د خدای سره احسان دا دی چې د هغه په ذات داسې یقین کول چې ګواکې هغه ګورې اود خدای سره وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ دا دی چې د هغه عبادت خو، نه د جنت له تمې وي او نه د دوزخ له ډاره. بلکه که چېرې فرض کړی شي چې نه جنت شته او نه دوزخ بیا هم د محبت په جوش کې او اطاعت کې توپیر رانشي. او په انجیل کې لیکل شوي دي چې کوم خلک چې پر تا لعنت کوي د هغوی لپاره برکت وغواړه، مګر قرآن وایي چې ته د خپل ځان څخه هېڅ مه کوه ته د خپل زړه څخه چې د خدای د تجلیاتو کور دی د فتوې پوښتنه وکړه، چې د داسې کس سره څه معامله پکار ده، نو که خدای ستا زړه کې واچوي چې دغه لعنت کوونکی د رحم قابل دی او په آسمان کې پر هغه لعنت نه دی، نو ته هم لعنت مه کوه، ترڅو د خدای مخالف ونه ګرځې. لیکن که ستا عقل هغه معذور نه ګڼي او ستا زړه

کې واچول شول چې په آسمان کې پر دې شخص لعنت دی، نو ته د ده لپاره برکت مه غواړه لکه څرنګه چې د شیطان لپاره هېڅ یو نبي برکت نه دی غوښتی او هېڅ یو نبي هغه د لعنت څخه آزاد نه کړ. مګر د چا په اړه په لعنت کولو کې بېړه مه کوه، چې ډېرې بدګومانۍ درواغ وي او ډېر لعنتونه پر خپل ځان پرېږدئ په پام سره ګام کېږدئ او هر کار په ښه پام سره وکړئ او د خدای څخه مرسته وغواړئ ځکه چې تاسو ړانده یاست، داسې نه وي چې عادل ظالم وګڼئ او صادق ته د درواغجن فکر وکړئ. په دې توګه ته خپل خدای ناراض کړې او ستا ټول نېک عملونه ضایع شي.

همدارنګه په انجیل کې ویل شوي دي چې تاسې خپل نېک کارونه د خلکو په وړاندې د ښودلو لپاره مه کوئ، مګر قرآن وایي چې تاسې داسې مه کوئ خپل ټول کارونه د خلکو څخه پټ کړئ، بلکه تاسو د مصلحت په لحاظ ځینې خپل نېک عملونه په پټه توګه وکړئ، کله چې وګورئ، چې په پټه توګه کول یې ستاسو د نفس لپاره غوره دي او ځینې اعمال په ښودلو سره هم وکړئ، کله چې تاسو ووینئ چې په ښودلو کې د عامو خلکو لپاره ښېګڼه ده ترڅو تاسو دوه اجرونه تر لاسه کړئ او تر څو کمزور خلک چې د یوې نېکۍ کار په کولو جرأت نه شي کولئ هغه هم ستاسو په پیروۍ هغه نېک کار وکړي. مقصد خدای چې په خپل کلام کې فرمایلي: سراً وّعلانیةً یعنی پټ هم خیرات وکړئ او ښکاره هم، د دې حکمونو حکمت هغه خپله بیان فرمایلی، د کوم مطلب چې دا دی چې نه یوازې په خبرو سره خلک پوه کړئ بلکه په عمل سره هم تحریک وکړئ، ځکه چې هر یو ځای خبره اثر نه کوي په ډېرې ځایونو کې د بېلګې ډېره اغېزه وي.

همدارنګه انجیل کې دي چې کله ته دعا غواړې نو خپلې جونګړې ته لاړ شه. مګر قرآن ښوونه کوي چې خپله دعا په هره موقع په پټه مه کوه، بلکه ته د خلکو په مخامخ د خپلو وروڼو مجموعې سره هم په ښکاره، ښکاره توګه دعا کوه ترڅو که کومه دعا قبوله شي، نو د هغې ډلې لپاره به د ایمان د پرمختګ موجب وګرځي او ترڅو نور خلک هم دعاوو ته رغبت وکړي. همدارنګه په انجیل کې دي، چې ته په دې توګه دعا وکړه چې: ای زمونږ پلاره چې په آسمان کې یې ستا د نوم د پاکي وي، ستا پاچاهي دې راشي، ستا رضا څرنګه چې په آسمان کې ده پر ځمکه دې راشي زمونږه ورځنۍ ډوډۍ نن مونږ ته راوبښه او څرنګه چې مونږ خپل قرضداران بخښو ته خپل قرض مونږ ته وبخښه او مونږ په آزموینه کې مه اچوه، بلکه د بدۍ څخه مو وساته، ځکه چې پاچاهي او قدرت او جلال تل هم ستا دي. مګر قرآن وایي چې، دا نه چې ځمکه د تقدیس څخه خالي ده، بلکه پرځمکه هم د خدای تقدیس کېږي، روان دی، نه یواځې په آسمان کې لکه څرنګه چې هغه فرمایي: وَإِنْ مِّنْ شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ. (بني اسرائیل: ٤٥)، يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ (الجمعه: ٢) یعنې د ځمکې او آسمان زره، زره د خدای تحمید او تقدیس کوي او څه چې په هغوی کې وي هغه په تحمید او تقدیس کې بوخت دي. غرونه د هغه په ذکر کې بوخت دي، سیندونه هغه په یادونه کې بوخت دي، ونې د هغه په یاد کې بوختې دي او ډېر رېښتیني د هغه په ذکر کې بوخت دي. او کوم څوک چې د زړه او ژبې سره د هغه په ذکر کې بوخت نه دی او د خدای په وړاندې عاجزي نه ښکاره کوي په هغه باندې په ډول ډول ځورونو اوعذابونو سره قضا او قدرعاجزي کوي. او څه چې د فرشتو په هکله د خدای په کتاب کې لیکل شوي دي، چې هغوی د آخري درجې اطاعت کوي. همدغه تعریف د ځمکې په څپې، څپې او د زرې، زرې په اړه په قرآن شریف کې موجود دی چې هر یو شی د هغه اطاعت کوي یوه پاڼه هم پرته د هغه د امر څخه نشي رالویدلای، پرته د هغه د حکم څخه نه کوم درمل شفاء ورکولای شي، نه کوم خواړه موافق کیدای شي

او هر يوشی په لوړه درجه د عاجزۍ او بندګۍ سره د خدای په دربار کې پراته دي او دهغه په اطاعت کی غرق دي. د غرونو او ځمکې زره، زره او د سيندونو او بحرونو څاڅکی، څاڅکی او د ونو او بوټو برخه، برخه او هر يو جزء د هغوی او د انسانانو او حيواناتو ټولې زرې خدای پيژني او د هغه اطاعت کوي او د هغه ستاينه او پاکۍ بيانولو کې بوخت دي. د همدې لپاره الله تعالٰی فرمايي يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ (الجمعه: ۲) يعنې لکه څرنګه چې په آسمان کې هر شی د خدای تسبيح او تقديس کوي همدارنګه په ځمکه هم هر يو شی د هغه تسبيح او پاکي بيانوي. نو آيا پر ځمکه د خدای ستاينه او پاکوالۍ نه کيږي؟ داسې خبره د يوه کامل عارف له خولې نشي وتلی، بلکه د ځمکې د شيانو څخه ځينې د شريعت د احکامو اطاعت کوي او ځينې د قضا او قدر د احکامو تابع دي او ځينې د دواړو په اطاعت کې ملا تړلي دي، څه ورېځې، څه هوا، څه اور، څه ځمکه ټول د خدای په اطاعت او پاکوالي کې محو دي که کوم انسان د الهی شريعت د احکامو څخه سرغړوونکی دی نو د الهي قضا او قدر د حکم تابع دی. د دې دواړو حکومتونو څخه د باندې هېڅوک نه دي، د يو نه يو آسماني حکومت ژغ د هر يو په غاړه دی. هو البته د انساني زړونو د اصلاح او د فساد په لحاظ غفلت او د خدای ذکر په وار، وار سره پر ځمکه خپله غلبه کوي، مګر پرته د خدای د مصلحت او حکمت څخه دغه مد او جذر پخپله نه دي. خدای وغوښتل، چې په ځمکه کې داسې وي، نو وشول، نو د هدايت او ضلالت دور هم د شپې او ورځې د دور په شان د خدايي قانون او اذن موافق روان دی نه په خپل سر. باوجود د دې چې هر يو شی د هغه آواز اوري او دهغه پاکي بيانوي مګر انجيل وايي چې ځمکه د خدای د تقديس څخه خالي ده، د دې سبب د دې انجيلي دعا وروستنۍ فقره کې د اشارې په توګه بيان شوی دی او هغه دا چې لا تراوسه په هغې (ځمکه) کې د خدای پاچاهي نه ده راغلې، په دې پار د حکومت د نشتوالي له وجې، نه له کومه بله امله د خدای پاک خوښه په دې توګه پر ځمکه ونشوه کېدای چې نافذه شي، لکه څرنګه چې په آسمان کې نافذه ده، مګر د قرآن تعليم سراسر د دې خلاف دی، هغه خو په ښکاره الفاظو وايي چې هېڅ غل، خوني، زاني، کافر، فاسق، سرغړوونکی، جرم کوونکی، هېڅ قسم بدي په ځمکه کې نشي کولی ترڅو چې په آسمان کې هغه ته اختيار ورنکړل شي، نو بيا څنګه ويل کېدای شي چې آسماني پاچاهي پر ځمکه نشته، آيا کومه مخالفه ولکه پر ځمکه د خدايي احکامو د جاري کيدو خنډ ده؟ سبحان الله، هېڅکله داسې نه ده. بلکه خدای پخپله د فرشتو لپاره په آسمان کې جدا قانون جوړ کړ او په ځمکه کې يې د انسانانو لپاره جلا او خدای خپلې آسماني پاچاهۍ کې فرشتو ته کوم اختيار ورنکړ بلکه دهغوی په فطرت کې يې د اطاعت ماده کېښوده هغوی مخالفت نشي کولی او سهوه او نسيان پر هغوی نه شي واردېدلای. ليکن انساني فطرت ته د منلو او نه منلو اختيار ورکړل شوی دی، نو ځکه چې دغه اختيار د پورته څخه ورکړل شوی، له همدې امله نشو ويلی چې د فاسق انسان شتون څخه د خدای بادشاهي د ځمکې څخه لاړه ده، بلکه په هره بڼه د خدای بادشاهي شته. هو يواځې قانونونه دوه دي يو آسماني فرشتو لپاره د قضا او قدر قانون دی، چې هغوی بدي نشي کولی او يو پر ځمکه د انسانانو لپاره د قضا او قدر په هکله دی او هغه دا چې هغه ته د بدۍ کولو اختيار ورکړل شوی دی، مګر کله چې د خدای څخه توان وغواړي يعنې استغفار وکړي، نو د روح القدس په تائيد سره د هغه کمزوري ليرې کيدای شي او هغه د ګناه کولو څخه خوندي پاتې کيدای شي، لکه څرنګه چې د خدای نبيان او رسولان خوندي کيږي. او که داسې خلک دي چې ګنهکار شوي، نو استغفار هغوی ته دغه ګټه رسوي، چې د ګناه د پايلو يعنې عذاب څخه ساتل کيږي، ځکه چې د نور په راتلو سره تيارې نشي پاتې کيدلای. او جرم کوونکي چې استغفار نه کوي يعنی د خدای څخه توان نه غواړي هغوی د خپل جرم سزا ترلاسه کوي.

وګورئ نن سبا طاعون هم د سزا په توګه ځمکې ته رابنکته شوی او دخدای سرغړوونکي د هغه ځخه هلاک کیږي، نو بیا ولې وویل شي چې د خدای پاچاهي په ځمکه کې نشته دغه فکر مه کوئ، چې که پرځمکه د خدای پاچاهي شته، نو خلک ولې جرمونه کوي ځکه چې جرمونه هم د خدای د قضا او قدر لاندې دي، که ځه هم هغه خلک د شریعت د قانون ځخه د باندې وځي، مګر د تکوین قانون یعني د قضا او قدر ځخه هغوی د باندې نشي کیدلای، نو بیا ولې وویل شي چې جرم کوونکي خلک د الهي سلطنت ژغ په خپله غاړه نږدي، ووینئ په دې هیواد برطانوي هند کې غلاوې هم کیږي او وژنې هم کیږي زنا کار، خائن، رشوت خوړونکي او نور ډول جرائم پیشه هم شته، مګر نشو ویلی چې په دې ملک کې د انګرېز حکومت نشته. ځکه چې حکومت خو شته لیکن حکومت داسې سخت قانون عمداً مناسب ونه ګڼلو د کوم له ویرې ځخه، چې پر خلکو ژوند ګران شي، کنې که چیرې حکومت ټول مجرمان په یوه تکلیف ورکوونکي بندیخانه کې واچوي او د جرمونو ځخه یې منع کول وغواړي نو په ډېرې آسانۍ سره هغه منع کیدی شي. او یا که په قانون کې سختې سزا ګانې کیښودل شي نو دهغو جرمونو مخنیوی کیدی شي. نو تاسو پوهیدلای شئ، ځومره چې په دې ملک کې شراب ځښل کیږي، فاحشه ښځې زیاتیږي د غلا او قتل واقعات زیاتیږي دا د دې لپاره نه چې د انګرېزي حکومت دلته نشته، بلکه د قانون نرمۍ په جرمونو کې زیاتوالی راوستی نه دا چې انګرېزي حکومت د دې ځای ځخه له منځه لاړ دی. بلکه د سلطنت اختیار دی چې د قانون په سختولو سره او د درنو سزاګانو په ټاکلو سره د جرمونو د کولو ځخه منع کړي، کله چې د انساني سلطنت دا حال دی، چې د الهي سلطنت په وړاندې هېڅ هم نه دی نو الهي سلطنت ځومره اقتدار او اختیار لري، که د خدای قانون اوس سخت شي او په هر یو زنا کوونکي دتندر پرېوځي او هر یو غله ته دغه ناروغي ولګیږي چې لاسونه یې خوړین او وراسته شي او وغورځي او هر یو سرکش د خدای منکر، د هغه د دین منکر، د طاعون ځخه مړشي، نو د یوې اوونۍ د تېریدو ځخه وړاندې ټوله نړۍ د ربښتینولۍ او نیک بختۍ ځادر اغوستلای شي، نو د خدای پاچاهي، خو پر ځمکه شته لیکن د آسماني قانون نرمۍ دومره آزادي ورکړې چې جرم کوونکي ژر نه نیول کیږي. هو سزا ګانې هم ورکول کیږي، زلزلې راځي، تندرونه پرېوځي، د آتش فشان غرونه د آتش بازي په شان په مشتعل کېدو سره د زرګونو ځانونو نقصان کوي، جهازونه غرقیږي، د اور ګاډو په ذریعه سلګونه ځانونه له منځه وځي، طوفانونه راځي کورونه غورځي، ماران چیچي، وحشي ځناور دارې وبا ګانې راځي او د فنا کولو یوه نه، بلکه په زرګونو دروازې پرانیستې دي، چې د مجرمانو د سزا ورکولو لپاره د خدای د قدرت قانون مقرر کړی دی نو ولې وویل شي چې د خدای پاچاهي په ځمکه نشته؟ ریښتیا خو همدا ده چې پاچاهي خو شته د هر یو مجرم په لاس کې زولنې لوېدلي دي او په پښو کې یې ځنځیرونه دي، لیکن الهي حکمت دومره خپل قانون نرم کړی دی، چې هغه زولنې او ځنځیرونه فی الفور خپل اثر نه ښیي او که آخر انسان منع نشي نو دائمي جهنم ته رسوي او په هغه عذاب کې یې غورځوي د کوم ځخه، چې یو مجرم نه ژوندی پاتې شي او نه مړ شي. مطلب قانونونه دوه دي. یو هغه قانون چې د فرشتو په هکله دی یعنې دا چې هغوی یواځې د اطاعت لپاره پیدا کړل شوي دي او د هغوی اطاعت یواځې د روښانه فطرت ځانګړنه ده هغوی ګناه نشي کولای، مګر په نیکۍ کې پرمختګ هم نشي کولای.

دوهم قانون هغه دی، کوم چې د انسانانو په هکله دی یعنې، دا چې د انسانانو په فطرت کې دا اېښودل شوي چې هغوی ګناه کولی شی، مګر په نیکۍ کې پر مختګ هم کولای شي. دا دواړه فطرتي قانونونه، نه بدلیدونکي دي او لکه ځرنګه چې فرشته انسان نشي کېدای، همدارنګه انسان هم فرشته نشي کېدای دا دواړه قانونونه نشي بدلېدلی ازلي او نه بدلیدونکي دي له همدې امله د آسمانونو قانون ځمکې ته نشي

راتللی او نه د ځمکې قانون د فرشتو په اړه کېدای شي. د انسان تېروتنې که په توبې سره له مینځه لاړې شي، نو هغه انسان د فرشتو څخه ښه ګرځولی شي، ځکه چې په فرشتو کې د پرمختګ ماده نشته د انسان ګناه په توبې سره بخښل کیږي او الهي حکمت په ځینو کسانو کې د تیروتنو لړۍ باقي پرې ایښې ده، ترڅو هغوی په ګناه کولو سره پخپلې کمزورۍ خبر شي او بیا توبه وکړي او وبخښل شي. همدا قانون دی چې انسان لپاره مقرر کړل شوی دی او همدا د انسان فطرت غواړي سهوه او نسیان د انساني فطرت ځانګړنه ده، د فرشتې ځانګړنه، نه ده او بیا هغه قانون چې د فرشتو په اړه دی په انسانانو کې څرنګه نافذ کېدای شي. دا د تېروتنې خبره ده چې د خدای تعالٰی لور ته کمزوري منسوبه شي. یواځې د قانون نتایج دي چې پر ځمکه جاري کیږي نعوذ بالله آیا خدای داسې کمزورۍ دی چې د چا پادشاهي، قدرت او جلال یواځې تر آسمانه محدود دي.

او یا د ځمکې کوم بل خدای دی، چې پر ځمکه مخالفانه ولکه لري؟ عیسایانو ته پردې خبره ټینګارکول ښه نه دي چې یواځې په آسمان کې د خدای پاچاهي ده، کومه چې تر اوسه ځمکې ته نه ده راغلې، هغوی د دې خبرې قائل دي چې آسمان هېڅ کوم شی نه دی، اوس ښکاره ده، کله چې آسمان هېڅ شی نه دی پر کوم، چې د خدای پاچاهي وي او پر ځمکه لا تراوسه راغلې نه ده، نو ګواکې د خدای پاچاهي هېڅ ځای هم نشته. پرته له دې چې د خدای ځمکنۍ پاچاهي خو مونږ په خپلو سترګو وینو، د هغه د قانون مطابق زمونږ عمرونه ختمیږي او زمونږ حالتونه بدلیږي او په سلګونو ډوله آرامتیا او رنځ مونږ وینو په زرګونو خلک د خدای په حکم مړ کیږي او په زرګونو پیدا کیږي، دعا ګانې قبلیږي، نشانونه ظاهریږي ځمکه د هغه په حکم په زرګونو ډوله نباتات او میوې او ګلان پیداکوي نو آیا دغه ټول شیان د خدای د پاچاهۍ څخه پرته کیږي؟ بلکه آسماني اجسام خو په یوه ښه او طریقه باندې روان دي او په هغوی کې تغیر او بدلون د کوم څخه چې د یو نه تبدیلیدونکي پته ترلاسه کیږي هېڅ نه محسوسیږي، مګر ځمکه د زرګونو بدلونونو او انقلابونو نښانه ګرځي، هره ورځ کروړونه انسانان د دنیا څخه ځي او په کروړونو پیدا کیږي او د هر اړخ څخه او په هر ډول د یو ځواکمن جوړوونکي ولکه احساسیږي، نو آیا تر اوسه د خدای پاچاهي پر ځمکه نشته؟ او انجیل په دې باندې کوم دلیل نه دی وړاندې کړی چې ولې تر اوسه د خدای پاچاهي ځمکې ته نه ده راغلې. البته د مسیح په باغ کې د خپلو ژغورلو لپاره ټوله شپه دعا کول او د دعا قبلېدل هم لکه څرنګه چې په عبرانیان ۵ آیت ۷ کې لیکلي، مګر بیا هم د خدای د هغه په خلاصون نه قادرېدل دا د عیسایانو په ګومان یو دلیل کېدای شي چې په هغه زمانه کې د خدای پاچاهي په ځمکه کې نه وه، مګر مونږ د دې څخه زیاتې ابتلاوې لیدلي دي او د هغه څخه مو ژغورنه ترلاسه کړې مونږ څنګه د خدای د پاچاهۍ څخه انکار کولای شو؟ آیا هغه د قتل دعوای چې زما د وژلو لپاره د مارټن کلارک لخوا د کپتان ډګلس په محکمه کې وړاندې شوې وه، هغه د هغه دعوې څخه کمه وه کومه چې د مذهبي اختلاف په وجه نه د کوم خون د تور په وجه د یهودیانو له طرفه د پیلاطوس په محکمه کې دائره شوې وه؟ مګر؛ ځکه چې خدای د ځمکې هم پاچا دی څرنګه چې د آسمان دی، د همدې لپاره هغه ماته د دې دعوې خبر له وړاندې څخه راکړ، چې دغه ابتلاء راتلونکي ده او بیا یې خبر راکړ، چې زه به تا بري کړم او هغه خبر سلګونو انسانانو ته د وخت څخه وړاندې واورول شو او آخر زه بري کړل شوم نو دغه د خدای پاچاهي وه، کومې چې زه د دې دعوې څخه وژغورلم کومه، چې د مسلمانانو، هندوانو او عیسایانو په اتفاق سره پرما شوې وه. همدارنګه نه یو ځل بلکه په شلګونو ځلې ما د خدای پاچاهي پر ځمکه ولیده اوما د خدای پر دې آیت ایمان راوړ چې لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ (حدید:۳) یعنې پر ځمکه هم د خدای پاچاهي ده او په آسمان هم. او بیا پر دغه آیت ایمان

راوړلوته اړ شوو چې إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا أَنْ يَقُوْلَ لَهُۥ كُنْ فَيَكُونُ (يٰس: ٨٣) يعنې ټول ځمکه او آسمان د هغه اطاعت کوي کله چې کوم کار غواړي، چې وشي نو وايي چې وشه نو سمدستي هغه کار کيږي او بيا فرمايي وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمْرِهِۦ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (يوسف: ٢٢) يعنې خداى پر خپله اراده غالب دى، مګر اکثر خلک د خداى د قهر او جبروت څخه بې خبر دي مطلب دا خو د انجيل دعا ده، چې خلک د خداى د رحمت څخه نا هيلې کوي او د هغه د ربوبيت، پيرزويني او د جزا سزا څخه عيسايان بې باکه کوي او هغه پر ځمکه د مرستې کولو قابل نه ګڼي، ترڅو چې د هغه پاچاهي پر ځمکه رانشي، ليکن د دې په مقابل کې چې کومه دعا خداى مسلمانانو ته په قرآن کريم کې ښودلې ده هغه، هغه خبره کوي چې پر ځمکه باندې خداى د واکمنۍ څخه لاس په سرکړل شوو خلکو په شان بې کاره نه دى، بلکه د هغه د ربوبيت سلسله، رحمانيت، رحيميت او سزا ورکونه پر ځمکه جاري ده هغه خپلو عبادت کوونکو ته د مرستې ورکولو توان لري او مجرمان په خپل غضب سره هلاک کولى شي هغه دعا داده:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙالرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙمٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ؕاِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ؕاِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ (الفاتحه :٢تر٧)

ژباړه: هماغه خداى دى، چې د ټولو ستاينو وړ دى يعنې د هغه په پاچاهۍ کې هېڅ کوم نقص نشته او د هغه د خوبيو لپاره کوم داسې د تمې حالت پاتې نه دى چې نن نه، مګر سبا ته به ترلاسه شي او دهغه د پاچاهۍ د لوازمو څخه هېڅ شى بيکاره نه دى د ټولو عالمونو پالنه کوي پرته د اعمالو د بدل رحم کوي، او همدارنګه د اعمالو په بدل کې هم رحم کوي جزا او سزا په ټاکلي مهال سره ورکوي، د همهغه مونږ عبادت کوو او همهغه څخه مونږ مرسته غواړو او دعا کوو، چې مونږ ته ټولې د نعمتونو لارې وښيه او د غضب له لارو او د ګمراهۍ له لارو مو لېرې وساته. دغه دعا چې سورة فاتحه کې ده، د انجيل د دعا بالکل په خلاف ده، ځکه چې په انجيل کې په ځمکه باندې د خداى د شته پاچاهۍ انکارشوى، نو د انجيل له مخې نه په ځمکه د خداى ربوبيت کوم کار کوي، نه رحمانيت نه رحيميت نه قدرت د جزا او سزا، ځکه چې تر اوسه ځمکې ته د خداى پاچاهي نه ده راغلې. مګر د سورت فاتحې څخه معلوميږي چې پر ځمکه د خداى پاچاهي شتون لري د همدې لپاره په فاتحې سورت کې د پاچاهۍ ټول لوازم بيان کړل شوي دي، ښکاره ده چې په پاچا کې دغه صفتونه بايد وي چې هغه د خلکو په پالنه قدرت ولري، نو په سورت فاتحه کې د رب العلمين لفظ څخه يې دغه صفت ثابت کړى، بيا دوهم صفت د پاچا دا پکار دى چې څه چې د هغه رعاياوو د خپلې آبادۍ لپاره اړين سامان ته اړتيا ده هغه پرته له بدله د هغوى خدمتونه خپله د خسروانه رحم نه پوره کړي، نو د الرحمن لفظ څخه يې دغه صفت ثابت کړى دى. دريم صفت په پاچا کې دا پکار دى چې کوم کارونه چې رعايا په خپل زيار سره سر ته ونه شي رسولاى د هغه د سرته رسولو لپاره په مناسبه توګه مرسته وکړي، نو د الرحيم لفظ څخه يې دغه صفت ثابت کړى دى. څلورم صفت په پاچا کې دغه پکار دى چې په جزا او سزا قادر وي ترڅو د مدني سياست په کارونو کې خلل پرې نوځي، نو د مالک يوم الدين په لفظ کې يې دغه صفت څرګند کړى دى. لنډه دا چې پورتنى ياد صورت ټول د پاچاهۍ لوازم وړاندې کړي، د کومو څخه ثابتيږي چې پر ځمکه د خداى پاچاهي شته او د واکمنۍ تصرفات شتون لري، نو د هغه ربوبيت هم شتون لري، رحمانيت هم شتون لري، رحيميت هم شتون لري، د مرستې ورکولو لړۍ هم شته او د سزا لړۍ هم شته ده. مطلب د پاچاهۍ د لوازماتو څخه چې څه وي پر ځمکه ټول د خداى موجود دي. او يوه زره هم د هغه د حکم څخه د

باندې نه ده. هره یوه جزا د هغه په لاس کې ده، هر یو رحمت د هغه په لاس کې دی، مګر انجیل دا دعا ور ښیي، چې لا تر اوسه د خدای پاچاهي تاسو کې راغلې نه ده، د هغه د راتلو د خدای څخه دعا غواړئ ترڅو هغه راشي، یعنې لا تراوسه د هغوی خدای د ځمکې مالک او پاچا نه دی. د همدې لپاره د داسې خدای څخه څه تمه کیدای شي؟ واورئ او پوه شئ چې لوی معرفت همدا دی چې د ځمکې زره، زره همدارنګه د خدای د اقتدار په ولکه کې ده لکه څرنګه چې د آسمان زره، زره د خدای په پاچاهۍ کې ده او لکه څرنګه چې په آسمان کې یوه عظیم الشانه تجلي ده پر ځمکه هم یوه عظیم الشانه تجلي ده. بلکه د آسمان تجلي خو یوه ایماني خبره ده عام انسانان نه آسمان ته تللي او نه یې د هغه ننداره کړې.

مګر په ځمکه چې کومه د خدای د پاچاهۍ تجلي ده، هغه خو څرګنده هر یو شخص په سترګو ویني*[١٠] هر یو انسان که هغه هر څومره شتمن وي د خپلې هیلې په مخالف د مرګ پیاله څښي، نو وګورئ د هغه حقیقي پاچا د حکم پر ځمکه څنګه تجلي ده، کله چې حکم راځي، نو هېڅوک خپل مرګ یوه ثانیه هم نشي درولی. هره یوه خبیثه او نه رغېدونکي ناروغي چې کله لاحقه شي، نو کوم طبیب ډاکټر یې نشي لېرې کولی. نو غور وکړئ دا پر ځمکه څرنګه د خدای د پاچاهۍ تجلي ده، چې د هغه حکمونه نشي رد کېدای. نو بیا ولې وویل شي چې پر ځمکه د خدای پاچاهي نشته؟ بلکه په راتلونکي کومه زمانه کې به راځي. وګورئ په همدې زمانه کې د خدای آسماني حکم، په طاعون سره ځمکه وخوځوله ترڅو د هغه د مسیح موعود لپاره یو نشان وي، نو څوک دی چې د هغه د خوښې پرته هغه لېرې کړای شي نو بیا څنګه ویلی شي چې پر ځمکه د خدای پاچاهي نشته؟ هو، یو بدکار د بندیانو په شان د هغه په ځمکه ژوند کوي او هغه غواړي چې هېڅکله مړ نشي، لېکن د خدای ریښتینې پاچاهي هغه هلاکوي او هغه آخر د ملک الموت په پنجه کې ګرفتاریږي، نو بیا ولې وویل شي چې د خدای پاچاهي پر ځمکه باندې نشته؟ وګورئ په ځمکه باندې هره ورځ د خدای په حکم سره په یو ساعت کې کروړونو انسانان مړه کیږي او کروړونه د هغه په ارادې سره پیدا کیږي او په کروړونو د هغه په خوښې د غریب څخه شتمن او د شتمن څخه بې وزله کیږي. نو بیا څنګه ویلی شي چې تر اوسه پر ځمکه د خدای پاچاهي نشته؟ په آسمانونو کې خو یوازې فرشتې اوسیږي؛ مګر په ځمکه خو انسانان هم دي او فرشتې هم، کومې چې د خدای کارکوونکې او دهغه واکمنۍ خادمې دي کومې چې د انسانانو د بېلابېلو کارونو ساتونکې پرېښودل شوي دي او هغه هر وخت د خدای اطاعت کوي او خپل راپورونه لیږي او رالیږي، نو څرنګه ویلی شو چې پر ځمکه د خدای پاچاهي نشته؟ بلکه خدای د ټولو څخه زیات د خپلې ځمکنۍ پاچاهۍ له مخې پېژندل شوی دی، هر یو شخص فکر کوي چې د آسمان راز مخفي او نه لیدونکی دی بلکه په اوسني زمانه کې نړۍ تمام عیسایان او د هغوی فلسفیان د آسمانونو د وجود هم قائل نه دي، پر کومې چې په انجیل کې د خدای د پاچاهۍ ټول مدار ایښودل شوی، مګر ځمکه خو یوه کُره زمونږ د پښو لاندې ده او په زرګونو د قضاء او قدر کارونه داسې پرې څرګندیږي چې خپله پرې پوهیږو چې دا ټول هر څه تغیر، بدلون، نوی پیدایښت او فنا د یو ځانګړي مالک په حکم سره کیږي، نو بیا ولې وویل شي چې پر ځمکه لا تر اوسه د خدای پاچاهي نشته؟ بلکه داسې تعلیم په داسې زمانه کې کله چې په عیسایانو کې په ډېر ځواک سره د اسمانونو انکار شوی دی ډېر ناسم دی، ځکه چې د انجیل په دعا

---

[١٠] * آیت وَحَمَلَهَا ٱلْإِنْسَانُ ط(الاحزاب ٧٣) هم دلالت کوي، چې د خدای تعالٰی حقیقي مطیع انسان دی، چې خپل اطاعت مینې او عشق ته رسوي او دخدای پاچاهي د زرګونو بلاګانو په سر اخېستلو سره پرځمکه ثابتوي، نودغه اطاعت چې د زړه له درد سره یو ځای وي فرشتې کله هغه په ځای کولی شي ـ منه

حاشیه

کې خو منل شوې ده چې تر اوسه پر ځمکه باندې د خدای پاچاهي نشته او په بل لورې ټولو عیسایي ځپړونکو د زړه له کومې دا خبره منلې ده یعنې د خپلو نویو ځپړنو سره دا پریکړه کړې ده چې آسمان هېڅ کوم شی نه دی د هغه کوم وجود نشته، نو ترلاسه دا شو، چې د خدای پاچاهي نه په ځمکه شته او نه په آسمان کې. دآسمان څخه خو عیسائیانو انکار وکړ او د ځمکې د پاچاهۍ څخه د هغو انجیل خدای ته ځواب ورکړ د هغوی په وینا د خدای سره نه د ځمکې پاچاهي پاتې شوه او نه د آسمان، مګر زمونږ عزوجل خدای په سوره فاتحه کې نه د آسمان نوم واخېست او نه د ځمکې نوم واخېست او د دې په ویلو سره یې د حقیقت څخه مونږ ته خبر راکړ چې هغه رب العالمین دی یعنې ترکومه چې آبادي ده* [۱۱] او تر کومه ځایه چې د هر ډول مخلوق شتون لري، که هغه اجسام که ارواح د هغو ټولو پیدا کوونکی او پالونکی خدای دی، کوم چې هر وخت د هغوی پالنه کوي او د هغوی د حال وړ انتظام کوي. او په ټولو عالمونو هر وخت او هره ګړۍ د هغه ربوبیت، رحمانیت، رحیمیت، جزا او سزا پرله پسې جاري ده او په یاد دې وي چې په سورۀ فاتحه کې د مالک یوم الدین فقرې څخه یواځې دا موخه نه ده چې په قیامت کې به جزا او سزا وي بلکه په قرآن شریف کې په ځلونو او بېکاره، بېکاره بیان کړل شوی دی چې قیامت خو د مجازات کبرای وخت دی، مګر یو ډول مجازات په همدې دنیا کې شروع دي، د کوم لور ته چې آیت یَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا (الانفال:۳۰) اشاره کوي اوس دا خبره هم واورئ چې د انجیل په دعا کې خو د هرې ورځې ډوډۍ غوښتل شوې ده لکه وایي چې: '' زمونږ ورځنۍ ډوډۍ نن مونږ ته راکړه '' مګر تعجب دی چې د چا چې تر اوسه په ځمکه کې پاچاهي نه ده راغلې هغه څرنګه ډوډۍ ورکولی شي تر اوسه خو ټول فصلونه او ټولې میوې د هغه په حکم نه بلکه خپله پخیرې او پخپله بارانونه کیږي د هغه څه واک دی چې چا ته ډوډۍ ورکړي؟ کله چې پاچاهي ځمکې ته راشي بیا د هغه څخه ډوډۍ غوښتل پکار دي. اوس خو هغه د هر ځمکني شي څخه بې واکه دی، کله چې په دې جائیداد پوره ولکه تر لاسه کړي، بیا چا ته ډوډۍ ورکولی شي او دا وخت خو د هغه څخه غوښتل هم صحیح نه دي او بیا د دې څخه وروسته دا خبره، لکه څرنګه چې مونږ خپل پوروړي بخښو ته هم خپل پور مونږ ته وبخښه په دې صورت کې دا هم سمه نه ده، ځکه چې د ځمکې پاچاهي خو لا تر اوسه هغه ته لاس ته نه ده ورغلې او تر اوسه عیسایانو د هغه د لاسه څه اخیستي او خوړلي نه دي، نو کوم یو پور شو؟ نو د داسې تش لاسي خدای څخه د پور د بخښنې څه اړتیا نشته او نه د هغه څخه کوم ډار شته، ځکه چې په ځمکه تر اوسه د هغه پاچاهي نشته او نه د حکومت متروکه (دُره)، کوم ډار کښېنولی شي څه جرئت چې هغه کوم مجرم ته سزا ورکړی شي، یا د موسٰی په زمانه کې د نافرمان قوم په شان د طاعون څخه هلاک کړی شي یا د لوط د قوم په شان پر هغوي ډبرې ووروللی شي یا زلزله یا تندر او عذاب سره نه منونکي نابود کړی شي، ځکه چې تر اوسه خو په ځمکه د خدای پاچاهي نشته، نو ځکه چې د عیسایانو خدای دومره کمزوری دی، لکه څرنګه چې د هغه زوی کمزوری وو همدا شان لاس رسی نلري لکه څرنګه یې چې زوی لاس رسی نه درلود بیا د هغه څخه داسې دعاوې غوښتل بې ګټې وي، چې مونږ ته قرض راوبخښه هغه کله پور ورکړی وو چې ویې بخښي ځکه چې تر اوسه، خو پر ځمکه د هغه پاچاهي نشته، کله چې پر ځمکه د هغه پاچاهي هم نشته، نو د ځمکې زرغونول د هغه په حکم نه دي او ځمکني ځیزونه د هغه نه دي، په خپل سر دي، ځکه چې د هغه حکم پر ځمکه نافذ نه دی، او کله چې هغه پر ځمکه واکمن او پاچا نه دی او هېڅ ځمکنی آسایش د هغه په شاهانه حکم باندې نه دی، نو هغه ته نه د

[۱۱]*وګورئ دغه لفظ رب العالمین څرنګه هر اړخیزه کلمه ده که ثابت شي چې په اسماني اجرامو کې آبادۍ شته بیا هم هغه آبادۍ به د دې کلمې لاندې راشي. منه

حاشیه

سزا واک شته نه حق لري. له همدي امله داسي کمزوری خپل خدای ګرځول او دهغه څخه په ځمکه د اوسېدلو سره د کوم کار کولو هیله لرل ناپوهي ده. ځکه چې د هغه خو لا په ځمکه پاچاهي نشته. لېکن د سوره فاتحي دعا مونږ ته رابنیي چې خدای ته پر ځمکه هر وخت هماغه اقتدار ترلاسه دی لکه څرنګه چې په نورو عالمونو واکمني ترلاسه ده او د سورت فاتحي په سر کې د خدای د هغو کاملو اقتداري صفتونو ذکر دی، چې په دنیا کې هېڅ کوم بل کتاب په دومره صفایې سره ذکر نه دی کړی، لکه څرنګه چې الله تعالٰی فرمایي چې هغه رحمان دی، هغه رحیم دی، هغه مالک یوم الدین دی، بیا هغه دعاوو د غوښتلو تعلیم ښودلی او دعا چې غوښتل شوې ده، هغه د مسیح د ښودل شوې دعا په شان چې یواځې د ورځنۍ ډوډۍ درخواست نه دی، بلکه کوم، کوم استعداد چې انساني فطرت ته د ازل څخه وربخښل شوی دی او هغه ته تنه ده ورکړ شوې ده هغه دعا ورته ښودل شوې ده او هغه دا ده چې: ٱهْدِنَا ٱلصِّرَاطَ ٱلْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ ٱلَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (فاتحه ٧،٦) یعني ای د هغو کاملو صفتونو خاونده او داسي فیض رسوونکیه چې زره، زره ستا څخه پالنه مومي او ستا د رحمانیت او رحیمیت او د جزا او سزا د قدرت څخه ګټه پورته کوي مونږ د تېرو رېښتینو وارث وګرځوه او هر یو نعمت دې چې هغوی ته ورکړی، مونږ ته یې هم راکړه او مونږ وساته، چې مونږ په نه منونکو کېدو سره د غضب وړ ونه ګرځو او مونږ وساته چې مونږ ستا د مرستې څخه په بې برخې پاتې کېدو سره ګمراه نه شو. آمین.
اوس د دې ټولو تحقیقاتو څخه د انجیل د دعا او د قرآن په دعا کې توپیر ښکاره شو انجیل، خو د خدای د پاچاهۍ د راتللو یوه ژمنه کوي، مګر قرآن وایي چې د خدای پاچاهي په تاسو کې شتون لري نه یواځې شتون لري بلکه په عملی توګه پر تاسو فیض هم جاري دی. مقصد په انجیل کې، خو یواځې یوه ژمنه ده، مګر قرآن نه یواځې ژمنه بلکه د قائمې شوې پاچاهۍ او دهغه فیضونه ښکاره کوي، نو اوس د قرآن فضلیت د دې څخه څرګند دی چې هغه، هغه خدای وړاندې کوي کوم چې په همدې ژوند کې د رېښتینو ژغورونکی او آرام ورکوونکی دی او هېڅ نفس د هغه د فیض څخه خالي نه دی بلکه په هر نفس باندې د هغه ربوبیت، رحمانیت او رحیمیت په مطابق فیض جاري دی، مګر انجیل هغه خدای وړاندې کوي د کوم چې لاتر اوسه پاچاهي دنیا ته نه ده راغلې یواځې ژمنه ده اوس فکر وکړئ، چې عقل کوم د پیروی وړ ګڼي حافظ شیرازي رېښتیا ویلي دي:

مرید پیر مغانم زمن مرنج ای شیخ

چرا که وعده تو کردی و او بجا آورد

ژباړه:(د اور پرسته پیر مرید یم زما څخه مه خفه کیږه ای شیخه، ځکه چې ژمنه تا وکړه خو سرته هغه ورسوله.)

او په انجیلونو کې د نرم خویو، بې وزلو، مسکینانو ستاینه شوې ده او همدارنګه د هغو ستاینه څوک چې ځوروونکي کیږي او مقابله نه کوي، مګر قرآن یواځې دا نه وایي چې تاسو هر مهال مسکین جوړ شئ او د شر مقابله مه کوئ بلکه وایي چې حلم، مسکیني، غربت او د مقابلې نه کول ښه دي، مګر که بې ځایه بې موقع استعمال کړی شي نو بد دي، نو تاسې محل او موقع په لیدلو سره هره نېکي وکړئ ځکه چې هغه نیکي بدي ده چې د محل او موقع په خلاف وي، لکه څنګه چې تاسې وینئ چې باران څومره عمده او اړین څیز دی لیکن که هغه بې موقع وي هماغه د تباهۍ موجب کیږي. تا سو وینئ چې د یو ساړه خواړه او یا ګرم خواړه دوام سره ستاسو صحت قائم نشي پاتې کېدای بلکه صحت به هلته

قائم پاتې شي، کله چې د موقع او محل سره سم ستاسو د خوراک او څښاک په شیانو کې بدلون کیږي راکیږي، نو سختوالی او نرم والی، عفو او انتقام او دعا او ښپرا او په نورو اخلاقو کې چې ستاسو لپاره د وخت مصلحت دی هغه هم همدا تبدیلي غواړي. د اعلی درجې حلیم او د اخلاقوخاوند جوړ شئ، مګر نه بې محل او موقع او د دې سره دا هم په یاد وساتئ، چې حقیقي غوره اخلاق د کومو سره چې د نفساني موخو زهرجن ګډون نشته هغه د پاسه څخه د روح القدس په ذریعې راځي، نو تاسې دغه غوره اخلاق په خپلو کوښښونو سره نشئ ترلاسه کولئ، تر څو چې تاسو ته د پورته څخه هغه اخلاق عنایت نشي او هر یو چې د آسماني فیض څخه د روح القدس په ذریعې د اخلاقو څخه برخه نه ترلاسه کوي هغه د اخلاقو په دعوای کې دروغجن دی. او دهغه د اوبو لاندې ډبرې زیاتې خټې دي او ډبر زیات خوشایه دي، کوم چې د نفساني جوشونو په وخت کې را ښکاره کیږي، نو تاسو د خدای څخه هر وخت توان غواړئ، چې د هغه خټو څخه او هغو خوشایو څخه تاسو نجات وموميئ او روح القدس په تاسو کې ریښتینی پاکوالی او لطافت پیدا کړي په یاد وساتئ، چې ریښتیني او پاک اخلاق د ریښتینو معجزه ده، په کومو کې چې هېڅ غیر شریک نه دی. ځکه څوک چې په خدای کې نه محوه کیږي، هغه د پاسه څخه قوت نه مومي له دې امله د هغوی لپاره ممکنه نه ده، چې هغوی پاک اخلاق تر لاسه کړی شي، نو تاسو د خپل خدای سره پاکه اړیکه پیدا کړئ. ملنډې، خندا، کینه ساتل، بد زباني، حرص، درواغ، بدکاري، بدنظري، بد خیالي، دنیا پرستي، تکبر، غرور، ځان ښودنه، شرارت، کج بحثي، ټول پرېږدئ بیا به دا هرڅه تاسو ته د آسمان څخه تر لاسه شي.

تر څو چې هغه پورتنی طاقت، کوم چې تاسو د پورته خوا ته را کاږلو سره ویسي، ستاسو د حال شامل نه وي او روح القدس چې ژوند بخښي په تاسو کې داخل نه شي، تر هغه پورې تاسو ډېر کمزوري او په تیاره کې لوبډلي یاست. بلکه یو مړی یاست په کوم کې چې ځان نه وي. په دې حالت کې، خو نه تاسو د کوم مصیبت سیالي کولئ شئ، او نه د اقبال او دولت مندۍ په حالت کې په کبر او غرور سره ژغورل کېدای شئ او له هر اړخه تاسو د شیطان او د نفس مغلوب یاست، نو په حقیقت کې ستا سو درملنه یواځې یوه ده، روح القدس چې ځانګړی د خدای د لاس څخه ښکته کیږي، ستا مخ د نېکۍ او ریښتینولۍ لورته واړوي، نو تاسو ابناء السمآء وګرځئ نه ابناء الارض او د رڼا وارث وګرځئ نه د تیارو مین، تر څو چې تاسو د شیطان د لارې څخه په امن کې راشئ ځکه چې شیطان د تل لپاره د تیارو سره کار وي، د ورځ سره یې کار نه وي، ځکه چې هغه پخوانی غل دی په تیاره کې ګام ږدي.

سوره فاتحه یواځې تعلیم نه دی بلکه په هغه کې یوه لویه وړاندوینه هم ده او هغه دا چې خدای خپل څلور واړه صفتونه ربوبیت، رحمانیت، رحیمیت او مالک یوم الدین یعنې د جزا او سزا د اقتدار په ذکر کولو سره او د خپل عام قدرت په څرګندولو، بیا د دې څخه وروسته آیتونو کې دغه دعا ښودلې ده، چې خدایه داسې وکړه چې د تېرو ریښتینو نبیانو رسولانو مونږ وارث وګرځول شو د هغوی لارې پر مونږ پرانېستل شي، د هغوی نعمتونه مونږ ته راکړل شي، خدایه مونږ د دې څخه وژغوره چې مونږ د هغه قوم څخه شو په کوم چې په دنیا کې ستا عذاب نازل شو یعنې یهود، چې د عیسٰی مسیح په وخت کې وو چې په طاعون سره هلاک کړی شول. خدایه مونږ له دې څخه وساته چې د هغه قوم څخه وګرځو، د کوم د چا سره چې ستا لارښونه ملګري نه وه او هغه ګمراه شول یعنې نصارای. په دې دعا کې دغه وړاند وینه پټه ده، چې ځینې به د مسلمانانو څخه داسې وي چې هغوی به د خپل صدق او پاکوالي له امله د وړاندې انبیاؤ وارث شي او د نبوت او رسالت نعمتونه به تر لاسه کړي او ځینې به

يهودي صفته شي، په کومو چې به هم په دنيا کې عذاب نازل شي او ځينې به داسې وي چې د عيسايت جامه به واغوندي، ځکه چې د خدای په کلام کې دا دوامداره سنت دي کله چې يو قوم د يو کار کولو څخه منع کيږي، نو هرومرو به د هغوی څخه ځينې داسې وي چې د خدای په علم کې به د هغه کار کولو ترسره کوونکي وي او ځينې به داسې وي، چې هغه د نېکۍ او نېکمرغۍ څخه برخه اخلي. د دنيا د پېل څخه تر آخره پورې څومره چې خدای کتابونه راليږلي په هغو ټولو کتابونو کې دا دخدای پخوانۍ سنت دی، کله چې هغه يو قوم د يو کار څخه منع کوي يا د يو کار رغبت ورکوي، نو د هغه په علم کې دا مقدر وي چې ځينې به دغه کار کوي او ځينې نه. نو دا سورت وړاندوينه کوي چې يو تن د دې امت څخه به د نبيانو په شکل کې ظاهريږي تر څو هغه وړاندوينه کومه چې د آيت صِرَاطَ ٱلَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (الفاتحه:۷) څخه استنباطيږي هغه په بشپړه او کامله توګه پوره شي او کومه ډله د هغوی څخه د يهوديانو په رنګ کې ظاهره شي پر کومو چې حضرت عيسىٰ لعنت کړی و، او هغه په الهي عذاب اخته شوي وو تر څو هغه پېشګويي چې د آيت غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ (الفاتحه:۷) څخه استنباطيږي ښکاره شي. او کومه ډله د هغوی څخه به د عيسايانو په شان شي، چې د خدای د لارښوونې څخه د خپلو شراب څښلو په وجه، مباح ګڼلو، فسق او فجور په وجه بې نصيبه شول ترڅو هغه پېشګويي، چې د آيت وَلَا ٱلضَّآلِّينَ څخه راوځي ښکاره شي. او ځکه چې دا خبره د مسلمانانو په عقيده کې شامله ده چې په آخري زمانه کې به په زرګونو ځان ته مسلمان ويونکي يهودي صفته شي. اود قرآن کريم په يو څو مقاماتو کې هم همدا وړاندوينه شتون لري او د سلګونو مسلمانانو عيسايي کېدل يا د عيسايانو په شان بې قيده او آزاد ژوند غوره کول خپله ښکاره او احساسيږي. بلکه ډېری تش په نامه مسلمان داسې دي چې هغوی د عيسايانو د ژوند بڼه خوښوي او د مسلمان ويل کېدو سره لمانځه، روژې، د حرام او حلال حکمونو ته ډېر په کرکه ګوري او دغه دواړه فرقې د يهودي صفت او عيسايي صفت په دې ملک کې خپرې ترسترګو کيږي، نو دغه دوه وړاندويني د سوره فاتحې، خو تاسو ترسره شوي ليدلي او پخپلو سترګو مو کتلي، چې څومره مسلمانان يهودي صفته او څومره د عيسايانو په جامه کې دي. نو اوس درپېمه وړاندوينه خپله د منلو وړ ده، ځرنګه چې مسلمانانو د يهوديانو او عيسايانو د جوړيدلو سره د يهودو او نصاراوو د بديو څخه برخه واخېسته، همدارنګه د هغوی حق و چې ځينې کسان ددوی د هغو د پاکو خلکومرتبه او مقام ترلاسه کړي، کوم چې په بني اسرائيلو کې تېر شوي دي دا پر خدای تعالىٰ باندې بدګماني ده، چې هغه خو مسلمانان د يهودو او نصاراوو د بديو خو برخه اخېستونکي ګرځولي دي تر دې چې د هغوی نوم يې يهود هم کېښود، مګر د هغوی د رسولانو او نبيانو د مرتبې څخه يې دغه امت ته هېڅ برخه ورنکړه نو بيا دغه امت په څه وجه خيرالامم شو؟ بلکه شرالامم شو چې هره د شر نمونه هغوی ته تر لاسه شوه ليکن د نيکۍ نمونه تر لاسه نه شوه آيا اړينه نه ده چې په دې امت کې څوک د نبيانو اورسولانو په بڼه کې تر سترګو شي چې د بني اسرائيلو د ټولو نبيانو وارث او دهغو ظل وي؟ ځکه چې د خدای د رحمت څخه لېرې ده چې هغه په دې امت کې په دې زمانه کې په زرګونو يهودي صفته خلک، خو پيدا کړي او په زرګونو په عيسايي مذهب کې داخل کړي، مګر يو شخص هم داسې ښکاره نکړي چې د تېرو نبيانو وارث او دهغوی د نعمت تر لاسه کوونکی وي. وړاندوينه کومه چې د آيت ٱهْدِنَا ٱلصِّرَاطَ ٱلْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ ٱلَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (الفاتحه ۷،٦) څخه استنباط کيږي هغه هم همداسې پوره شي لکه څرنګه چې د يهودي او عيسايي کېدو وړاندوينه پوره شوه. او په کوم حالت کې چې دې امت ته په زرګونو خراب نومونه ورکړل شوي دي او د قرآن شريف او احاديثو څخه ثابتيږي، چې يهود کېدل هم د دوی په برخه کې دي نو په دې صورت کې د خدای د فضل پخپله دا غوښتنه پکار

وه، چې څرنګه دوی د تېرو نصاراوو څخه بد شیان واخېستل همدا شان هغوی د نېکو شیانو هم وارث وي دهمدې لپاره خدای تعالٰی په آیت ٱهْدِنَا ٱلصِّرَاطَ ٱلْمُسْتَقِيْمَ کې زیری ورکړ، چې په دې امت کې ځینې کسان به د تېرو نبیانو نعمت تر لاسه کړي نه دا چې صرف یهودي جوړ شي یا عیسایان وګرځي او د هغو قومونو بدی، خو واخلي مګر نېکی تر لاسه نه شي کړای. د همدې لورته یې په سورت تحریم کې هم اشاره کړې ده، چې د امت د ځینو کسانو په اړه یې فرمایلي دي، چې هغوی به د مریم صدیقې سره ورته والی ولري کومې چې پرهېزګاري غوره کړه هله بیا د هغې په رحم کې د عیسٰی روح ور پوکړل شو او د هغې څخه عیسٰی پیدا شو. په دې آیت کې دې خبرې ته اشاره وه، چې په دې امت کې به یوکس وي چې لومړی به د مریم مرتبه هغه ته ورکړل شي بیا به په هغه کې د عیسٰی روح ور وپوکل شي بیا به د مریم څخه عیسٰی راوځي یعنې هغه به له مریمي صفتونو څخه د عیسوي صفتونو لورته ولیږدول شي، ګواکې چې د مریم کیدو صفت د عیسٰی کېدو ماشوم وځیږولو او په دې توګه به هغه ته ابن مریم وویل شي لکه څرنګه چې په براهین احمدیه کې اول زما نوم مریم کېښودل شو. او همدې لورته اشاره ده د ٢٤١ پاڼې په الهام کې او هغه دا دی چې: انی لک هذا- یعنی ای مریمې تا دغه نعمت له کومه ځایه تر لاسه کړ؟ او همدې لورته په ٢٢٦ پاڼه کې یعنې په دې الهام کې چې: هزی الیک بجذع النخله - یعنی ای مریمې د خرما تنه وخوځوه او بیا د هغه څخه وروسته په صفحه ٤٩٦ براهین احمدیه کې دا الهام دی یا مریم اسکن انت و زوجک الجنه نفخت فیک من لدنی روح الصدق یعنې اې مریم ته له خپلو ملګرو سره جنت ته داخله شه ما په تا کې له خپل اړخ څخه د صدق روح درپو کړ خدای په دې آیت کې*[١٢] زما نوم روح الصدق کېښود. دادې ددې آیت په مقابل کې دی چې نفخنا فیه من روحنا نو دغه ځای ګواکې د استعارې په ډول د مریم په ګېډه کې د عیسی روح پرېوت د کوم نوم چې روح الصدق دی بیا تر ټولو آخر د براهین احمدیه په پاڼه ٥٥٦ کې د هغه عیسٰی چې د مریم په ګېډه کې و د هغه د پیدا کېدو په اړه دغه الهام وشو: يَـٰعِيسَىٰٓ إِنِّى مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَىَّ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوْقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۖ(ال عمران :٥٦) دلته زما نوم عیسٰی کېښودل شو او دې الهام ښکاره کړه چې هغه عیسٰی پیدا شو د کوم د روح پو کول چې په ٤٩٦ پاڼه کې ښکاره شوي وو. نو په دې لحاظ ما ته عیسٰی بن مریم وویل شول، ځکه چې زما عیسوي حیثیت د مریمي حیثیت څخه د خدای د روح د پو کولو(نفخ) څخه پیدا شو. وګورئ د براهین احمدیه صفحه ٤٩٦ او ٥٥٦. او همدا واقعه په سورت تحریم کې د وړاندوینې په توګه په بشپړ تصریح سره بیان کړل شوې ده، چې په دې امت کې به عیسٰی ابن مریم په دې توګه پیدا شي، چې لمړی به یو فرد د دې امت مریم وګرځول شي او وروسته به د دې څخه په هغې مریم کې د عیسٰی روح وروپوکول شي، نو هغه به د مریمیت په رحم کې تر یوې مودې پورې پالنه ترلاسه کولو سره د عیسٰی په روحانیت کې پیدایښت بیا مومي او په دې توګه به هغه ته عیسٰی بن مریم وویل شي. دا هغه خبر د محمدي ابن مریم په اړه دی، کوم چې د قرآن شریف په سورت تحریم کې د دې زمانې څخه ١٣٠٠ کاله وړاندې بیان کړل شوی دی او بیا په براهین احمدیه کې د سورت تحریم د دغو آیتونو خدای خپله تفسیر فرمایلی دی. قرآن شریف شتون لري یو خوا ته قرآن شریف کیږدئ او بل لور ته براهین احمدیه او بیا د انصاف او عقل او تقوا سره فکر وکړئ چې هغه وړاندوینه چې په سورت تحریم کې وه یعنې دا چې په دې امت کې به هم کوم فرد ته مریم وویل شي او بیا به مریم عیسٰی وګرځول شي، ګواکې چې د هغې څخه به پیدا شي هغه په کوم ډول د براهین احمدیه د

---

[١٢] * دلته د آیت څخه مراد الهام دی لکه څرنګه چې د دې څخه څو کرښې وړاندې خپله حضرت مسیح موعود علیه السلام هغه الهام ګرځولی دی – (ناشر)

الهامونو څخه پوره شوه. آیا دا د انسان قدرت دی آیا دا زما په واک کې و او آیا زه هغه وخت موجود وم کله چې قرآن شریف نازلیده ترڅو ما عرض کړی وی، چې زما د ابن مریم جوړولو لپاره د کوم آیت نازل کړای شي او د دې اعتراض څخه د ما بري کړی شي چې ولې تا ته ابن مریم وویل شي. آیا د نن څخه شل ۲۰ یا ۲۲ دوه ویشت کاله وړاندې بلکه د دې څخه هم وړاندې زما لخوا دغه پلان کېدای شو چې زه د خپل ځان له خوا الهام راجوړ لمړی مې خپل نوم مریم ایښی وای او بیا وړاندې لاړ وی د افتراء په ډول مې دغه الهام جوړ کړی وی چې د پخوا زمانې د مریم په شان په ما کې هم د عیسٰی روح راپو کړل شو او بیا په پای کې د براهین احمدیه په ۵۵۶ پاڼه کې لیکلي وی چې اوس زه مریم څخه عیسٰی جوړ شوم؟ ای عزیزانو! پام وکړئ او له خدایه وډار شئ دا هېڅکله د انسان فعل نه دی دغه باریک او دقیق حکمتونه د انسان د پوهې او اندازې څخه پورته دي که د براهین احمدیه د لیکلو په وخت، پر کوم چې یوه زمانه تېره شوې ده ماته د دغه پلان فکر وای نو ما به په هماغه براهین احمدیه کې ولې لیکل چې عیسٰی ابن مریم به د آسمان څخه دوهم ځل ښېرته راځي، نو ځکه چې خدای تعالٰی پوهیدو چې پردې ټکي د پوهیدلو سره به دغه دلیل ضعیف پریوځي د همدې لپاره د براهین احمدیه په درېیمه برخه کې یې زما نوم مریم کیښود بیا لکه څرنګه، چې د براهین احمدیه څخه ښکاره ده دوه کاله پورې په مریمي صفت کې ما پالنه ومونډله او په پرده کې ما پالنه ترلاسه کوله، بیا کله چې پرهغه دوه کاله تېر شول، نولکه څرنګه چې د براهین احمدیه په څلورمه برخه، پاڼه ۴۹۶ کې لیکلي دي د مریمې په شان د عیسٰی روح په ما کې نفخ شو او د استعارې په ډول زه حامله وګرځول شوم او په پای کې د څو میاشتو وروسته چې د لسو میاشتو څخه زیات نه دی د دې الهام په ذریعې چې د ټولو څخه په آخرکې د براهین احمدیه په څلورمه برخه ۵۵۶ صفحه کې لیکلي دي زه د مریم څخه عیسٰی وګرځول شوم نو په دې توګه زه ابن مریم وګرځول شوم او خدای د براهین احمدیه په وخت کې د دې پټ راز ماته خبر را نکړ، حال دا چې هغه ټوله د خدای وحي چې په دې راز مشتمله وه پر ما نازله شوه او په براهین کې ولیکل شوه، مګر ماته د هغې په معنا اودغه ترتیب خبر رانکړ شو د همدې له کبله ما د مسلمانانو رسمي عقیده په براهین احمدیه کې ولیکله ترڅو زما سادګي او عدم تصنع باندی هغه ګواه وي. هغه لیکل چې الهامي نه وو یوائې رسمي وو د مخالفینو لپاره د استناد وړ نه دي ځکه چې ماته پخپله د غیب دعوا نشته، ترڅو چې خپله خدای تعالٰی مې پوه نکړي. نو تر هغه وخته پورې د خدای د حکمت همدا غوښتنه وه چې د براهین احمدیه ځینې الهامي رازونو باندې زه پوه نشم، مګر کله چې وخت راغی نو هغه رازونه ماته راوښودل شول بیا نو ما معلومه کړه، چې زما د دې د مسیح موعود کیدو په دعوای کې کومه نوې خبره نشته دا هماغه دعوای ده، کومه چې په براهین احمدیه کې په ځلونو په وضاحت سره لیکل شوې ده. په دې ځای کې د یو بل الهام هم ذکر کوم او زما په یاد نه دي، چې هغه الهام ما په خپله کومه رساله کې یا اعلان کې خپور کړی دی او که نه لیکن دا مې یاد دي چې په سلګونو خلکو ته ما اورولی و او زما د الهامونو په یاداشت کې موجود دی او هغه، د هغې زمانې دی چې کله ماته خدای د مریم خطاب وکړ او بیا یې د نفخ روح الهام وکړ. بیا د دې څخه وروسته دا الهام شوی و فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ قَالَتْ يَـٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَـٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا. یعني بیا مریم ته چې مراد تري دغه عاجز دی د زیږون درد د خرما تنې خواته راوسته یعني عوام الناس او جاهلو او ناپوهو علماوو سره مخ شو، د کومو سره چې د ایمان میوه نه وه کومو چې تکفیر او توهین وکړ او ښکنځلې یې راته وکړې او یو طوفان یې جوړ کړ بیا مریمې وویل کاش زه ددې څخه وړاندې مړه شوې وای او زما نوم او نشان باقي پاتې نه وای دا د هغه شور طرف ته اشاره ده چې په پیل کې د ملایانو لخوا په ټولیزه ښه

جوړ شو او هغوی دغه دعوای ونشوه زغملی او زه هغوی په هره بهانه فنا کول وغوښتم نو بیا هغه وخت، چې کوم غم او درد زما په زړه کې تېر شو د ناپوهانو د شور او غوغا په لیدلو سره د هغې دلته خدای تعالٰی نقشه ویستې ده او د دې په اړه نور هم الهامونه وو لکه چې: لَقَدْ جِئْتِ شَيْأً فَرِيًّا. مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا. او بیا د هغې سره دا الهام هم د براهین احمدیه په ۵۲۱ پاڼه کې موجود دی او هغه دا دی: أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُۥ ۖ وَلِنَجْعَلَهُۥٓ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا. قَوْلَ ٱلْحَقِّ ٱلَّذِى فِيهِ يَمْتَرُونَ. وګورئ د براهین احمدیه ٥١٦ پاڼه ۱۲ او ۱۳ کرښه. ژباړه: او خلکو وویل ای مریمې تا دا څه وکړل او د کرکې قابل کار دې وکړ چې د ربښتیا څخه لېرې دی او ستا پلار * [۱۳] او ستا مور خو داسې نه وو، مګر خدای به خپل بنده د دې تورونو څخه بري کړي او مونږ به هغه د خلکو لپاره یو نشان وګرځوو او دغه خبره د پېل څخه ټاکل شوې وه. او همداسې کیدونکې وه دغه عیسٰی بن مریم دی په کوم کې چې خلک شک کوي، همدا حقه خبره ده. دا ټول د براهین احمدیه عبارت دی او دغه الهام په اصل کې قرآني آیتونه دي کوم چې د حضرت عیسٰی او د هغه د مور په اړه دي. په دې آیتونو کې چې کوم عیسٰی خلکو د یو ناجایز پیدایښت انسان ګرځولی د همدې په اړه الله تعالٰی فرمایي، چې هغه به مونږ خپل نشان وګرځوو او همدا عیسٰی دی د چا چې انتظار و او په الهامي عبارتونو کې د مریم او عیسٰی څخه همدا زه مراد یم. زما په اړه ویل شوي دي چې مونږ به هغه نشان وګرځوو او همدارنګه وویل شول، چې دا هماغه عیسٰی بن مریم دی کوم چې راتلونکی و، په کوم کې چې خلک شک کوي. همدا حق دی او راتلونکی همدا دی او شک یواځې د ناپوهۍ په وجه دی کوم څوک چې د خدای رازونو باندې نه پوهیږي ظاهر پرست دي په حقیقت کې د هغوی سترګې نشته.

دا هم په یاد ساتل پکار دي چې د سورت فاتحې د عظیم الشانو موخو څخه دغه دعا ده چې ٱهْدِنَا ٱلصِّرَاطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ ٱلَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ. او لکه څرنګه چې د انجیل په دعا کې ډوډۍ غوښتل شوې ده په دې دعا کې د خدای تعالٰی څخه هغه ټول نعمتونه غوښتل شوي، کوم چې وړاندنیو رسولانو او نبیانو ته ورکړل شوي وو. دغه موازنه هم د لیدلو وړ ده او لکه څرنګه چې د حضرت مسیح د دعا په قبلیدلو سره عیسایانو ته د ډوډۍ ډېر سامان ترلاسه شوی همدارنګه دغه قرآني دعا د حضور صلی الله علیه وسلم په ذریعې قبوله د مسلمانانو غوره او نېک په ځانګړي ډول دهغوی کامل کس د بني اسرائیلو د انبیاوو وارث وګرځول شول او په اصل کې د مسیح موعود په دې امت کې پیدا کیدل هم د همدې دعا د قبولیت پایله ده ځکه چې په پټه توګه ډېرو غوره کړ شوو اونیکانو دبنی اسرائیلو د نبیانو د مماثلت برخه اخیستې ده مګر د دوی امت مسیح موعود په ښکاره ښکاره توګه د خدای په اذن او حکم سره د اسرائیلی مسیح په وړاندې درول شوی دی تر څو د موسوي او محمدي سلسلې یوشان والي پوهاوی وشي د همدې موخې لپاره دغه مسیح ته د ابن مریم سره د هر اړخه تشبیه ورکول شوې تر دې چې په دې ابن مریم آزمایښتونه هم د اسرائیلي ابن مریم په شان راغلل او لکه څرنګه چې عیسٰی ابن مریم یواځې د خدای د نفخې څخه پیدا کړی شو همدارنګه دغه مسیح هم د سورت تحریم د وعدې مطابق یواځې د خدای د نفخې څخه د مریم د ننه څخه پیدا کړی شو او لکه څرنګه چې د عیسٰی ابن مریم په پیدا کیدو باندې ډېر شور جوړ شو او ړندو مخالفینو مریم ته وویل چې لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا (مریم: ۲۸)

---

[۱۳] * په دې الهام سره زما په یاد شو چې په بټاله کې د فضل شاه یا مهرشاه په نوم یو سید و چې زما د پلار سره یې ډېره مینه لرله کله چې زما د مسیح موعود د دعوای چا هغه ته خبر ورکړ نو هغه ډېر وژړل او ویې ویل د هغه پلار ډېر ښه سړی و یعنې دا شخص چاته شوی د ده پلار خو نیک مزاج اود درواغو د کارونو څخه لیرې او سم سړی او صاف زړی مسلمان و همداشان ډېرو وویل چې تا خپل خاندان باندې داغ ولګولو چې داسې دعوای د وکړه. منه

حاشیه

همدارنګه دا ځای هم وویل شول او د قیامت شور اوچت کړ شو او لکه څرنګه چې خدای د اسرائیلي مریمې د زیږون په وخت کې مخالفینو ته دا ځواب ورکړی و چې: وَلِنَجْعَلَهُ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا (مریم : ٢٢) همدا ځواب خدای تعالٰی زما په اړه هم په براهین احمدیه کې د روحاني زیږون په وخت کې چې د استعارې په شکل کې وو مخالفینو ته ورکړ او ویې ویل چې تاسو په خپلو دوکو دی نشی له مینځه وړلی زه به هغه د خلکو لپاره د رحمت نشان وګرځوم او داسې کیدل له پیل څخه مقدر وو.

او بیا لکه څرنګه چې د یهودو علماوو پر حضرت عیسٰی باندې د کفر فتوای ولګوله او یو شریر یهودي عالم هغه فتوی تیاره کړه او نورو عالمانو پرهغې فتوه ورکړه، تر دې چې د بیت المقدس سلګونو پوهانو او عالمانو چې اکثر اهل حدیث وو هغوی پر حضرت عیسٰی د کفر ټاپې ولګولې * [١٤] همدا معامله ما سره وشوه او بیا لکه څرنګه چې د هغه تکفیر څخه وروسته کوم چې د حضرت عیسٰی په اړه شوی و هغه یې ډېر وځورولو سختې، سختې ښکنځل یې ورته کړې وې او په بد رد ویلو کې کتابونه لیکل شوي وو، همدا حال دلته پیښ شو ګواکې اتلس سوه کاله (١٨٠٠) وروسته هماغه عیسٰی بیا پیدا شو او هماغه یهودیان بیا پیدا شول. آه همدا معنا خو د دې وړاندوینې وه چې غیر المغضوب علیهم کوم چې خدای د وړاندې څخه پوهاوی کړی وو خو دې خلکو صبر ونه کړ ترڅو چې د یهودیانو په شان مغضوب علیهم شول. د دې ورتوالي یوه خبنته خو خدای په خپل لاس ولګوله چې عین د څوارلسمې پیړۍ په سر کې څرنګه چې مسیح ابن مریم د څوارلسمې پیړۍ په سر کې راغلی و، زه مسیح الاسلام کړم، راویې لیږلم او زما لپاره خپل زبردست نښانونه ښیي او د آسمان لاندې هیڅ مخالف مسلمان یا یهودي یا عیسایي او نور توان نه لري چې د هغه سیالي وکړي او د خدای سیالي به ذلیل او عاجز انسان څه وکولی شي؟ دا خو هغه بنسټیزه خبنته ده چې د خدای له لوري ده، هر یو چې دغه خبنته ماتول وغواړي، وبه نشي کولی چې ماته یې کړي. لیکن دغه خبنته چې کله په هغه راوغورځي، نو هغه به ټوټه، ټوټه کړي ځکه چې دغه خبنته د خدای، او لاس د خدای دی. او بله خبنته زما مخالفینو جوړه او د دې په وړاندې یې کښنوده، چې زما په وړاندې یې هغه کارونه وکړل کوم کارونه چې د هغه وخت یهودیانو کړي وو. تر دې چې زما د له منځه وړلو لپاره یوه د قتل دعوای هم جوړه کړل شوه، د کومې چې زما خدای ما ته

---

[١٤] * (د حضرت عیسٰی علیه السلام په وخت، که څه هم د یهودیانو ډېرې ډلې وې، مګر کومې چې رپیښتینې ګڼل کېدې هغه دوه فرقې شوې وې (١) یوه هغه چې تورات ته ژمنه وه، د هغه څخه یې د اجتهاد په توګه مسئلې استنباطولې. (٢) دوهمه ډله اهل حدیث وه، کومې چې احادیث پر تورات باندې قاضي ګڼل دغه اهل حدیث په اسرائیلي ملکونو کې ډېر خپاره شوي وو او په داسې، داسې حدیثونو باندې یې عمل کولو چې اکثر د تورات مخالف وو او ضد یې وو او د هغوی دا دلیل و، چې ځینې د شریعت مسایل د بېلګې په توګه عبادات ، معاملات او د جزا سزا د قانون مسایل په تورات کې نه موندل کیږي، پر هغوی د حدیثو له مخې خبرېدلای شي او د حدیثو د کتاب نوم طالمود و او په هغه کې د هر نبي د زماني حدیثونه وو. دغه حدیثونه تر یوې زماني پورې شفاهي پاتې شول او د یوې مودې وروسته ولیکل شول، د همدې له امله په هغوی کې د جعلي حدیثونو برخه هم شامله شوې وه، او د دې له امله هغه وخت د یهودیانو دري اویا ٧٣ فرقې جوړې شوې وې او هرې فرقې خپل حدیثونه بېل، بېل ساتل او محدثینو د تورات خواته پاملرنه پرېښودلې وه ډېرې په حدیثونو باندې عمل و او تورات ګواکې د پرېښودل شوي او غورځول شوي په شان و، که د حدیث مطابق راغی نو هغه یې ومانه که نه نو رد یې کړ. نو بیا هغه زمانه کې حضرت عیسٰی علیه السلام پیدا شو او د هغه مخاطب په ځانګړې توګه اهل حدیث وو چې د تورات څخه یې زیات د حدیثونو عزت کولو او د نبیانو په لیکلو کې د وړاندې څخه خبر ورکړ شوی و چې کله یهود په ډېرو فرقو وویشل شي او د خدای کتاب پریږدي د هغه خلاف به په حدیثونو عمل وکړي، نو هغه وخت به دوی ته یو حکم او عدل ورکړل شي، چې مسیح به ورته ویل کیږي او هغه به هغوی قبول نکړي آخر به سخت عذاب په هغوی نازل شي اوهغه (د) طاعون عذاب و نعوذ بالله - منه

حاشیه

د وړاندې خبر راکړی وو، هغه دعوای چې پرما وشوه هغه د حضرت عیسٰی بن مریم د دعوای څخه ډېره سخته وه، ځکه چې پر حضرت عیسٰی چې کومه دعوای شوې وه د هغې بنسټ یواځې پر مذهبي اختلاف باندې و، کومه چې د حاکم په وړاندې یوه وړه خبره وه، بلکه هېڅ هم نه وه، مګر په ما باندې چې کومه دعوای کړل شوې وه هغه دوژلو د هغې کولو دعوای وه بلکه څرنګه چې د مسیح په دعوای کې یهودي ملایان لاړ وو او ګواهي یې ورکړې وه، نو اړین و چې په دې دعوای کې هم کوم چا د ملایانو څخه ګواهي ورکړې وای. د دې په پار، د دغه کار لپاره خدای مولوي محمد حسین بټالوي غوره کړ او هغه یوه لویه اوږده چپنه اغوستې د ګواهۍ لپاره راغی، لکه څرنګه چې سردار کاهن د مسیح ته د صلیب ورکولو لپاره محکمې ته د ګواهۍ لپاره راغلی و، دی هم راغی یواځې توپیر دومره وو چې سردار کاهن ته د پیلاطوس په محکمه کې چوکۍ ورکړل شوې وه، ځکه چې د یهودیانو پتمنو مشرانو ته به په رومي حکومت کې چوکۍ ورکول کیده او ځینې د دوی د محکمې اعزازي قاضیان هم وو. د همدې له امله سردار کاهن، د محکمې د قواعدو له مخې چوکۍ ترلاسه کړه او مسیح ابن مریم د یو مجرم په شان د محکمې وړاندې ولاړ و. لیکن زما په دعوای کې د دې برعکس وشول یعنې دا چې برخلاف د د ښمنانو د هیلو چې کپتان ډګلس د پیلاطوس پر ځای د محکمې په چوکۍ و ماته یې چوکۍ راکړه او دغه پیلاطوس د ابن مریم د پیلاطوس په نسبت زیات با اخلاقه ثابت شو، ځکه چې د عدالت په کار کې هغه په زړورتوب او استقامت سره عدل ته ژمن پاتې شو. او د لوړپوړو سپارښتنو هغه هېڅ پروا ونکړه او قومي او مذهبي فکر هم په ده کې څه بدلون پیدا نه کړ او هغه په عدالت باندې په پوره ګام وهلو سره داسې یوه ښه بېلګه وړاندې کړه، که چېرې د هغه وجود د قوم فخر او د حکامو لپاره بېلګه وګڼل شي بې ځایه به نه وي. عدالت یو ګران کار دی تر څو چې انسان د ټولو اړیکو څخه بېل د عدالت په چوکۍ کښې نه ني ترهغه، هغه دنده په پوره توګه نشي ادا کولی، مګر مونږ دغه رپښتینې ګواهي ادا کوو چې دغه پیلاطوس خپله دنده په بشپړه توګه ادا کړه که څه هم لومړی پیلاطوس چې رومي و، دغه دنده یې په ښه توګه ادا نه کړی شوه او دهغه ډارنوالي مسیح د لویو لویو تکلیفونو نښه وګرځولو. دغه توپیر زمونږ په جماعت کې د تل لپاره د یادولو وړدی، تر څو چې دنیا شته او څنګه څنګه چې دغه جماعت لکونو او کروړونو کسانو ته ورسیږي هماغه، هماغه شان به د ستاینې سره د دغه نیک نیتي حاکم یادونه اوسي او دا د ده نیکمرغي ده، چې خدای د دې کار لپاره هماغه غوره کړ. د یو حاکم لپاره دا څومره د امتحان موقع ده، چې دوه ډلې ورته راشي چې یوه د هغوڅخه د هغه د مذهب مبلغ دی او دوهمه ډله هغه ده چې د هغه د مذهب مخالفه ده او هغه ته ویل شوي دي چې دغه، د هغه د مذهب سخت مخالف دی لېکن هغه زړور پیلاطوس دغه آزموینه، ډېر په کلک دریځ سره وزغمله او هغه ته د هغو کتابونو ځایونه وروښودل شول، په کومو کې چې د عیسایانو د ناپوهۍ له امله د عیسایي مذهب په اړه سخت ټکي ګڼل شوي دي او یو مخالفانه خوځښت شوی و، مګر د هغه په څېره کې هېڅ بدلون پیدا نشو، ځکه چې هغه د خپل روښانه ضمیر په وجه حقیقت ته رسیدلی و او ځکه چې هغه د دعوا د حقیقت د زړه له کومې لټون وکړ د همدې امله خدای د هغه مرسته وکړه او دهغه په زړه یې د رپښتینولی الهام وکړ او هغه ته رپښتینی حقیقت ښکاره کړل شو او هغه د دې څخه ډېر خوشحال شو، چې د عدل لاره هغه ته تر سترګو شوه، هغه یواځې د عدل په لحاظ د مدعي په وړاندې ماته چوکۍ راکړه او کله چې مولوي محمد حسین چې د سردار کاهن په شان د مخالفانه ګواهۍ لپاره راغلی و، زه په چوکۍ ناست ومودم اوزما اړوند د کوم سپکاوي د لیدلو لپاره، چې د هغه سترګو شوق لرلو، هغه سپکاوی هغه ونه لیدلو، نو برابري یې په غنیمت ګڼلو سره، هغه هم د دې پیلاطوس څخه دچوکۍ د

غوښتلو هيله مند شو، مګر دغه پيلاطوس هغه وښکنلو او په زوره يې ورته وويل تا ته او ستا پلار ته کله چوکۍ نه ده ورکړل شوې، زمونږ په دفتر کې ستا د چوکۍ لپاره هېڅ کومه لارښونه نشته. اوس دغه توپير هم د پام وړ دی چې لمړي پيلاطوس د يهوديانو څخه د ډار له امله د هغوی ځينو معززينو ته چوکۍ ورکړې او حضرت مسيح چې د تورن په توګه وړاندې شوی و، ولاړ پرېښود حال دا چې هغه د زړه له کومې د مسيح خير غوښتونکی و، بلکه د مريدانو په شان و او د هغه ښځه د مسيح ځانګړې مريده وه، چاته چې ولي الله ويل کيږي ليکن ډار د هغه څخه تر دې ځايه حرکت صادر کړ چې ناحقه بې ګناه مسيح يې د يهوديانو په لاس ورکړ، زما په شان کوم د خون تور نه و. يواځې په ساده توګه يو مذهبي اختلاف و ليکن هغه رومي پيلاطوس زړور نه و د دې خبرې په اورېدلو سره وډار شوچې قيصر ته به د شکايت وشي. او بيا يو بل ورتوالی، دلمړني پيلاطوس او په دې پيلاطوس کې د ياد ساتلو وړ دی چې لومړني پيلاطوس هغه وخت، کله چې مسيح ابن مريم محکمې ته وړاندې کړل شو يهوديانو ته ويلي و چې زه په دې کس کې کومه ګناه نه وينم همدارنګه، کله چې آخري مسيح د آخري پيلاطوس په وړاندې مخکې شو دغه مسيح وويل چې ماته بايد د ځواب لپاره څو ورځو مهلت راکړل شي پر ما د وژنې تور لګول کيږي، نو هغه وخت آخري پيلاطوس وويل زه پر تا هېڅ کوم تور نه لګوم، دا دواړه خبرې د دواړو پيلاطوسانو بالکل يو بل سره ورته دي که توپير دی نو يواځې دومره چې لمړی پيلاطوس پخپله خبره ونشو دريدلای او کله چې ده ته وويل شول چې قيصر ته به ستا شکايت وکړو، نو هغه وډار شو او حضرت مسيح يې عمداً خونخوارو يهوديانو ته وسپارلو که څه هم هغه، د هغه د سپارلو څخه غمجن و د هغه ښځه هم غمجنه وه. ځکه چې هغه دواړه د مسيح سخت معتقد وو ليکن د يهوديانو د سخت شور او غوغا په ليدو سره ډار په هغوی غالب راغی، هو البته په پټه توګه هغه ډېر زيار وايست چې د مسيح ځان د صليب څخه وژغورل شي او په دې زيار کې هغه کامياب هم شو. مګر وروسته له دې چې مسيح صليب ته پورته کړل شو او د درد زياتوالي له امله داسې په يوه سخته بې هوښۍ کې راغی، چې ګواکې هغه يو مرګ و. په هر حال د رومي پيلاطوس په هلوځلو سره د مسيح ابن مريم ځان وژغورل شو او د ځان د ژغورلو لپاره د وړاندې ځخه د مسيح دعا قبوله شوې وه. وګورئ عبرانيان باب ٥-ايت ٧،*[١٥]وروسته له دې مسيح د هغې ځمکې څخه په پټه توګه وتښتيد او د کشمير په لوري راغی او هماغلته وفات شو او تاسو اورېدلي چې د سرينګر په خانيار کلي کې د هغه قبر دی. دا ټول د پيلاطوس د زيار پايله وه، ليکن بيا هم د پخواني پيلاطوس کړنه د بې زړه توب د رنګ څخه خالي نه وه، که هغه د خپلې دغې خبرې خيال ساتنې سره چې زه په دې شخص کې هېڅ کومه ګناه نه وينم مسيح پرېښودلی وای، نو پرهغه کومه ستونځه نه وه او هغه په پرېښودلو قادر و، مګر هغه دقيصر ته د فرياد په اوريدو وډار شو ليکن دغه آخري پيلاطوس د پادريانو د ګڼې ګوڼې څخه و نه ډار شو حال دا چې د هغه په ځای کې هم د قيصرې پاچاهي وه ليکن دغه قيصره په درجو د هغه قيصر څخه بهتره وه، د دې لپاره هيڅا ته هم شوني نه وه چې پرحاکم د فشار راوړلو لپاره او د انصاف د پريښودلو لپاره د قيصرې څخه يې ووېروي په هر حال د لمړني مسيح په نسبت په آخري مسيح باندې

---

*[١٥] (مسيح د وړاندوينې په توګه خپله هم وويل، چې پرته د يونس د نشان څخه بل هېڅ نشان به ونه ښودل شي، نو مسيح په خپله دغه خبره کې دغه اشاره وکړه، چې څرنګه يونس عليه السلام ژوندی د ماهي په ګېډه کې داخل شو او ژوندی راووت همدارنګه به زه هم قبر ته ژوندی دننه شم او ژوندی به راوځم دغه نشان بل څرنګه پوره کېدی شي پرته له دې چې مسيح ژوندی له صليبه راکوز شوی وی او ژوندی قبر ته دننه شوی وای او دا چې حضرت مسيح وويل، چې کوم بل نښان به نه ښودل کيږي. په دې فقره کې مسيح ګواکې د هغو خلکو رد کوي چې وايي چې مسيح دا هم نښان وښود چې آسمان ته وخوت- منه

حاشيه

ډېر شور او پلان شوی و او زما مخالف او دټولو قومونو مشران راټول شوي وو، مګر آخري پیلاطوس د ریښتینولې سره مینه وکړه او خپله خبره یې سرته رسولوسره وښودله، کومه چې هغه زما په مخاطب کولو سره کړې وه، چې زه پر تا د وژنې تور نه لګوم، نوهغه زه په ډېر ښکاره او مېړانې سره بري کړم او لومړي پیلاطوس د مسیح د ژغورلو لپاره د چلونو څخه کارواخیست، مګر دې پیلاطوس چې څه د عدالت غوښتنه وه سرته ورسوله، په کوم کې چې د ډارنتوب رنګ نه و. په کومه ورځ چې زه بري شوم په هغه ورځ، په همدې محکمه کې د ژغورنې د پوځ یو غل هم وړاندې شو، دا د دې لپاره وشو چې د مخکینې مسیح سره هم یو غل و لیکن د دې آخري مسیح سره چې کوم غل نیول شوی و هغه د پخوانې غله په شان چې د لمړني مسیح سره نیول شوی و په صلیب باندې ونه ځړول شو او نه د هغه هډوکې مات کړل شول بلکه یواځې دري میاشتې بندي شو.

اوس بیا مونږ د خپل بیان لور ته په رجوع کولو سره لیکو، چې په سورت فاتحه کې دومره حقایق، دقایق او معارف راټول دي که هغه ټول ولیکل شي هغه خبرې په یو کتاب کې هم پای ته نشي رسیدلای. همدې یوې حکیمانه دعا ته وګورئ، چې په همدې سورت کې ښودل شوې ده یعنې ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ دغه دعا داسې یو بشپړ مفهوم پخپل ځان کې لري، چې ټول ددین او دنیا د موخو همدا یوه کلي ده. مونږ د کوم شي په حقیقت اطلاع نشو ترلاسه کولای او نه د هغه د ګټو څخه ګټه پورته کولی شو، ترڅو چې مونږ ته د هغه د ترلاسه کولو لپاره یوه نېغه لاره لاس ته را نشي. او په دنیا کې چې څومره ستونځمن او پیچلي کارونه دي که هغه د سلطنت او وزارت د ذمه واریو اړوند وي، که د پوځي جنګ او جدال سره تړاو ولري او که د طبیعت او ستورو دعلم د دقیقو مسایلو په اړه وي، د طب د علم د تشخیص د طریقو او درملنې په اړه او که د سوداګرۍ او کرنې په اړه، په دې ټولو امورو کې کامیابېدل ستونځمن او ناشوني دي، ترڅو چې د هغو په اړه یوه مستقیمه لاره تر لاسه نه شي، چې په کوم ډول دغه کار شروع کول پکار دي او هر یو هوښیار انسان د ستونځو پر مهال همدا خپل فرض ګڼي. د دې پټې ستونځې په اړه تر یوې اوږدې مودې شپه او ورځ فکر وکړي تر څو چې د دې ستونځې د حل لپاره کومه لاره راووځي او د هر یو صنعت، هر یونوښت ، د هر پیچلي او مغلق کار چلول همدا خبره غواړي، چې د هغه کار لپاره لاره راووځي. نو د دنیا او دین د موخو لپاره اصله دعا د لارې د پیدا کولو دعا ده کله چې نېغه لار د کوم امر اړوند په لاس راشي، نو یقیناً هغه کار به هم د خدای په فضل سره ترلاسه کیږي. د خدای حکمت او قدرت د هر یوې غوښتنې د ترلاسه کولو لپاره یوه لاره ایښې ده، د بېلګې په ډول د کوم ناروغ سمه، سمه درملنه نشي کیدای ترڅو چې د هغې ناروغۍ د حقیقت په پوهیدو او د نسخې د تجویز لپاره یوه داسې لار پیدا نشي، چې زړه فتوای ورکړي چې په دې لاره به کامیابي وي. بلکه په دنیا کې کوم انتظام کیدای نشي، ترڅو چې د هغه انتظام لپاره یوه لاره پیدا نه وي، نو د لارې غوښتنه د موخې د غوښتونکي لپاره فرض شوه او څرنګه چې د دنیا د بریالیتوب سمه لارې په لاس کې نیولو لپاره اول د یوې لارې اړتیا ده، په کومه چې ګام کیښودل شي. همدارنګه د خدای ملګرۍ او د مینې او فضل د وړ ګرځیدلو لپاره د پخوا څخه د یوې لارې اړتیا لیدل شوې ده. د همدې لپاره په دوهم سورت کې چې سوره البقره دی چې د دې سورت څخه وروسته دی، د سورت په پیل کې فرمایل شوي دي چې هدًى للمتقین یعنې د انعام د تر لاسه کولو لپاره دا لاره ده چې مونږ یې بیانوو*[۱۶]

[۱۶] * په سورت فاتحه کې د نېغې لارې لپاره دعا وشوه او په دوهم سورت کې ګویا دغه دعا قبولیدو سره نېغه لاره ښودل شوې ده. منه

، نو دغه دعا يعني ٱهْدِنَا ٱلصِّرَاطَ ٱلْمُسْتَقِيْمَ دعا يوه هرارخيزه دعا ده، چې انسان دې لوري ته متوجه کوي، چې ديني او دنيوي ستونځو په وخت کې اول چې د کوم شي لټون د انسان فرض دی هغه همدا ده چې د دې کار د لاس ته راوړلو لپاره هغه صراط مستقيم ولټوي. يعني کومه پاکه او نېغه لاره ولټوي د کومې په ذريعه چې په آسانۍ سره هغه موخې ته ورسيدلی شي او زړه د يقين څخه ډک شي د شکونو څخه خلاصون وي. ليکن د انجيل د لارښوونې سره سم د ډوډۍ غوښتونکی د خدای د لټون لار به غوره نه کړي د هغه موخه خو ډوډۍ ده کله چې ډوډۍ ترلاسه شوه، نو بيا د هغه خدای سره څه کار همدا وجه ده چې عيسايان د مستقيمې لارې څخه ولويدل او ډېره يوه د شرم وړ عقيده چې انسان خدای جوړول دي د هغوی ترغاړې شوه. مونږ نشو پوهيدلی چې د مسيح ابن مريم د نورو په نسبت څه زياتوالی و د کوم څخه چې د هغه د خدايی فکر راغی، په معجزاتو کې وړاندې نبيان د ده څخه زيات وو، لکه څرنګه چې موسٰی عليه السلام او اليسع او ايليا نبي او زما د په هغه ذات قسم وي د چا په لاس کې چې زما ځان دی که مسيح ابن مريم زما په زمانه کې وی، نو کوم کار چې زه کولای شم هغه به هېڅکله نه وی ترسره کړی او هغه نښانونه چې زما څخه ښکاره کيږي هېڅکله نشول ښودلی*[۱۷] او د خدای فضل به يې د خپل ځان څخه پر ما زيات ليدلی وای، کله چې زه داسې يم نو اوس فکر وکړئ چې څه مرتبه ده د هغه پاک رسول د چا د غلامۍ لوري ته چې زه منسوب کړای شوم؟ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۚ په دې ځای کې کوم حسد يا سيالي کار نه کوي، خدای چې څه غواړي وکړي. کوم څوک چې د هغه د ارادې مخالفت کوي هغه نه يواځې پخپلو موخو کې نا کام بلکه مړ او د جهنم لاره نيسي. هلاک شول هغه، چا چې عاجز مخلوق خدای وګرځولو. هلاک شول هغه، کومو چې يو غوره رسول ونه منلو. مبارک هغه، چا چې زه وپيژندم زه د خدای د لارو څخه آخرنۍ لار يم او زه د هغه د نورونو څخه آخري نور يم بدمرغه دی هغه څوک، چې ما پريږدي ځکه چې پرته له ما ټوله تياره ده.

دوهمه ذريعه د هدايت چې مسلمانانو ته ورکړل شوې ده سنت دي. يعني د حضور صلی الله عليه وسلم عملي کړنې کومې چې هغوی د قرآن شريف د احکامو د تشريح لپاره په کولو سره وښودلې، په قرآن کريم کې په ظاهري نظر د پنځه وخته لمونځونو رکعتونه معلوم نه دي چې د سهار څو رکعتونه او نورو وختونو کې څومره، څومره شمېر باندې، ليکن سنتو هر څه ښکاره کړي دي دا دوکه ونه خوړل شي، چې سنت او حديث يو شی دي، ځکه چې حديث خو سل يو نيم سل کاله وروسته جمع کړی شول سنتو د قرآن شريف سره شتون درلود پر مسلمانانو باندې د قرآن شريف څخه وروسته لوی احسان د سنتو دی. د خدای او د رسول د ذمه واری فرض يواځې دوه کارونه وو او هغه دا چې خدای د قرآن په نازلولو سره مخلوقاتوته د خپلې وينا په ذريعې د خپلې ارادې څخه خبر ورکړ، نو دا د خدای د قانون فرض و. او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا فرض و چې د خدای کلام په عملي توګه د ښودلو سره په ښه توګه خلک پوه کړي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ويل شوې خبرې د کولو په رنګ

---

[۱۷] * د دې تصديق لپاره د نزول المسيح کتاب به ژر ووينئ کوم چې خپريږي او تر لسو برخو پورې چاپ شوی او نږدې وخت کې خپرېدونکی دی دغه کتاب د پير مهر علی ګولړوي د کتاب تنبور چشتيايي په رد کی ليکل شوی دی په کوم کې چې ثابت کړل شوې ده چې پير صاحب د مرمحمد حسن مضمون غلا کړی او داسې د شرم وړ تېروتنې يې کړې چې اوس په خبريدلو سره به يې ژوند تريخ شي هغه بدبخت خو زمونږ د وړاندويني سره سم چې په اعجاز المسيح کې ليکل شوې مړ شو او دغه بل بدبخت ناحقه کتاب جوړ او د اِنِّیْ مُهِيْنٌ مَنْ اَرَادَ اِهَا نَتَکَ د وړاندويني نښانه وګرځيد فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِی الْأَبْصَارِ. منه

حاشيه

کې وښودلې او خپل سنت یعنې عملي کارونو سره یې هغه پېچلې او د مسایلو ستونځې حل کړي. دا ویل بې ځایه دي چې د هغو حل کول پر حدیثو موقوف وو، ځکه چې د حدیثو د وجود څخه وړاندې اسلام پر ځمکه قایم شوی و * [١٨] آیا ترځو چې حدیثونه نه وو راتول شوي خلکو لمونځ نه کولو یا یې زکات نه ورکولو یا یې حج نه کولو یا د حلالو او حرامو څخه نه وو خبر؟

هو دریمه ذریعه د هدایت حدیث دي ځکه چې ډېر د اسلام تاریخي، اخلاقي او د فقهي امور حدیثونه په ښکاره توګه بیانوي او همدارنګه لویه ګټه د حدیثو داده چې د قرآن خادم او د سنتو خادم دي، کومو خلکو ته چې د قرآن ادب نه دی ورکړل شوی په دې موقعه حدیثو ته د قرآن قاضي وایي، لکه څرنګه چې یهودیانو د حدیثو په اړه وویل، مګر مونږ حدیث د قرآن او سنتو خادم ګرځوو او ښکاره ده چې د بادار دبدبه د خادمانو د شتون له امله زیاتیږي. قرآن د خدای قول دی او سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم کړنه او حدیث د سنتو لپاره یو ملاتړی ګواه دی. نعوذ بالله دا ویل ناسم دي، چې حدیث پر قرآن قاضي دي که پر قرآن کوم قاضي دی پخپله قرآن دی، حدیث چې د ګمان په یوه مرتبه باندې دي د قرآن هېڅکله قاضي نشي کیدلای یواځې د ملاتړي ثبوت په شکل کې دي، قرآن او سنت په اصل کې ټول کارونه کړي ښودلي دي او حدیث یواځې تاییدي ګواه دي حدیث پر قرآن څرنګه قاضي کیدلای شي قرآن او سنتو هغه وخت لاربښوونه کوله کله چې د دې مصنوعي قاضي نوم او نښان هم نه و. دا مه وایئ چې حدیث پر قرآن قاضي دي بلکه دا ووایئ چې حدیث د قرآن او سنتو لپاره تاییدي ګواه دي. البته سنت داسې یوشی دی چې د قرآن غوښتنه ښکاره کوي او د سنتو څخه هغه لار مراد ده پر کومه چې حضور صلی الله علیه وسلم په عملي توګه صحابه روان کړي وو. سنت د هغو خبرو نوم نه دی کوم چې سل یو نیم سل کاله وروسته په کتابونو کی ولیکل شول، بلکه د دې خبرو نوم حدیث دی او سنت د هغې عملی بېلګو نوم دی، چې د نیکو مسلمانانو په عملي حالت کې له پېل څخه را روانې دي پر کومو چې په زر ګونو مسلمانان بوخت کړل شول. هو حدیث که څه هم ډېرې برخه یې د ظن ، ګمان په مرتبه ده مګر د قرآن او سنتو د مخالفت د نه شتون په شرط د نېولو وړ دي. او د قرآن او سنت تائید کوونکي دي او د ډېرو اسلامي مسایلو ذخیره پکې د ننه موجوده ده، نو د حدیثو قدر نه کول لکه چې یو غړی د اسلام پرېکول دي. هو که کوم داسې حدیث وي چې د قرآن او سنتو مخالف وي، او همدارنګه د داسې حدیث مخالف وي چې د قرآن مطابق دی یا د بېلګې په توګه یو داسې حدیث وي چې د صحیح بخاري مخالف وي، نو هغه حدیث به د منلو وړ نه وي. ځکه چې د هغه د منلو څخه قرآن او هغه ټول حدیثونه کوم چې د قرآن موافق دي رد کول لازم راځي. او زه پوهیږم چې کوم پرهېزګار به پردې جرئت ونکړي چې په داسې حدیث عقیده وساتي چې هغه د قرآن او سنتو پر خلاف او د داسې حدیثونو مخالف دی کوم چې د قرآن مطابق دي په هر حال د احادیثو قدر وکړئ او دهغو څخه ګټه واخلئ چې هغه د حضور صلی الله علیه وسلم لور ته منسوب دي او ترځو چې قرآن او سنت د هغو تکذیب ونکړي تاسو هم د هغوی تکذیب مه کوئ، بلکه پکار دي چې په نبویه احادیثو باندې داسې کاربند اوسئ چې هېڅ حرکت ونکړئ نه کوم سکون نه کومه کړنه وکړئ او نه د کړني پرېښودل، مګر د هغه په تائید کې تاسو سره کوم حدیث وي. لیکن که کوم حدیث وي چې د قرآن شریف د بیان کړل شوو واقعاتو ښکاره مخالف وي، نو د هغه د پلي کولو لپاره فکر وکړئ شاید هغه اختلاف ستاسو خپله تیروتنه وي

[١٨] * اهل حدیث د رسول د فعل او د رسول د قول دواړو نوم هم حدیث ږدي مونږ د دوی د اصطلاحاتو سره کار نشته په اصل کې سنت بېل دي د کومو د خپرولو اهتمام چې پخپله حضور صلی الله علیه وسلم کړی و او حدیث جلا دي چې وروسته جمع شول - منه

حاشیه

او که په کومه توګه هغه اختلاف لري نه شي، نو داسې حديث وغورځوئ چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوا نه دى اوکه کوم حديث ضعيف دى، مګر د قرآن سره مطابقت لري نو هغه حديث ومنئ ځکه چې قرآن د هغه مصدق دى او که کوم داسې حديث وي، چې په کومه وړاندويني مشتمل دى، مګر د محدثينو په نزد هغه ضعيف دى او ستاسو په زمانه کې يا د دې څخه وړاندې د هغه حديث وړاندوينه رښتيا شوې ده، نو هغه حديث رښتينى وګڼئ او داسې محدثين او راويان په سهوه او درواغجن وګڼئ، کومو چې دغه حديث ضعيف او موضوع ګرځولى وي. داسې حديثونه په سلګونو دي، په کومو کې چې وړاندويني دي او ډېرى د هغوى څخه د محدثينو په نزد مجروح يا موضوع يا ضعيف دي، نو که کوم حديث د هغو څخه پوره شي او تاسو يې په دې ويلو سره له پامه وغورځوئ چې دا مونږ نه منو، ځکه چې دا حديث ضعيف دى يا کوم راوي د هغه ديندار نه دى، نو په دې صورت کې به ستاسو خپله بې ايماني وي چې داسې حديث رد کړئ، د کوم چې رښتينولي خداى ښکاره کړه. فکر وکړئ که داسې حديثونه زر وي او د محدثينو په اند ضعيف وي او زر وړاند ويني د هغو رښتيا شي، نو آيا تاسې به هغه حديثونه په ضعيف ګرځولو سره د اسلام زر ثبوتونه ضايع کړئ؟ نو په داسې صورت کې به تاسې د اسلام دښمن وګرځئ او الله تعالى فرمايي: فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ (الجن: ٢٧-٢٨) نو رښتيني وړاندويني پرته د رښتيني رسول څخه د بل چا لور ته منسوبيدلى شي؟ آيا په داسې موقع باندې دا ويل د ايمانداری مناسب حالت نه دى چې صحيح حديث ته ضعيف ويلو کې کوم محدث تېروتنه کړي ده؟ او يا دا ويل مناسب دي چې دروغجن حديث په رښتيا کولو سره خداى تېروتنه کړيده؟ که يو حديث د ضعيفې درجې هم وي په دې شرط چې هغه د قرآن، سنت او د داسې احاديثو مخالف نه دى کوم چې د قرآن موافق دي، نو پر هغه حديث عمل وکړئ ليکن په ډېر احتياط سره عمل کول پکار دي، ځکه چې ډېر داسې موضوع حديثونه هم شته، کومو چې په اسلام کې فتنه اچولې ده. هره يوه فرقه د خپلې عقيدې موافق حديثونه لري تر دې چې لمانځه په شان يقيني او متواتره فريضه د احاديثو اختلاف په مختلفو شکلونو کړې ده څوک آمين بالجهر کوي څوک يې پټ څوک د امام شاته فاتحه وايي څوک د هغې ويل د لمانځه فاسد کوونکې ګڼي څوک پر سينې لاسونه نړي څوک يې پر نامه، اصل وجه د دې اختلاف هم احاديث دي كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ (المومنون: ٥٤) که نه سنتو خو يواځې يوه طريقه ويلې وه د روايتو مداخلت دې طرُيقې ته خوځښت ورکړ همدارنګه د حديثو ناسم پوهاوي ډېر خلک هلاک کړل. شيعه هم د همدې څخه هلاک شول. که قرآن يې خپل پرېکړه کوونکى ګرځولى وى يو سورت نورهم هغوى ته نور بخښلى شو.مګر حديثونو هغوى هلاک کړل همدا رنګه د حضرت مسيح په وخت کې يهوديان هلاک شول *[١٩] کوم چې اهل حديث بلل کيدل د څه مودې څخه هغو خلکو تورات پرې ښودلى وو او لکه څرنګه چې تر اوسه د هغوى دغه عقيده ده چې حديث پر تورات قاضي دي، نو په هغوى کې داسې حديثونه په کثرت سره موجود وو، چې ترڅو چې ايلياه بيا ځلې د آسمان څخه د خپل عنصري وجود سره نازل نه شي ترهغه مهاله به د دوى مسيح موعود را نشي. هغو حديثونو هغوى سخت په تېروتنې کې وغورځول او هغه خلکو په هغو حديثونو باندې د تکيې کولو سره د حضرت مسيح هغه تاويل قبول نشو کړى چې د الياس څخه مراد يوحنا يعنې يحيى نبي دى

[١٩] * په انجيل کې د هغو خيالونو ډېر سخت مخالفت شوى و کوم چې د طالمود په حديثونو او روايتونو کې ښکاره شوي وو. دغه حديثونه سينه په سينه ترحضرت موسىٰ پورې رسول کيدل او ويل کيدل به چې دا د حضرت موسىٰ الهامونه دي په پاى کې دا حال شوى و چې تورات پريښودل شوى و او ټول وخت د احاديثو په لوستلو لګول کيده. په ځينو امورو کې طالمود د تورات مخالف دى. بيا هم يهودو د طالمود په خبره عمل کولو. طالمود مؤلفه يوسف بارکلى د لندن چاپ ١٨٧٨) منه

حاشيه

چې د الیاس پر خوی او طبیعت راغلی او په بروزي توګه یې د هغه وجود اخښتی، نو ټوله ټپروتنه د هغوی د حدیثونو له امله وه چې آخر د هغوی د بې ایمانیدو لامل وګرځید. او ممکن دی چې هغه خلک د دغو حدیثونو په معنا کې هم ټپروتنه کوي یا په حدیثونو کې ځینې انساني الفاظ شامل شوي وي، مطلب شاید مسلمانان به په دې واقعه خبر نه وي چې په یهودیانو کې د حضرت مسیح منکر هم اهل حدیث وو. هغوی پر هغه شور جوړ کړ او د کفر فتوای یې ولیکله او هغه یې کافر وګرځاوه او ویې ویل چې دغه کس د خدای کتابونه نه مني، خدای د الیاس دوهم ځل راتګ خبر ورکړ او دا د هغې وړاند ویني تاویلونه کوي او پرته له کومې صارفه قرینې د هغې خبرونه بل لورته اړوي * [٢٠] او د حضرت مسیح نوم هغوی نه یواځې کافر بلکه بې دینه هم کیښود او ورته یې ویل چې که دغه شخص ربښتینی دی نو بیا موسوي دین باطل دی هغه، د هغوی لپاره د فیج اعوج زمانه وه درواغجنو احادیثو هغوی ته دوکه ورکړه مطلب د حدیثونو د لوستلو په وخت دا پام کول پکار دي چې یو قوم وړاندې د دې حدیث په تورات باندې په قاضي ګرځولو سره تر دې حالته رسیدلی دي چې یو ربښتیني نبي ته دوی کافر او دجال وویل او دهغه څخه یې انکار وکړ، که څه هم د مسلمانانو لپاره صحیح بخاري ډېر متبرک او ګټور کتاب دی دا هماغه کتاب دی، په کوم کې چې په ښکاره توګه لیکل شوي دي چې حضرت عیسٰی علیه السلام وفات شوی همدارنګه مسلم او نور د احادیثو کتابونه چې پخپل ځان کې دمعارفو او مسایلو ذخیره لري او په دې احتیاط سره پر هغوی عمل واجب دی چې کوم مضمون داسې نه وي چې د قران، سنتو او دهغو احادیثو سره مخالف وي چې د قرآن مطابق دي.

ای د خدای غوښتونکو بنده ګانو! غوږونه خلاص کړئ او واورئ چې د یقین په شان هېڅ شی نشته همدا یقین دی چې د ګناهونو څخه ژغوري. همدا یقین دی چې د نیکیو توان ورکوي، همدا یقین دی چې د خدای ربښتینی عاشق جوړوي، آیا تاسو ګناه پرته له یقین نه پریښودلئ شئ؟ آیا تاسو د نفس د جذباتو څخه پرته له یقینی تجلی منع کیدلی شئ؟ آیا تاسې پرته له یقینه کومه تسلي ترلاسه کولی شئ؟ آیا تاسې پرته له یقینه کومه ربښتیني تبدیلي پیدا کولی شئ ؟ آیا تاسو پرته له یقینه کومه ربښتیني خوښي ترلاسه کولی شئ؟ آیا د آسمان لاندې کومه داسې کفاره یا فدیه شته چې تاسو باندې ګناه پریخودلی شي؟ آیا د مریمې زوی عیسٰی داسې دی چې د هغه مصنوعي وینه تاسې د ګناهونو څخه وژغوري؟ ای عیسایانو! داسې درواغ مه وایاست د کوم څخه چې به ځمکه ټوټې، ټوټې شي. یسوع خپله هم د خپلې ژغورنې لپاره د یقین محتاج وو او هغه یقین وکړ او نجات یې ترلاسه کړ. افسوس دی پر هغو عیسایانو باندې چې د دې په ویلو سره مخلوق ته دوکه ورکوي چې مونږ د مسیح په وینې سره د ګناهونو څخه نجات مونږلئ. حال دا چې هغوی د سر نه د پښو پورې په ګناهونو کې غرق دي هغوی نه پوهیږي چې د هغوی څوک خدای دی بلکه ژوند، خو غفلت څخه ډک دی د شرابو مستي د هغوی په ماغزو کې ده،

---

[٢٠] * کوم وخت چې په حضرت عیسٰی علیه السلام د کفر فتوای ولیکل شوه هغه وخت هغه پولوس هم د کفر کوونکو په ډله کې شامل و چا چې وروسته بیا خپل ځان د رسول مسیح په لفظ سره مشهور کړ دغه شخص د حضرت مسیح په ژوند کې د هغه سخت دښمن و څومره انجیلونه چې د حضرت مسیح په نوم لیکل شوي دي په هغو یوه کې هم دا وړاند وینه نشته چې زما څخه وروسته به پولوس توبه وکړي رسول به جوړ شي. د هغه شخص د تېر چال او چلند په هکله مونږ ته د څه لیکلو اړتیا نشته چې عیسایان ښه پوهیږي. افسوس دی دا هماغه څوک دی تر کله چې حضرت مسیح په هغه هیواد کې و ډېر تکلیف یې ورکړی و، او کله چې هغه د صلیب څخه په ژغورل کېدو سره د کشمیر خوا ته لاړ، نو هغه د یو درواغو خوب په ذریعې په حواریانو کې خپل ځان داخل کړ او د تثلیث مسئله یې را پیدا کړه او په عیسایانو باندې یې خنزیر چې د تورات له مخې ابدي حرام و حلال کړ او شرابو ته یې ښه پراخوالی ورکړ او په انجیلي عقیده کې یې تثلیث ورداخل کړ ترڅو د دغو ټولو بدعتونو څخه یونانی د بتانو عبادت کوونکي خوښ شي. منه

حاشیه

مګر هغه پاکه مستي چې د آسمان څخه راښکته کيږي هغوی د هغې څخه بې خبر دي او کوم ژوند چې د خدای سره وي او کوم چې د پاک ژوند پايلې وي هغوی د هغه څخه بې برخې دي. نو تاسو په ياد وساتئ چې پرته له يقينه تاسې د تيارو ژوند څخه د باندې نشی راوتلای او نه روح القدس تاسو ته ترلاسه کيدای شي. مبارک هغه چې يقين لري، ځکه چې هماغه به خدای وګوري، مبارک هغه چې د شکونو او شبهاتو څخه يې خلاصون تر لاسه کړی ځکه چې هماغه به د ګناهونو څخه ژغورنه تر لاسه کړي. مبارک تاسو کله چې تاسو ته د يقين دولت درکړل شي چې دهغه څخه وروسته به ستاسو د ګناهونو پای وي. ګناه او يقين دواړه نشي يو ځای کيدی آيا تاسو په داسې سوري کې لاس اچولی شئ په کوم کې چې تاسو يو سخت زهر جن مار وينئ آيا تاسو په داسې ځای کې دريدلی شئ په کوم ځای کې چې د آتشفشان د غره تيږې وريږي يا تندر پرېوځي يا د يو خونخوار زمري د حملې ځای دی؟ يا يو داسې ځای دی چيرته چې يو وژونکی طاعون د انسان نسل له مينځه وړي؟ بيا که ستا په خدای داسې يقين دی لکه چې په مار باندې يا تندر باندې يا زمري باندې يا طاعون باندې، نو شونې نه ده چې د هغه په مقابل کې ته سرغړونه وکړې او د سزا لار غوره کړی شې يا د صدق او وفا اړيکه د هغه سره پرې کړې. ای هغو خلکو! چې د نيکۍ او ريښتينولۍ لپاره رابلل شوي ياست تاسې په يقين سره پوه شئ چې هغه وخت به په تاسو کې د خدای جذب پيدا شي او هغه وخت به تاسو د ګناه د مکروه داغ څخه پاک کړل شئ کله چې ستاسو زړونه د يقين څخه ډک شي. شايد تاسو به ووايست چې مونږ ته يقين ترلاسه دی، نو په ياد د وساتل شي چې تاسو دوکه خوړلې يقين تاسو ته هېڅکله نه دی ترلاسه، ځکه چې د هغه اړين توکي ترلاسه نه دي، لامل دا دی چې تاسو د ګناه څخه لاس نه اخلئ تاسو داسې ګام وړاندې نه پورته کوئ، کوم چې پورته کول پکاردي. تاسو په دې توګه نه ډارېږئ لکه څرنګه چې ډاريدل پکار دي خپله فکر وکړئ چې چا ته چې يقين دی چې په فلاني سوري کې مار دی هغه په هغه سوري کې کله لاس د ننه کوي او چاته چې يقين دی چې دهغه په ډوډۍ کې زهر دي هغه، هغه ډوډۍ کله خوري او څوک چې په يقيني توګه ګوري چې هغه فلاني ځنګل کې زر داړونکي زمري دي د هغه ګام کله په بې احتياطۍ او غفلت سره د هغه ځنګل لورته پورته کيدلی شي، نو ستاسو لاسونه، ستاسو پښې او ستاسو غوږونه او ستاسو سترګې کله پر ګناه زړورتيا کولای شي، که ستاسو په خدای او جزا او سزا باندې يقين دی، ګناه پر يقين نشي غالبېدلی او کله چې تاسو يو سوځوونکی او خوړونکی اور ګورئ، نو څرنګه او کله په هغه اور کې خپل ځان اچولی شئ او د يقين ديوالونه تر آسمانه دي شيطان پر هغه نشي پورته ختلی هر يو چې پاک شو هغه د يقين سره پاک شو يقين د تکليف ګاللو توان ورکوي، تر دې چې يو پاچا د تخت څخه را راښکته کوي او د فقيرۍ جامه وراغوندي . يقين هر يو تکليف آسانوي، يقين خدای ښيي هره يوه کفاره درواغ ده او هره فديه باطله ده او هريو پاکوالی د يقين له لارې راځي هغه څه چې د ګناه څخه ژغوري او تر خدای يې رسوي او د فرشتو څخه هم په صدق او ثبات کې وړاندې بيايي. هغه يقين دی. هر يو مذهب چې د يقين سامان نه وړاندې کوي هغه دروغجن دی هر يو مذهب چې په يقيني وسايلو سره خدای نشي ښودلی هغه درواغجن دی هر يو مذهب چې په هغه کې پرته له پخوانيو کيسو نورهېڅ نشته هغه درواغجن دی. خدای چې لکه څنګه وړاندې و اوس هم دی د هغه قدرتونه لکه څرنګه چې وړاندې وو هغه اوس هم دي د هغه په نشان ښودلو چې څرنګه اقتدار وړاندې و هغه اوس هم دی، نو بيا تاسو ولې په کيسو راضي کيږئ هغه مذهب هلاک شوی د کوم چې معجزات يواځې کيسې دي، د کوم چې وړاندوينې يواځې کيسې دي او هغه جماعت هلاک شوی دی پر کوم چې خدای نازل نه شو او کوم چې د يقين په ذريعه د خدای له لاسه پاک نه شو. لکه څنګه چې

انسان د نفساني لذاتو د سامان د لیدلو سره د هغو لورته ور راکاږل کیږي همدا ډول انسان چې کله روحاني خوندونه د یقین په زریعې ترلاسه کوي، نو هغه د خداي لور ته را کاږل کیږي او د هغه ښکلا هغه داسې مستوي چې نور ټول شیان هغه ته بې ارزښته ښکاري. او انسان هماغه وخت د ګناهونو څخه خلاصون مومي کله چې هغه په خدای تعالٰی او دهغه پر جبروت او جزا او سزا باندی یقیني اطلاع تر لاسه کوي. د هرې بې باکۍ رښه بې خبري ده، کوم څوک چې د خدای د یقیني معرفت څخه کومه برخه اخلي هغه بې باکه نشي پاتې کېدلی که دکور مالک پوهیږي چې یو زورور سیلاب د هغه د کور په طرف مخه کړې ده او یا دهغه د کور شا وخوا اور لګیدلی او یواځې د یوې زرې هومره ځای پاتې دی، نو هغه په هغه کور کې نشي پاتې کیدای، نو بیا تاسې د خدای د سزا او جزا د یقین لرلو د دعوای سربیره په خپلو خطرناکو حالتونو ولې پاتې کیږئ، نو تاسې سترګې خلاصې کړئ او دخدای دغه قانون وګورئ چې په ټوله دنیا کې موندل کیږي مورک مه جوړیږی چې د ښکته لورته روان وي، بلکه لوړ پروازه کوترې جوړې شئ کومې چې د آسمان فضاء د ځان لپاره خوښوي. تا سو د توبې د بیعت کولو سره بیا په ګناه ولاړ مه پاتې کیږئ او د مار په شان مه کېږئ چې د پوستکي په بدلولو سره بیا هم مار پاتې کیږي. مرګ په یاد وساتئ هغه ستاسو نږدې ځي راځي او تاسو د هغه څخه بې خبره یاست کوښښ وکړئ چې پاک شئ چې انسان پاک هلته ترلاسه کولی شي چې خپله پاک شي، مګر تاسو هغه نعمت څنګه ترلاسه کولی شئ؟ د دې ځواب خپله خدای ورکړی دی چیرته چې په قرآن کې فرمایي چې وَٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ (البقره:٤٦) یعني په صبر او لمانځه سره د خدای څخه مرسته وغواړئ لمونځ څه دی؟ هغه دعا ده چې د تسبیح تحمید تقدیس او استغفار او درود سره په عاجزۍ سره غوښتل کیږي. نو کله چې تاسو لمونځ کوئ د بې خبره خلکو په شان په خپلو دعاوو کې یواځې د عربي الفاظو پابند مه اوسئ، ځکه چې د هغوی لمونځ او د هغوی استغفار ټول رسمي دي د کومو سره چې هېڅ حقیقت نشته، لیکن کله چې تاسو لمونځ وکړئ نو پرته د قرآن څخه چې د خدای کلام دی او پرته د ځینو مأثوره دعاګانو څخه چې هغه د رسول کلام دی نور ټولو خپلو عامو دعا ګانو کې په خپله ژبه کې هم په عاجزانه ټکو ادا کوئ ترڅو چې ستاسو په زړونو د دې عجز او نیاز څه اثر وي، پنځه وخته لمونځ څه شی دی. هغه ستاسو د مختلفو حالاتو تصویر دی ستاسو د ژوند د حال لازم پنځه بدلونونه دي چې د بلا په وخت کې پر تاسو راځي او ستاسو د فطرت لپاره د هغو راتلل اړین دي.

(١) لمړی کله چې تاسو خبریږئ چې پر تاسو یوه بلا را روانه ده د ښېګې په توګه لکه ستاسو په نامه د محکمې څخه یو جلب جاري شو دا لمړی حالت دی کوم چې ستاسو په تسلی او خوښۍ کی خلل واچولو، نو دغه حالت د زوال د وخت ته ورته دی ځکه چې د هغه څخه ستاسې په خوښۍ کې زوال راتلل شروع شول د دې په مقابل کي د غرمې لمونځ وټاکل شو د کوم وخت چې د لمر د زوال څخه شروع کیږي.

(٢) دوهم بدلون هغه وخت په تاسو راځي، چې کله تاسو د بلا ځای ته ډېر ورنږدې کیږئ کله چې تاسو د جلب په ذریعه نیول کیږئ او د قاضی مخې ته وړاندې کیږئ دا هغه وخت دی کله چې ستاسو د ډاره وینه وچیږي او د تسلۍ نور تاسو څخه په رخصت کیدو وي دغه حالت ستاسو د هغه حالت سره ورته دی کله چې د لمر څخه نور کمیږي او نظر پرې دریدای شي او ښکاره لیدل کیږي چې اوس د هغه ډوبېدل نږدې دي د دې روحاني حالت په مقابل کې د مازدېګر لمونځ وټاکل شو.

(٣) دريم بدلون په تا سوهغه وخت راځي چې د دې بلا څخه د خلاصون هيله په بشپړه توګه له مينځه ځي د مثال په ډول ستاسو په نوم دوسيه ليکل کيږي او مخالفانه ګواهان ستا د هلاکت لپاره تيريږي دا هغه وخت دی چې کله ستاسو حواس خطا کيږي او تاسو خپل ځان يو بندي ګڼئ نو دغه حالت د هغه وخت سره ورته دی کله چې لمر ډوب شي او تولې د ورځې د رڼا هيلې پای ته ورسيږي د دې روحاني حالت په مقابل کی د مابنام لمونځ ټاکل شوی.

(٤) څلورم بدلون په تاسو هغه وخت راځي کله چې بلا پر تاسو راشي او د هغې سخته تياره پر تاسو خپره شي د بېلګې په توګه، کله چې د دوسيې او د ګواهيو څخه وروسته د سزا حکم تاسو ته اورول کيږي او د بندي کولو لپاره پوليسو ته ورسپارل کيږئ، نو دغه حالت هغه وخت ورته دی کله چې شپه کيږي او يوه سخته تياره خوره کيږي او د دې روحانی حالت په مقابل کې د ماسختن لمونځ ټاکل شوی دی.

(٥) بيا کله چې تاسو تر يوې مودې د دې کړاو په تياره کې اوسئ بيا آخر د خدای رحم پر تاسو په خوځښت راشي او تاسو ته د هغې تيارې څخه خلاصون درکوي د بېلګې په توګه، لکه څرنګه چې د تيارې وروسته سهار کيږي او بيا د ورځې هماغه رڼا د خپلې ځلا سره ښکاره کيږي، نو د دې روحاني حالت په مقابل کې د سهار لمونځ ټاکل شوی دی او خدای تعالٰی ستاسو په فطرتي بدلونونو کې د پنځه حالتونو په ليدو سره پنځه مونځونه ستاسو لپاره وټاکل د دې څخه تاسو پوهيدلی شی چې دغه مونځونه يواځې ستاسو د نفس د ګټې لپاره دي. نوکه تاسو غواړئ چې د دې بلا ګانو څخه وساتل شئ نو تاسو پنځه وخته لمونځونه مه پريږدئ، چې هغه ستاسو داخلي او روحاني بدلونونو سيوري دي په لمانځه کې د راتلونکو بلا ګانو علاج دی تاسو نه پوهيږئ، چې نوې راختونکې ورځ ستا لپاره څه ډوله الٰهي پرېکړه او تقدير راوړي، نو وړاندې د دې څخه چې ورځ راوخيږي تاسو د خپل مولٰی په جناب کې عاجزي وکړئ، چې تاسو د پاره د خير او برکت ورځ راوخيږي.

ای اميرانو او پاچاهانو! او شتمنو!! په تاسو کې داسې خلک ډېر لږ دي چې د خدای څخه وېريږي او د هغه په ټولو لارو کې ربښتيني دي. ډېری داسې دي چې د دنيا د ملک او د دنيا د مالونو سره زړه لګوي او بيا په هماغه کې ژوند تيروي او مرګ په ياد نه ساتي. هر يو شتمن چې لمونځ نه کوي او دخدای څخه بې پروا دی د هغه د ټولو خادمانو او کارکوونکو ګناه د هغه پر غاړه ده. هر يو امير چې شراب څښي د هغه په غاړه د هغو کسانو ګناه هم ده کوم چې دهغه د لاس لاندې دي او په شرابو کې شريک دي. ای هوښيارانو! دا نړۍ د تل ځای نه دی تاسو سنبال شئ. تاسو هره يوه بې اعتدالي پرېږدئ هر يو د نشې توکی پريږدئ د انسان تباه کوونکي يواځې شراب نه دي بلکه افيون، حشيش، چرس، بنګ، شراب او هره يوه نشه چې د تل لپاره عادت کيږي، هغه ماغزه خرابوي او آخر له مينځه وړي، نو تاسو د هغو څخه ځان وساتئ. مونږ نشو پوهيدلی چې ولې تاسو دا شيان استعمالوئ د کومو د بدې پايلې له امله هر يو کال ستاسو په شان په زرګونو په نشې اخته د دې دنيا څخه ځي *[٢١] او د آخرت عذاب جلا

[٢١] * د اروپا خلکو ته چې څومره شرابو نقصان رسولی دی دهغه لامل، خو دا و چې عيسٰی عليه السلام شراب څښل شايد د کومې ناروغۍ له امله يا د پخواني عادت په وجه، مګر ای مسلمانانو! ستاسو نبي عليه السلام خو د هرې يوې نشې څخه پاک او معصوم و، لکه څرنګه چې په حقيقت کې هغه معصوم دی، نو تاسو د مسلمان په ويل کيدو سره د چا پيروي کوئ؟ قرآن د انجيل په شان شراب حلال نه ګرځوي، نو تاسو په کوم سند سره شراب حلال ګرځوئ آيا مړ کيږی به نه؟ منه

حاشيه

دی. پرهېزګار انسان جوړ شئ ترڅو ستاسو عمرونه ډېر شي او تاسې د خدای څخه برکت تر لاسه کړئ. د حد څخه زیاتې عیاشۍ کې ژوند تېرول لعنتي ژوند دی. د حد څخه زیات بدخلق او بې مینې کیدل لعنتي ژوند دی، د حد څخه ډیر د خدای یا، د هغه د بنده ګانو د خواخوږۍ څخه بې پرواه کیدل لعنتي ژوند دی. هر یو امیر به د خدای د حقوقو او د انسانانو د حقوقو څخه همداسې وپوښتل شي، لکه څنګه چې یو فقیر بلکه د دې څخه زیات، نو څه بدمرغه هغه شخص دی چې په دې لنډ ژوند باور کوي د خدای څخه په بشپړه توګه مخ اړوي او دخدای حرام په داسې بې باکۍ سره کاروي چې ته به وایې هغه حرام د ده لپاره حلال دي. د غصې په وخت کې د لیونیو په شان چاته په ښکنځل کولو، چا زخمي کولو، چا وژلو لپاره تیاریږي او د شهواتو په جوش کې د بې حیایۍ طریقې انتها ته رسوي، نو هغه به حقیقي خوښي ترلاسه نکړي تر دې چې مړ شي.

ای ګرانو! تاسو د لږو ورځو لپاره دنیا ته راغلي یاست او هغه هم ډېرې تیرې شوې، نو خپل مولی مه خفه کوئ یو انساني حکومت، چې ستاسو څخه ځواکمن وي که ستاسو څخه خفه وي هغه تاسو تباه کولی شي، نو تاسو فکر وکړئ چې د خدای تعالی د خفګان څخه څنګه ژغورل کیدای شئ. که تاسو د خدای د سترګو په وړاندې متقي وګرځئ نو تاسې هېڅوک هم نشي تباه کولی او هغه به خپله ستاسو ساتنه وکړي، او دښمن چې ستاسو د ځان پسې دی په تاسو ولکه ونشي کړای ګنې ستاسو د ځان هېڅ ساتونکی نشته او تاسو به د دښمنانو په ویرې او په آفاتو کې ښکیل او بې قرارۍ سره ژوند تېر کړئ. او ستاسو د ژوند آخري ورځې به په ډېر غم او غصې سره تېرې شي او خدای د هغو خلکو پناه ګرځي څوک چې د هغه سره کېږي، نو د خدای لورته راشئ او د هغه هر یو مخالفت پرېږدئ د هغه په فرایضو کې سستي مه کوئ او دهغه په بنده ګانو باندې په ژبه یا په لاس ظلم مه کوئ *[٢٢] او د آسماني قهر او غضب څخه ډاریږئ همدا د خلاصون لار ده. ای د اسلام عالمانو! زما په تکذیب کې بېړه مه کوئ چې ډېر رازونه داسې وي چې انسان ژر پرې نه پوهیږي. د خبرې اوریدلو سره هماغه وخت د هغې د رد کولو لپاره مه تیاریږئ چې دا د تقوا لار نه ده که په تاسو کې ځینې غلطۍ نه وی که تاسو د ځینو حدیثونو په معنا غلط نه وی پوه شوي، نو د مسیح موعود چې حَکم دی راتلل عبث وو. تاسې څخه وړاندې دا د عبرت ځای موجود دی، چې په کومه خبره تاسې زور وهلئ او په کوم ځای کې چې تاسې ګام ایښئ هماغه ځای یهودیانو ګام ایښئ و. یعني څرنګه چې تاسې د حضرت عیسٰی علیه السلام منتظر یاست هغوی هم د الیاس نبي د دوهم ځل راتللو ته سترګې په لار وو او ویل به یې مسیح به هغه وخت راځي کله چې لمړی الیاس نبي، چې آسمان ته پورته کړل شوی و دوهم ځل دنیا ته راشي او کوم څوک چې د الیاس د دوهم ځل راتلو څخه وړاندې د مسیح کیدو دعوای وکړي هغه دروغجن دی او هغوی نه یواځې د حدیثو له مخې دغه خیال درلود بلکه د خدای کتاب چې د ملاکي نبي صحیفه ده، د دې په ثبوت

[٢٢] * کوم څوک چې په انساني نسل باندې غضبي قوت زیاتوي هغه په غضب سره هلاک کیږي. د همدې له امله خدای په سورت فاتحه کې د یهودو نوم مغضوب علیهم کېښود دا د دې خبرې لور ته اشاره وه چې په قیامت کې، خو به هر یو مجرم د خدای د غضب خوند وڅکي لیکن څوک چې ناحقه په دنیا کې غضب کوي هغه هم په دنیا کې د الهي غضب خوند څکي. د نصاراوو څخه د یهودیانو په اړه په دنیا کې غضب ښکاره نه شو له همدې امله په سورت فاتحه کې د هغوی نوم ضآلین شو د ضالین د لفظ دوه معنې دي یو خو دا چې هغوی ګمراه دي او دوهمه معنا دا ده، چې لاره به ورکه کړي دا زما په نزد د دي لپاره زیرې دی چې کوم وخت به دوی د درواغجن مذهب څخه خلاصون ترلاسه کړي او په اسلام کې به د ننه شي. او ورو، ورو به مشرکانه عقیدې او نیمګړي او د شرم وړ رواجونو په پرېښودلو سره به د مسلمانانو موحدینو په شان شي، مطلب دا چې د الضآلین په لفظ کې چې د سورت فاتحې په آخر کې د ضلالت د دوهمې معنې له لحاظه د یو شي په بل شي کې محو کېدل او ننوتل دي د عیسایانو د مذهبي حالت لپاره دا یوه وړاندوینه ده - منه

کې وړاندې کولو. لیکن کله چې حضرت عیسٰی علیه السلام د خپل ځان په اړه د یهودیانو د مسیح موعود دعوای وکړه او الیاس د آسمان څخه راښکته نشو چې د دې دعوې شرط و، نو دغه ټولې عقیدې د یهودیانو باطلې ثابتې شوې او هغه څه چې د یهودیانو په خیال کې وو چې ایلیا نبي به د خپل عنصري جسم سره د آسمان څخه نازلیږي د هغې آخر دا معنې څرګندې شوې چې د الیاس په خوی او طبیعت سره یو بل ځوک به ښکاره شي. او دغه معنا حضرت عیسٰی علیه السلام خپله بیان وفرمایله ځوک چې دوهم ځل د آسمان څخه راښکته کوئ. نو ولې تاسې داسې ځای کې تېروځئ کوم ځای کې چې تاسو څخه وړاندې یهودو تېروتي وو؟ ستاسو په هیواد کې په زر ګونو یهودیان موجود دي تاسو د هغوی څخه پوښتنه وکړئ وګورئ چې آیا د یهودیانو همدا عقیده نه وه کومه چې اوس تاسو ښکاره کوئ؟ نو هغه خدای چا چې د عیسٰی په خاطر ایلیا د آسمان څخه راښکته نکړ او د یهودو په وړاندې هغه د تاویلونو څخه کار اخېستلو ته اړ شو هغه به ستاسو په خاطر ولې عیسٰی راښکته کړي کوم چې تاسو دوهم ځل راښکته کوئ. د هماغه د پرېکړې څخه تاسو منکر یاست که شک مو دی، نو په لکونو عیسایان په دې ملک کې شتون لري او د هغوی انجیل هم موجود دی د هغوی څخه یې معلوم کړئ چې آیا دا ربښتیا نه ده چې حضرت عیسٰی همدا ویلي وو چې ایلیا ځوک چې دوهم ځلي راتلونکی و هغه یوحنا دی یعنې یحیی؟ او د همدومره خبرې کولو سره یې د یهودیانو پخوانۍ هیلې د خاورو سره خاورې کړې. اوس که دا اړین دی چې پخپله عیسٰی نبي د آسمان څخه راشي، نو په دې صورت کې حضرت عیسٰی ربښتونی نبي نشي کیدای ځکه چې که چېرې د آسمان څخه بیرته راتلل د الله په سنتو کې داخل دي نو الیاس نبي ولې بیرته رانغئ او ولې دلته یحیی الیاس وګرځول شو او د تاویل څخه کار واخېستل شو؟ د عقلمند لپاره د فکر ځای دی.

او همدارنګه د کوم کار لپاره چې ستاسو د عقیدو سره سم مسیح ابن مریم د آسمان څخه راشي یعنې دا چې د مهدي سره یو ځای به خلک جبراً مسلمانولو لپاره جنګ وکړي دا یوه داسې عقیده ده چې اسلام بد ناموي قرآن شریف کې چېرته لیکلې چې د مذهب لپاره جبر صحیح دی؟ بلکه الله تعالٰی خو په قرآن شریف کې فرمایي: لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ (البقره:٢٥٧) یعنې په دین کې جبر نشته نو بیا مسیح ابن مریم ته به د جبر اختیار ولې ورکول کیږي؟ تر دې چې پرته د اسلام یا وژلو، جزیه به هم نه مني دغه تعلیم د قرآن شریف په کوم ځای او کومه سپاره او کوم سورت کې دی؟[٢٣] ټول قرآن بیا بیا وایي چې په دین کې جبر نشته او په ښکاره توګه څرګندوي، چې د کومو خلکو سره چې د حضور صلی الله علیه وسلم په وخت کې جګړې شوې وې هغه جګړې د دین په زوره خپرولو لپاره نه وې بلکه یا، خو د سزا په توګه وې یعنې هغو خلکو ته سزا ورکول منظور وو، کومو چې د مسلمانانو یوه ډېره لویه ډله ووژله او ځینې یې د وطن څخه ویستي وو او ډېر سخت ظلم یې کړئ و، لکه څرنګه چې الله تعالٰی فرمایي: أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ (الحج: ٤٠) یعنې هغو مسلمانانو ته د کومو

[٢٣] * که وواياست چې د عربانو لپاره هم حکم و چې په زور دې مسلمان کړی شي نو دغه خيال هېڅکله د قرآن شريف څخه نه ثابتيږي بلکه دا ثابتيږي ځکه چې عربو حضور صلی الله عليه وسلم ته سخت تکليف رسولی و او ډېر سړي او ښځې صحابه يې قتل کړي وو او د توري څخه پاتې نور يې د وطن څخه جلا وطن کړي وو د دې لپاره، نو هغه ټول خلک چې د قتل د جرم مرتکب يا د دې جرم ملګري وو هغه ټول د خدای تعالٰی په نظر کې د خپلې وينې تويونې په بدل کې د وينې تويولو لايق شوي وو. د هغوی په اړه د قصاص په توګه د قتل حکم و، مګر د الرحم الراحمين لخوا دا رعايت ورکړ شو چې که څوک د هغوی څخه مسلمان شي، نو د هغه تېر جرم د کوم له امله چې هغه د مرګ د سزا وړ دی وبخښل شي، نو چېرته دغه شکل د رحم او چېرته زور - منه

حاشیه

سره چې کفار جګړه کوي د مظلومیت په وجه د مقابلې کولو اجازه ورکړل شوه او خدای قادر دی چې د هغوی مرسته وکړي. او یا هغه جګړې دي چې د دفاع په توګه وې یعنې کومو خلکو چې د اسلام د له مینځه وړلو لپاره لومړی ګام پورته کولو یا یې پخپل هیواد کې جبراً د اسلام خپریدل منع کول د هغوی څخه د ساتنې په توګه د خپلواکۍ او په هیواد کې د آزادۍ په خاطر جګړه کېده پرته د دغو درو حالتونوڅخه حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه مقدسو خلفاؤ کومې جګړې نه دي کړي. بلکه اسلام د نورو قومونو ظلم دومره زغملی دی چې په نورو قومونو کې د هغه مثال نه ترلاسه کیږي. نو بیا دغه عیسٰی مسیح او مهدي صاحب به څنګه وي چې د راتلو سره به خلک وژل شروع کړي تر دې چې د کوم اهل کتاب څخه به جزیه هم ونه منې او آیت: حَتَّىٰ يُعْطُواْ ٱلْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَّهُمْ صَٰغِرُونَ (التوبه: ٢٩) به هم منسوخ کړي؟ دا به د اسلام د دین څنګه ملاتړ وي چې په راتلو سره به د قرآن آیتونه منسوخ کړي، کوم چې د حضور صلی الله علیه وسلم په وخت کې هم منسوخ نه شول او د دومره انقلاب څخه به بیاهم په ختم نبوت کې هېڅ خلل رانشي.

په دې زمانه کې چې د نبوت د زماني څخه دیارلس سوه کاله تېر دي او خپله اسلام په داخلي توګه په درې اویا فرقو وویشل شو د رېښتیني مسیح دا کار باید وي چې په دلایلو سره په زړونو فتحه تر لاسه کړي نه په توري سره او صلیبي عقیده په واقعي او رېښتیني ثبوت سره ماته کړي، نه دا چې د هغو صلیبونو په ماتولو شي چې د سپینو زرو یا سرو زرو یا د مسو یا د لرګیو څخه جوړیږي. که تاسو جبر وکړئ، نو ستاسو جبر په دې خبره کافي ثبوت دی چې تاسو سره پر خپلې رېښتینولۍ هېڅ دلیل نشته* [٢٤] هر یو نادان او ظالم طبعیته کله چې د دلیل څخه عاجز راځي، نو بیا توري یا توپک لور ته لاس اوږدوي، مګر داسي مذهب هېڅکله د خدای له لوري نشي کیدلی کوم چې یواځې د توري په مرسته خپریدی شي نه په کومه بله لاره که تاسو د داسې جهاد څخه لاس نشی اخستئ او په دې باندې په غصه کیږئ او د رېښتینو نوم هم دجال او ملحد ږدئ، نومونږ په دې دوو فقرو دا وینا ختمو: قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (الکافرون: ٢ -٣) د خپل منځي تفرقې او انتشار په زمانه کې به ستاسو فرضي مسیح او فرضي مهدي پر چا چا توره چلوي؟ آیا د سنیانو په آند شیعه د دې لایق نه دي چې

[٢٤] * ځینې ناپوهان پر ما اعتراض کوي لکه څرنګه چې د المنار خاوند هم وکړ چې دغه شخص د انګرېزانو په هیواد کې اوسي ځکه د جهاد ممانعت کوي. دا نادان نه پوهیږي که چیرې ما په درواغو سره دغه حکومت خوښول غوښتلی، نو ما به بیا، بیا ولې دا ویل، چې عیسٰی ابن مریم د صلیب څخه ژغورل کېدو سره پخپل طبعي مرګ په سرینګر کشمیر کې مړ شو او نه هغه خدای و او نه د خدای زوی آیا انګرېز د مذهبي جوش خاوندان به د دې فقرې سره زما څخه بیزار نشي؟ نو واورئ ای ناپوهانو! زه د دې حکومت هېڅ غوړه مالي نه کوم بلکه رښتیا خبره دا ده چې داسي حکومت سره چې د اسلام په دین او دیني رسوماتو څه لاس نه اچوي او نه د خپل دین د پرمختګ لپاره پر مونږ توري چلوي د قرآن کریم له مخې مذهبي جګړه کول حرامه ده، ځکه چې هغه هم کوم مذهبي جهاد نه کوي او د هغوی شکر کول مونږ ته ځکه اړین دي چې مونږ خپل کار په مکه او مدینه کې هم نشو کولی، مګر د دوی په هیواد کې یې کولی شو دا د خدای له طرفه حکمت و چې زه یې په دې هیواد کې پیدا کړم، نو آیا زه د خدای د حکمت د شان سپکاوی وکړم او لکه څرنګه چې د قرآن کریم د آیت وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِينٍ (المؤمنون: ٥١) کې مونږ الله تعالٰی په دې خبره پوهوي چې د صلیب د واقعي وروسته مونږ عیسٰی مسیح ته د صلیبي بلاء څخه خلاصون ورکولو سره هغه او د هغه مورته په یو داسي لوړه غونډۍ ځای ورکړی و چې هغه د آرام ځای و او په هغه کې چینې بهیدې یعنې سرینګر کشمیر، همدارنګه ماته خدای تعالٰی د دې حکومت په جګه غونډۍ ځای راکړ چېرته چې د مفسدینو لاس نه شي رسیدلای کوم چې د آرام ځای دی او په دې ملک کې د رېښتیني علومو چینې روانې دي او د مفسدینو د حملو څخه امن او قرار دی، نو آیا بیا واجب نه وو چې مونږ د دې حکومت د احسانونو شکر کړی وی؟ منه

حاشیه

تورہ پرې پورته شي؟ او د شیعه ګانو په آند سنیان د دې وړ نه دي چې هغوی ټول په تورہ سره نیست او نابود کړل شي، نو کله چې ستاسو خپل منځي فرقې ستاسو د عقیدې له مخې د سزا وړ دي نو تاسو به د چا چا سره جهاد کوئ؟ مګر په یاد وساتئ چې خدای د تورې ارمن نه دی هغه به خپل دین په آسماني نشانونو سره پر ځمکه باندې خپور کړي او هېڅوک به هغه ونشي درولی او په یاد وساتئ، چې اوس خو به عیسٰی هېڅکله نازل نه شي ځکه چې کوم اقرار چې هغه د آیت فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ (المائده: ١١٨) له مخې د قیامت په ورځ کوي په هغه کې په ځرګنده توګه د دې اعتراف شته چې هغه به دوهم ځل دنیا ته نه راځي او په قیامت کې د هغه همدا عذر دی چې د عیسایانو د بې لارې کیدو څخه زه هېڅ خبر نه یم که هغه د قیامت څخه وړاندې دنیا ته راتللی نو آیا هغه به همدا ځواب ورکولو چې زه د عیسایانو د بې لارې کیدو څخه هېڅ خبر نه یم، نو په دې ایت کې هغه په ځرګنده توګه اقرار کړی چې زه دوهم ځل دنیا ته نه یم تللی او که چیرته د قیامت څخه وړاندې نړۍ ته راتلونکی وای او پوره څلویښت کاله اوسیدونکی نو بیا خو هغه د خدای په وړاندې درواغ وویل، چې زه د عیسایانو د حالاتو څخه هېڅ خبر نه یم هغه ته خو پکار وو چې ویلي وای چې د دوهم ځل راتلو په وخت کې ما څلویښت کروړو ته نږدې عیسایان په دنیا کې بیا موندل او هغه ټول مې ولیدل او د هغوی د بې لاریتوب څخه ښه خبر یم او زه خو د انعام وړ یم چې ټول عیسایان مې مسلمان کړل او صلیبونه مې مات کړل دا ځرنګه درواغ دي چې عیسٰی به وایي چې زه خبر نه یم؟ مطلب په دې آیت کې په ډېره صفایې سره د مسیح اقرار دی چې هغه به دوهم ځل دنیا ته نه راځي او همدا ریښتیا دي چې مسیح وفات شوی او په سرینګر په خانیار محله کې د هغه قبر دی*[٢٥]

اوس به خدای خپله نازل شي او د هغو خلکو سره به پخپله جګړه وکړي کوم چې د ریښتینولې سره جګړه کوي. د خدای جګړه کول د اعتراض وړ نه دي ځکه چې هغه د نښانونو په شکل کې دي لیکن د انسان جګړه کول د اعتراض وړ ده ولې چې هغه د جبرپه شکل کې ده.

د ٦٩ پاڼې په اړه حاشیه ١(د دې ژباړل شوي کتاب ٣٦ پاڼې حاشیه)

کرئیر ډلاسیرا د سویلي ایټالیا د ټولو څخه مشهورې ورځپاڼې دغه لاندې درج شوی عجیب خبر خپور کړی دی:

« ١٣ د جولائی ١٨٧٩ کال په یروشلم کې یو زوړ راهب، چې کور نومیده مړ شو چې پخپل ژوند کې یو ولي مشهور و د هغه څخه وروسته څه شتمني پاتې شوه او والي د هغه خپلوان ولټول هغوی ته یې دوه سوه زره فرینک (پاؤ کم یو سل اونولس زره روپی) چې د مختلفو هیوادونو په سکوکې وې او دهغه غار څخه لاس ته راغلې، چیرته چې هغه راهب د ډېرې مودې څخه اوسیدلو د پیسو سره ځینې اسنادونه هم د هغه خپلوانو ته لاس ته ورغلل، کوم چې هغوی ونه شول لوستلی. څو د عبراني ژبې پوهانو ته د هغو اسنادو د لیدلو موقع لاس ته ورغله هغوی ته دا ډېره عجیبه خبره معلومه شوه، چې دغه اسنادونه په ډېره پخوانۍ عبراني ژبه کې وو، کله چې هغه ولوستل شول نو په هغو کې دا عبارت

[٢٥] * یو یهودي هم د دې تصدیق کړی دی چې په سرینګر کې واقع قبر د یهودیانو د انبیاوو د قبرونو په شان جوړ دی . وګورئ بیله پاڼه د حاشیې - منه

حاشیه


و:« پطرس ماهي نيونکی د مريم د زوی خادم په دې توګه خلک د خدای تعالٰی په نوم او د هغه په خوښه مخاطب کوي» او دغه ليک په دې توګه سرته رسيږي:« زه پطرس کب نيوونکی د يسوع په نوم کې او د خپل عمر په ۹۰ نويم کال کې دغه د مينې الفاظ د خپل آقا او مولٰی يسوع مسيح د مريم زوی د مرګ څخه دري د فسح اخترونو وروسته (دري کاله وروسته) د خدای سپېڅلي کورته نږدې د بولير په کور کې دليکلو پريکړه کړې ده .»

دغو عالمانو دغه نتيجه ويستې ده چې دغه نسخه د پطرس د وخت څخه را روانه ده، د لندن بايبل سوسايټي هم همدا رايه ده او د هغو د ښه امتحان کولو وروسته بايبل سوسايټي اوس د هغو په بدل کې څلور سوه زره ليرې (دوه لکه او ديرش نيم زره روپۍ) مالکانو ته په وروکولو سره هغه اسنادونه اخېستل غواړي .


د يسوع ابن مريم دعا پر هغو دواړو د سلام وي هغه وويل، چې ای زما خدايه زه د دې وړ نه يم چې په هغه څه غالب شم کوم چې زه بد ګڼم نه ما هغه نيکی تر لاسه کړې، د کومې چې زما هيله وه مګر نور خلک خپل اجر پخپل لاس کې ږدي او زه نه. ليکن زما لويوالی زما په کار کې دی. زما څخه ډېر هېڅوک په بد حالت کې نه دي، ای خدايه چې د ټولو څخه لوړ يې زما ګناه وبخښه ای خدايه! داسې مه کوه چې زه د خپلو دښمنانو لپاره د تورسبب وګرځم او نه ما د خپلو ملګرو په سترګو کې ناڅيز وګرځوې، او داسې نه وي چې زما تقوا ما په کړاوونو کې وغورځوي. داسې مه کوه چې همدا دنيا زما د لويې خوښۍ ځای يا زما لويه موخه وي، او داسې شخص پر ما مه برلاسه کوه، چې پر ما رحم ونکړي ای خدايه! چې ډېر رحم کوونکی يې د خپل رحم لپاره همداسې وکړه ته خو پرهغه ټولو رحم کوې ځوک چې د رحم اړمن دي.

شهد شاهد من بنی اسرائیل


(د يو اسرائيلي عالم تورات گواهي د مسيح د قبر په اړه)




زه گواهي ورکوم چې ما ولیده یوه نقشه سره د مرزا غلام



صاحب قادياني او تحقيق هغه صحيح ده قبر د بني اسراييلو د قبرونو څخه




او هغه دی بني اسراييلو د مشرانو د قبرونو څخه




ما ولیده دغه نقشه نن ورځې کله چې ولیکلو




ما دغه گواهي په میاشتي د جون ۱۲ ۱۸۹۹ ء




سلیمان یوسف یسحاق تاجر



سلیمان یهودي زما په وړاندې



دغه شهادت ولیکلو ، مفتي محمد صادق بهیروي



کلرک دفتر اکاونټنټ جنرل لاهور

اشهد بالله ان هذا الكتاب كتبه سلمان ابن يوسف وانه رجل من اكابر بني اسرائيل. دستخط: سيد عبد الله بغدادی

شهد شاهد من بنی اسرائیل

(د یو اسرائیلي عالم تورات ګواهي د مسیح د قبر په اړه)

زه ګواهي ورکوم چې ما یوه نقشه د مرزا غلام احمد صاحب قادیاني سره ولیده او یقیناً هغه صحیح ده، د بني اسرائیلو د قبرونو څخه او هغه د اسرائیلو دمشرانو د قبرونو څخه ما هغه نقشه لیدلې نن ورځ کله چې ما دغه ګواهي ولیکله دغه شهادت د انګرېزي میاشې د جون ۱۲ کال ۱۸۸۹

سلمان یوسف یسحاق تاجر(سوداګر)

سلمان یهودي زما په وړاندې دغه شهادت ولیکلو، مفتي محمد صادق بهیروي کلرک دفتر اکاونټنټ جنرل لاهور

اشهد بالله ان هذا الکتاب کتبه سلمان ابن یوسف و انه رجل من اکابر بني اسرائیل

زه ګواهي ورکوم چې دغه لیک سلمان بن یوسف چې د بني اسرائیلو د مشرانو څخه دی لیکلی.

لاسلیک: سید عبدالله بغدادی

افسوس په دې مولویانو باندې که په دوی کې دیانت وای، نو هغوی به د تقوای له لارې په هره توګه خپله تسلي کړې وای، نو خدای خو د نیکو روحونو تسلي وکړه، لیکن هغه خلک چې د ابو جهل د ختې څخه جوړ دي هغوی هماغه لار غوره کوي، کومه چې ابوجهل غوره کړې وه. یو مولوي صاحب د میرټهـ څخه د رجسټرۍ خط په ذریعې خبر راکړی چې په امرتسر کې د ندوة العلماء جلسه ده دلته راتلل او بحث کول پکار دي. ښکاره دي وي که د دې مخالفینو نیتونه نیک وای او د بریا او ماتې فکر نه وی، نو هغوی ته د خپلې تسلۍ کولو د ندوې او نورو څه اړتیا وه.

مونږ د ندوې علماء د امرتسر د علماوو څخه جلا نه ګڼو. یوه عقیده، یو جنس یوه ماده ده هر یو ته اختیار دی چې قادیان ته راشي، مګر د بحث لپاره نه بلکه صرف د حق د لټون لپاره زمونږ وینا واوري که کوم شک پاتې شو، نو د عاجزۍ او ادب له مخې دې خپل شکونه رفع کړي او هغه چې تر هر وخته پورې په قادیان کې اوسیږي د میلمه په توګه به ګڼل کیږي مونږ ته د ندوې او نورو اړتیا نشته او نه د هغوی په لور زمونږ اړتیا ده. دا ټول خلک د راستۍ دښمنان دي، مګر ربښتینولي په دنیا کې خپریږي آیا دا د خدای عظیم الشانه معجزه نه ده چې هغه د نن څخه شل (۲۰) کاله وړاندې په براهین احمدیه کې پخپل الهام سره ښکاره کړې وه، چې خلک به ستا د ناکام پاتې کیدو لپاره ډېر زیار وباسي او تر نوکونو پورې به زور ووهي، مګر په پای کې به زه تاسو یو لوی جماعت وګرځوم دا د هغه وخت الهي وحي ده، کله چې ماسره یو کس هم نه و بیا زما د دعوای په خپریدلو مخالفینو تر نوکونو زور ووهلو آخر د وړاندوینې مطابق، چې پورته ذکر شوې ده دغه سلسله خپره شوه او اوس د نن تاریخ پورې په برطانوي هند کې دغه جماعت د سلو زرو څخه هم څه زیات دی. که ندوة العلماء ته مرګ په یاد وي نو براهین احمدیه او حکومتي اسناد د وګوري بیا دې ووایي چې آیا دا معجزه ده او که نه؟ بیا کله چې قرآن او معجزه دواړه وړاندې کړل شول، نو اوس بحث د څه مقصد لپاره؟

همدارنګه د دې هېواد ګدۍ ناست او د پیرانو اولاد د دین څخه داسې بې اړیکې او پخپلو بدعتونو کې شپه او ورځ داسې بوخت دي چې هغوی ته د اسلام د ستونځو او آفتونو هېڅ خبر نشته. د هغوی مجلسونو

ته که لاړ شئ نو د قرآن شریف او د حدیثو د کتابونو پر ځای ډول، ډول ربابونه او د ساز سامان، ډولونه او قوالان او نور اسباب د بدعتونو به تر سترګو شي او سربیره پر دې، چې د مسلمانانو د لارښود کیدو دعوه او د سنتو د پیروۍ لاپې وهي او ځینې د هغوی څخه د ښځو لباس اغوندي او په لاسونو نکریزې وهي او بنګړي په لاس کوي او د قرآن پر ځای پخپلو مجلسونو کې د شعرونو اوریدل خوښوي. دا داسې پخواني زنګونه دي چې په خیال کې نشي راتلای چې لیرې به شي که څه هم خدای تعالٰی به خپل قدرت ښکاره کړي او د اسلام به ملاتړ وي.

ښځو ته څه نصیحت

زمونږ په دې زمانه کې په ځینې ځانګړو بدعتونو کې ښځې هم اخته دي هغوی د نکاح تعدد یا (د نکاح د شمېر د زیاتوالي) مسئله په ډېر بد نظر ګوري ته به وایې چې پر هغې ایمان نه لري هغوی نه پوهیږي چې دخدای شریعت هر ډول علاج پخپل ځان کې لري، نو که چېرې په اسلام کې د زیاتو نکاحو مسئله نه وای، نو داسې صورتونه کوم چې د سړیو لپاره د دوهمې نکاح لپاره وړاندې راځي په دې شریعت کې به د هغه هېڅ درملنه نه وه د ببلګې په توګه، که ښځه لیونی شي یا د جذام په ناروغۍ اخته شي یا په کومه داسې بیماری کې اخته شي، چې د تل لپاره بیکاره کوي یا کوم بل داسې حالت وړاندې شي چې ښځه د رحم وړ وي، مګر بیکاره شي او سړی هم د رحم وړ چې په تجرد صبر ونشي کړای، نو په داسې صورت کې د سړي په قواوو دا ظلم دی چې هغه ته د دوهمې نکاح اجازه ورنکړل شي. په اصل کې د خدای شریعت په همدې امورو د نظر کولو سره د سړیو لپاره دا لاره پرانیستې پرې ایښې ده او د ناچاریو په وخت د ښځو لپاره هم لاره خلاصه ده، چې که سړی بېکاره شي، نو د حاکم په ذریعې د خلع واخلي چې د طلاق ځای ناستې ده. د خدای شریعت د درمل پلورونکي د درملتون په څېر دی، نو که درملتون داسې نه دی په کوم کې چې د هرې ناروغۍ لپاره درمل ترلاسه کیدلای شي، نو هغه درملتون نه شي چلیدلی، نو غور وکړئ چې آیا دا ربښتیا نه ده چې ځینې ستونځې د سړیو لپاره داسې پیدا کیږي، په کومو کې چې هغوی د دوهمې نکاح لپاره مجبور وي، هغه شریعت څه پکار په کوم کې چې د ټولو ستونزو درملنه نه وي. وګورئ په انجیل کې د طلاق د مسئلې په اړه یواځې د زنا شرط و او نور په سلګونو اسباب چې د ښځې او سړي په مینځ کې ځاني دښمني پیدا کوي د هغو هېڅ ذکر نه و د همدې امله عیسایي قوم دغه خامي ونشوه زغملی او آخر په امریکا کې یو د طلاق قانون یې په اړینه توګه تصویب کړ. فکر وکړئ چې د دې قانون څخه انجیل چیرته ولاړ؟ او ای ښځو! فکر مه کوئ کوم کتاب چې تاسوته درکړل شوی هغه د انجیل په شان د انساني تصرف اړمن نه دی، او په هغه کتاب کې چې د سړیو حقوق محفوظ دي د ښځو حقوق هم محفوظ دي که ښځه د سړي په زیاتو ودونو خفه ده، نو د حاکم په ذریعې خلع اخستی شي. د خدای دا فرض و کوم راز، راز حالتونه چې مسلمانان ورسره مخ کیدونکي وو پخپل شریعت کې یې د هغوی ذکر کړی دی ترڅو شریعت نیمګړی نه وي پاتې شوی . نو تاسو ای ښځو! د خپلو خاوندانو د هغو ارادو په وخت کې کله چې هغوی دوهمه نکاح کول غواړي له خدای تعالٰی ګیله مه کوئ بلکه تاسو دعا وکړئ چې خدای تاسو د کړاؤ او آزموینښت څخه خوندي وساتي. بې له شکه هغه سړی سخت ظالم او د حساب وړ دی څوک چې دوه

ښځي کوي او انصاف نه کوي، مګر تاسو خپله د خدای سرغړونې کولو سره د الهي قهر وړ مه ګرځئ هر یو به د خپل کار څخه وپوښتل شي. که تاسو د خدای په نظر کې نېک جوړ شئ ستا سو خاوند به هم نېک وګرځول شي که څه هم شریعت د مختلفو مصلحتونو په وجه د زیاتو ودونو اجازه کړې ده، لیکن د قضاء او قدر قانون ستاسو لپاره پرانېستی دی که د شریعت قانون ستاسو لپاره د زغملو وړ نه دی نو د دعاوو په ذرېعه د قضا او قدر (د الله د فیصلې او تقدیر) قانون څخه ګټه پورته کړئ، ځکه چې د قضاء او قدر قانون د شریعت په قانون هم غالب راځي. تقوای اختیار کړئ د دنیا او دهغې د ښکلا سره ډېر زړه مه لګوئ. قومي فخر مه کوئ، په کومې ښځې باندې خندا او تمسخر مه کوئ د خاوندانو څخه داسې غوښتنې مه کوئ چې د هغوی وس څخه بهر وي. کوښښ وکړئ چې ترڅو تاسو د معصومیت او پاک لمنې په حالت کې قبرونو ته داخلې شئ. د خدای فرض لمونځ، زکواة، او نورو کې سستي مه کوئ د خپلو خاوندانو د زړه او ځان سره مطیع او منونکي اوسئ ډېره برخه د هغوی د عزت ستاسو په لاس کې دی، نو تاسو خپله دغه دنده دومره په ښه توګه ترسره کړئ، چې د خدای په نزد په صالحاتو قانتاتو کې وشمېرل شئ. اسراف مه کوئ د خاوندانو مالونه بې ځایه مه مصرفوئ، خیانت مه کوئ، غلا مه کوئ، ګله مه کوئ یوه ښځه په بلې ښځې یا سړي باندې تور، ونه لګوي.



دا ټول نصیحتونه کوم چې مونږ لیکلي دي د دې موخې لپاره دي، چې ترڅو زمونږ جماعت د خدای په وېره کې پر مختګ وکړي او ترڅو هغوی د دې وړ وګرځي، چې کوم د خدای غضب چې پر ځمکه جوش وهي هغوی ته و نه رسیږي، او تر څو چې د طاعون په ورځو کې هغوی په ځانګړې توګه وژغورل شي. رېښتینې تقوای (آه ډېره کمه ده رېښتینې تقوای) خدای راضي کوي او خدای نه په معمولي توګه بلکه د نشان په توګه متقي د بلا څخه ژغوري. هر یو مکار یا ناپوه د متقي کېدو دعوای کوي، مګر متقي هغه دی چې د خدای د نشان سره متقي ثابت شي. هر یو ویلی شي چې زه د خدای سره مینه کوم، مګر د خدای سره مینه هغه کوي، د چا چې مینه په آسماني ګواهۍ سره ثابته شي. او هر یو وایي چې زما مذهب رېښتینی دی، مګر رېښتینی مذهب د هغه چا دی، چاته چې په همدې دنیا کې نور تر لاسه کیږي. هر یو وایي چې زه به وژغورل شم، مګر په دې خبره کې رېښتینی هغه څوک دی چې په همدې نړۍ د ژغورنې انوار ګوري. نو تاسې کوښښ وکړئ چې د خدای مینه کوونکي شئ. ترڅو تاسو د هر آفت څخه وژغورل شئ کامل متقي به د طاعون څخه وژغورل شي، ځکه چې هغه د

خداى په پناه کې دى، نو تاسو کامل متقي وګرځئ کوم څه چې خداى د طاعون په هکله وفرمايل تاسو اوريدلي دي هغه يو د غضب اور دى، نو تاسو خپل ځانونه د هغه اور څخه وژغورئ. کوم کس چې زما په ربښتيني توګه پيروي کوي او کوم خيانت په هغې کې نشته، نه سستي او غفلت دى او نه د نيکۍ سره بدي يوځاى ساتي هغه به وساتل شي. ليکن هغه چې په دې لاره کې په سست ګام سره ځي او د تقواى په لارو کې په بشپړه توګه ګام نه ږدي په دنيا ورلوېدلى دى هغه خپل ځان په ازموينه کې اچوي. د هر اړخه د خداى اطاعت وکړئ او هر يو شخص چې خپل ځان په بيعت کوونکو کې داخل ګڼي د هغه د پاره اوس وخت دى چې د خپل مال سره هم د دې سلسلې خدمت وکړي. کوم څوک چې د يوې پيسې توان لري هغه د سلسلې د لګښتونو لپاره مياشت په مياشت يوه پيسه ورکړي او کوم څوک چې يوه روپۍ مياشتنۍ ورکولى شي هغه د يوه روپۍ مياشتنۍ ادا کړي، ځکه چې پرته له لنګرخانې د لګښتونو دينې کړنې هم ډېر لګښت غواړي. په سلګونو ميلمانه راځي ليکن تر اوسه د ځاى د نشتوالي له امله د ميلمنو لپاره لکه څرنګه چې پکار دي هوسايه ځاى ميسر نه دى. د کټونو انتظام نشته، د جومات د پراختيا اړتيا هم راوړاندې ده د تأليف او خپرولو لړۍ د مخالفينو په مقابل کې ډېره کمزورې ده. د عيسايانو له لورې چې چيرته پنځوس زره رسالې او مذهبي پرچې وځي زمونږ له طرفه په ژمنتيا سره يو زر هم مياشت په مياشت نشي وتلى. همدا چارې دي چې هر يو بيعت کوونکي ته د توان مطابق مرسته کول پکار دي ترڅو خداى هم د هغوى مرسته وکړي. که چېرې پرته له دمې، مياشت په مياشت د هغوى مرسته ورسيږي که څه هم لږه مرسته وي، نو هغه د هغې مرستې څخه غوره ده چې تر مودې پورې هيره کړل شي بيا کوم وخت پخپل فکر سره کيږي.

د هر يو کس صدق د هغه د خدمت څخه پېژندل کيږي. ګرانو! دا د دين لپاره او د دين د موخو د خدمت وخت دى دغه وخت غنيمت وګڼئ بيا به کله لاس ته درنشي پکار دي، چې زکات ورکوونکى همدلته خپل زکات راوليږي او هر يو کس د بې ځايه کړنو څخه خپل ځان وساتي او په دې لار کې هغه روپۍ ولګوي او په هر حال صدق وښيي، ترڅو فضل او د روح القدس انعام تر لاسه کړي، ځکه چې دا انعام د هغو خلکو لپاره چمتو دى، څوک چې په دې لړۍ کې داخل شوي دي. زمونږ پر نبي صلى الله عليه وسلم باندې چې د روح القدس کومه تجلي شوې وه هغه تر هرې بلې تجلۍ زياته ده. روح القدس کله په کوم نبي د کوترې په شکل ظاهر شو او کله به کوم نبي او يا اوتار باندې د غوا په بڼې ښکاره شو او پر چا د څه يا څه په بڼه ښکاره شو او دانسان د بڼې وخت رانغلو ترڅو چې کامل انسان يعنې زمونږ نبي صلى الله عليه و سلم مبعوث نه شو. کله چې حضور صلى الله عليه وسلم مبعوث شو نو روح القدس هم کامل انسان کېدو په وجه د انسان په شکل ظاهر شو او ځکه چې د روح القدس قوي تجلي وه کومې چې د ځمکې څخه تر آسمان افق ډک کړى و. د همدې لپاره قرآني تعليم له شرک څخه خوندي پاتې شو ليکن ځکه چې د عيسوي مذهب پرلارښود روح القدس په ډېر يو کمزورې بڼه ښکاره شو يعنې د کوترې په بڼه باندې د همدې له امله ناپاک روح يعنې شيطان په دې مذهب فتحه تر لاسه کړه او هغه خپل عظمت او قوت په دې اندازه وښود چې د يو عظيم الشان ښامار په شان يلغرګر شو. همدا وجه ده چې قرآن شريف د عيسايانو ضلالت د دنيا د ټولو ضلالتونو څخه په لومړى درجه کې ګڼلى او ويې فرمايل چې نږدې دى چې آسمان او ځمکه چاود شي او ټوټې، ټوټې شي چې پر ځمکه يوه لويه ګناه وشوه چې انسان يې خداى او دخداى زوى وګرځاوه او د قرآن په اول کې هم د عيسايانو رد او دهغوى ذکر دى، لکه څرنګه چې آيت: اِيَّاکَ نَعْبُدُ او وَلَا الضَّآلِّيْنَ څخه په ډاګه کيږي او د قرآن په آخر کې هم د عيسايانو رد دى، لکه څرنګه چې قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ اللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (اخلاص ٢ تر ۴) څخه په ډاګه کيږي

او د قرآن په وسط کې هم د عیسایي مذهب د فتنې ذکر دی، لکه چې آیت تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ (مریم: ۹۱) څخه معلومیږي او د قرآن څخه ښکاره ده، له کله چې نړۍ پیدا شوې د مخلوق پرستۍ او د دجل لارو ته داسې زور هېڅ وخت نه دی ورکړل شوی. د همدې له امله مباهلې ته هم عیسایان را بلل شوي وو نه کوم بل مشرک. او دا چې روح القدس د دې څخه وړاندې الوتونکو یا حیواناتو په بڼه کې ظاهرېدو په دې کې څه راز وه پوهیدونکی دې خپله پوه شي. او دومره مونږ وایو چې دا د دې خبرې لور ته اشاره وه چې زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم انسانیت دومره زبردست دی چې روح القدس یې هم د انسانیت لور ته راکاږلو، نو تاسو د داسې غوره شوی نبي د تابع کېدو با وجود ولې همت له لاسه ورکوئ خپلې هغه بیلګې وښایاست چې پرښتې هم په آسمان کې ستاسو د صدق او صفا څخه حیرانې شي او پر تاسو درود ولیږي. تاسو یو مرګ اختیار کړئ ترڅو تاسو ته ژوند تر لاسه شي او تاسې د نفساني جوشونو څخه خپل ځان خالي کړئ، ترڅو خدای په هغه کې نازل شي د یو لور څخه په پخه توګه اړیکه پرې کړئ او یو لور سره بشپړه اړیکه پیدا کړئ، خدای د ستاسو مرسته وکړي. اوس زه پای ته رسوم او دعا کوم چې دغه زما تعلیم ستاسو لپاره ګټور وي او په تاسو کې داسې بدلون پیدا شي چې تاسو د ځمکې ستوري ورګرځئ او ځمکه د هغه نور څخه روښانه شي چې ستاسو د رب څخه تاسو ته ترلاسه شي . آمین ثم آمین .

يَا عِبَادَ اللهِ أُذَكِّرُكُمْ اَيَّامَ اللهِ وَ أُذَكِّرُكُمْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ. إِنَّهُ مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ.(سوره طه: ۷۵)

فَلَا تُخْلِدُوْا اِلَى زِيْنَةِ الدُّنْيَا وَ زُوْرِهَا وَاتَّقُوا اللهَ. وَٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ (البقره: ٤٦)

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا (الاحزاب: ٥٧) اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ وَبَارِك وَسلِّمْ.

په نظم کې د طاعون په اړه وړاندوينه

نشان اگر چه نه در اختیار کس بودست مگر نشان بدهم از نشان ز دادارم

که څه هم نشان د چا په اختیار کې نه دی لیکن زه د خپل خدای څخه نشان ښایم

که آن سعید ز طاعون نجات خواهد یافت که جست و جست پناهی بچار دیوارم

چې هغه نیکمرغه به د طاعون څخه وژغورل شي، چې زما کورته پناه راوړله

مرا قسم به خداوند خویش و عظمت او که هست این همه از وحی پاک گفتارم

زما په خپل خدای او د هغې په لویوالي قسم دی چې زه چې څه وایم د خدای د وحي څخه دي

چه حاجت است به بحث دگر همین کافیست برای آنکه سیه شد دلش ز انکارم

بحث ته څه اړتیا ده همدا بسنه کوي د چا لپاره چې زما له نه منلو یې زړه تور شو

اگر دروغ برآید هر آن چه وعدهٔ من رواست گر همه خیزند بهر پیکارم

که هر څه چې زما ژمنه ده دروغ ووتل نو دټولو لپاره روا ده چې زما په خلاف پاڅېږي

د کور د توسیع لپاره د چندې درخواست

ځکه چې په راتلونکي کې د دې خبرې سخته اندیښنه ده چې طاعون به ملک کې خپور شي او زمونږ په کور کې کوم چې په ځینو برخو کې سړي میلمانه هم اوسي او په ځینو برخو کې ښځې ، سخته تنګي را منځته شوې ده او تاسو اوریدلي دي چې الله جل شانه د هغو خلکو لپاره، څوک چې د دې کور د څلورو دیوالونو د ننه وي د ځانګړې ساتنې وعده فرمایلې ده. او اوس هغه کور چې د متوفّی غلام حیدر و، په کوم کې چې زمونږ برخه ده د هغه په اړه زمونږ شریکان راضي شوي دي، چې زمونږ برخه راکړي او په بیه پاتې برخه هم راکړي . زما په اند دغه حویلی، چې زمونږ د حویلۍ یوه برخه کیدای شي تر دوو زرو پورې چمتو کیدای شي . ځکه چې خطر دی چې د طاعون زمانه را نږدې ده او دغه کور د الهي وحي د زیري له مخې د طاعون په دې طوفان کې به د بیړۍ په توګه وي. معلوم نه دی چې چا چا ته به ددې زیري د وعدې څخه برخه ورکول کیږي، نو له همدی امله کار د ډېرې بیړې دی.

پر خدای باور کولو سره چې خالق او رازق دی او صالحه اعمال ګوري زیار ویستل پکار دي. ما هم لیدلي چې دغه زمونږه کور د بیړۍ په توګه، خو دی مګر په راتلونکي کې په دې بیړۍ کې نه د کوم سړي د ځایېدلو ځای شته نه د ښځې د همدې له امله د توسیع اړتیا پیښه شوه.

والسلام علٰی من اتبع الهدٰی

خپروونکی

مرزا غلام احمد قادیاني